Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون



خوشال
په خپل
ایډیال

محمد اسمعیل یون

۱۳۸۷ ل

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشال په خپل ایډیال

(د ماسترۍ دورې لیکنې)

محمد اسمعیل یون

۱۳۸۷ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

کتاب پېژندنه

کتاب نوم:	خوشال په خپل ایډیال
لیکوال:	محمد اسمعیل یون
خپرندوی:	یون کلتوري یون
چاپکال:	۱۳۸۷ل
چاپشمېر:	۱۰۰۰ ټوکه
د لیکوال پرله پسې نومره:	(۲۶)
د خپرندوی پرله پسې نومره:	(۲۶)
کمپوزر:	ضیاالرحمن ضیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولیک

ګڼه	سرلیک	مخ
۱	پر دې اثر څو خبرې	الف
۲	د ماسترۍ دورې دا لیکنې	۱
۲	د خوشال یو تصوفي شعر	۶
۳	تاریخچه سبکهای اشعار پشتو	۱۳
۴	د تذکرة الاولیا ځانګړتیا او لرغونیتا	۴۲
۵	د شیخ میانور او خوشال ترمنځ دیني...	۵۳
۶	ښه حاکم او د ښه حاکم په هیله	۶۵
۷	پښتو لرغونو ادبیاتو کې شعري فورمونه	۷۱
۸	د استاد روهي له نظره د خوشال...	۸۸
۹	شاهنامه احمدشاه ابدالي	۹۶
۱۰	په لغمان کې د شولو کر	۱۱۶
۱۱	پټه خزانه تر عظیم الشان قرآن وروسته	۱۲۹
۱۲	د ځانځاني ښامار سفر	۱۴۹
۱۳	د خوشال د قصایدو روح	۱۶۷
۱۴	د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه	۱۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر دې اثر څو خبرې

زموږ په ځوانو فرهنګیانو او د کابل پوهنتون په استادانو کې ښاغلی یون داسې ځوان دی، چې فرهنګ ته خدمت یې خپل اصلي کار بللی دی. دی لا د پوهنتون محصل و چې پر شاعرۍ سربېره یې لیکنې کولې، کتابونه یې چاپول او په فرهنګي چارو کې یې برخه درلوده. زما نه یاد دي چې کله په ۱۳۶۹هـ ش کال په کابل کې د یو شمېر خواخوږو فرهنګیانو له خوا د خوشال فرهنګي ټولنه جوړه شوه، ښاغلي یون د خپل استعداد او همت په وجه د خوشال فرهنګي ټولنې د رهبري هئیت کې د یوه ځوان غړي په توګه خپل موقف تثبیت کړ.

ښاغلي یون ډېر کتابونه او ډېرې مقالې لیکلې دي، د ځینو خپرونو چلوونکی پاتې شوی دی، لنډه دا چې د خپل عمر زیاته برخه یې د فرهنګ خدمت کړی دی. دده ډېر ښه عادت دی چې خپلې لیکنې په خپل لاس چاپوي او خپلو خلکو ته یې وړاندې کوي، ستاسو په لاسو کې دا کتاب د ښاغلي یون د ماسترۍ په دورې پورې مربوطې هغه مقالې دي، چې یې د بېلابېلو مضامینو د کورني کار په توګه یې تهیه کړې دي.

ده اوس دا مقالې راټولې کړي او د دې کتاب له لارې یې خپلو هېوادوالو ته وړاندې کوي. ښاغلی یون دې خیر یوسي چې دا مقالې یې ساتلې دي، که نه وي د کورني کار لپاره لیکلې مقالې څوک نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتي، یا دا چې په لیکلو یې محضې وار تېر کړی وي او کله هم دا وړ لیکنې د مربوطه مضمون له استاد سره پاتېږي.

ښاغلی یون، لکه خپلې نورې مقالې پر دې مقالو هم زیار ایستلی دی او د مجموعې په توګه یې د چاپ لپاره بیا کتلي دي او دا دی اوس چاپېږي، چې زموږ نور فرهنګیان او فرهنګي کړۍ ترې استفاده وکړي.

زه ښاغلي یون ته د دې مجموعې د تهیې او چاپ مبارکي وایم او فرهنګ ته د خدمت په لاره کې یې زیات بری غواړم.

په درناوي
سرمحقق زلمی هېوادمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه:

د ماسټرۍ دورې دا لیکنې

تر یوه اوږد ځنډ وروسته پر (۱۳۸۵) لمریز کال د ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل، استاد مکمل الکوزي او یو شمېر نورو خواخوږو استادانو په هلو ځلو په کابل پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو اودري څانګو کې یو ځل بیا د ماسټرۍ کورسونه پیل شول. د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي او د یو شمېر نورو همسلکو پوهنځیو ځینو فارغانو په دې پروګرام کې ځانونه شامل کړل. موږ د ماسټرۍ ددې دورې لومړي فارغان وو، دوه کاله مو په منظم ډول د ماسټرۍ دوره تعقیب کړه او تر څلورو سمسټرونو منظم تدریس وروسته دا پړاو سرته ورسېد او شپږ میاشتې موده نوره د تېزس لیکلو لپاره ځانګړې شوه، په مجموعې ډول دې دورې دوه نیم کاله دوام وکړ. دماسټرۍ دورې د تدریس په بهیر کې قدرمنو استادانو پر تدریس سر بېره د بېلابېلو ادبي موضوعګانو د څېړنې دندې هم را وسپارلې، چې ځینې یې د لنډو ارزونو، ځینو یې د څېړنیزو او ځینو نورو یې د تحلیلي لیکنو غوښتنه کوله. ما هم په دې بهیر کې د بېلابېلو راسپارل شویو موضوعګانو په هکله لیکنې وکړې او اړوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد ته مې د کتنې لپاره وروسپارلې ، په دې بهیر کې ځینې لیکنې داسې وې، چې په لاس لیکل شوې وې، یوازې یوه کاپي وه، چې هغه اړوند استاد ته سپارل کېدله، په دې ترځ کې یو څو داسې لیکنې وې چې کاپي کولو ته یې وخت پیدا نه شو ، خو ځینې لیکنې چې په کمپیوټر لیکل شوې وې، یوه کاپي ترې استاد ته ورکړل شوه او اصل متن یې هم خوندي پاتې شو ، سره له دې چې استادانو تر کتنې وروسته موږ ته بېرته خپلې لیکنې راکولې، خو په دې بهیر کې ځینې لیکنې بېرته زموږ له لاسه وتي او ورکې شوي دي. په دې شپو ورځو کې چې زه د خپلو تېرو کارونو پر اوډون او بیا کتنه بوخت یم، نو د ماسترۍ دورې پر لیکنو مې هم سترګې ولګېدې.هغه لیکنې چې په کمپیوټر کې خوندي وې او ځینې یې په رسنیو کې هم چاپ شوې وې، هغه مې بیا له سره وکتلې او منظمې مې کړې، خو په دې ترځ کې پنځه شپږ عنوانه داسې لیکنې وې، چې ما دماسترۍ دورې په بهیر کې پر بېلابېلو مسایلو لیکلې وې، خو د هغو په تر لاسه کولو بریالی نه شوم، سره له دې چې ما دخپلو لیکنو د خوندیتوب لپاره له پخوا نه پلان درلود ، خو دا لیکنې چې مې هر څومره په خپل کتابتون کې ولټولې پیدا مې نه کړې، سره له دې چې ددې لیکنو د ځینو کاپۍ مې خوندي کړې هم وې،لکه لیک د خوشال له نظره، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو ګرامر په اړه یوه لیکنه، د استاد الفت د یوه هنري نثر ارزونه او ځینې نورې لیکنې. له دې پورته خبرو څخه مې هدف دا و، زموږ ځوان لیکوال باید هڅه وکړي، چې تر دې وروسته د خپلو علمي، څېړنیزو او نورو هغو لیکنو چې پر بیا چاپ او خوندیتوب ارزي، ضرور د هغو یوه یوه یا دوه کاپۍ له ځان سره خوندي کړي او که په رسنیو کې چاپ شوي هم وي، باید چاپي او ناچاپي یوه یادوه کاپۍ ولري، کله که دی او یا هم نور څوک وغواړي دده د بېلابېلو لیکنو ټولګه یا ټولګې چاپ کړي، نو له ستونزو او کړاوونو سره به مخامخ نه شي. عمر ډېر لنډ، تنګ او مصروف دی، زموږ راتلونکی نسل به تر موږ څو ځله زیات بوخت وي او وخت به هغوی ته رښتیا هم د سرو زرو ارزښت ولري، نو که زموږ هر لیکوال خپله ټوله پانګه خوندي نه کړي، نو له راتلونکي پښت څخه دې هم دا هیله نه کوي او نه دې راتلونکي پښت، د ماضي پر کارونو مصروفوي. پښتنو ته بلا ډېر کار پروت دی، که زموږ راتلونکی نسل پر ماضي مصروف شي، نو دهغوی خپل کارونه به څوک سرته ورسوي؟ زه د یوه شعوري افغان په توګه نه غواړم د خپل کړي کار بار راتلونکي نسل ته پرېږدم، څه مې

کړي؟ ښه دي که خراب؟ نیمګړي دي که پوره؟ کره دي او که

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناکره؟ خپله یې باید راټول کړم او د خپل کار ثمر په خپله راتلونکي پښت ته وړاندې کړم، که زما د کار او نظر له یوې برخې هم زما خپل هېواد او هېوادوالو ته ګټه ورسي، نو دا به زما لپاره د ژوند په پاتې ورځو شپو کې د روحي ارامۍ سبب شي او که تر ژوندانه وروسته راته د خپل ملت افراد د دعا لاسونه پورته کړي، نو لوی څښتن به مې پر ګناهونو پرده وغوړوي او د ابدي نېکمرغۍ لاره به راته پرانیزي. دالیکنې زما دماسترۍ دورې د هغو لیکنو یوه ټولګه ده، چې د تدریس پر مهال د کورنیو دندو په توګه موږ ته استادانو راسپارلې وې. پوره باور دی چې که د ماسترۍ دا دوره نه وای او یا هم د استادانو د زیار، زحمت او سپارښتنو او غوښتنو ټینګار نه وای، نو پوره یقین دی چې نه به دا لیکنې وې او نه به دا ټولګه. نو دلته ضروري ګڼم چې له قدرمنو استادانو: سرمحقق زلمي هېوادمل، پوهاند ډاکټر زېورالدین زېور، پوهنواله ډاکټره زرغونه زیور ربښتین، استاد حبیب الله جاج پښتونزوی، قدرمن استاد اورمړ، استاد سعدالدین شپون، استاد اڅک، استاد اسدالله غضنفر، هندي استاد شاستری محمد حنیف اونورو هغو قدرمنو استادانو چې په مستقیم او نامستقم ډول یې زه ددې لیکنو د لیکنې جوګه کړی یم، مننه وکړم او کور ودانۍ ورته ووایم. د ماسترۍ دورې له نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

فارغانو څخه مې هم دمننې تر څنګ دا هیله ده چې د خپلې دې دورې لیکنې سره منظمې او خوندي کړي، په دې ډول به مو د پښتو ادب د خدمت په لار کې یو ګام پورته کړی وي.

دا اثر مې ځکه د ((خوشال په خپل ایډیال)) په نامه ونوموه چې اکثره لیکنې په کې د خوشال بابا په باب دي، بل کوم معیارونه چې بابا د خپل یو ایډیال شخص (سړي) لپاره ټاکلي، تر ډېره بریده دی په خپله پر همغو معیارونو برابر او پوره دی، یانې د خوشال ایډیال خپله خوشال دی او کېدی شي محمدګل خان مومند او ځینې نور پښتانه مشران هم د خوشال د ایډیال شخص معیارونه پوره کړي.

خپلې ملي ژبې، ملي ادب او خپل ملت ته د ډېرو خدمتونو په هیله

په درنښت

محمد اسمعیل یون

ارګ، د جمهوري ریاست ودانۍ، کابل- افغانستان

۱۳۸۷ل کال د مرغومي ۱۲مه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوشال يو تصوفي شعر

خوشال بابا يو اړخيز شخصيت دى، خو د خوشال ځو اړخيز شخصيت لا په هر اړخيز ډول څېړل شوى او شنل شوى نه دى. تر اوسه پورې د بېلابېلو كورنيو او بهرنيو خوشال پېژندونكو له خوا د خوشال په باب په لسګونو مستقل او په زرګونو عنوانه متفرقه ليكنې چاپ شوي دي، خو بيا هم د خوشال شخصيت نورې څېړنې او شننې ته اړتيا لري. خوشال يو شاعر و، ليكوال و، تاريخپوه او تبر پوه و، طبيب او رنځپوه و، جګړن او تورزن و، فلسفي و، ښكاري و، اروا پوه و، سياستوال او سياستپوه و او د كامل مومند په اصطلاح "لنډه دا چې څه نه و چې دى نه و "يانې هر څه و، خو تر اوسه پورې لا د خوشال د شخصيت ډېر اړخونه ناڅېړلي او ناشنلي پاتې دي. د خوشال د شخصيت له دې ناڅېړلو اړخونو څخه يو هم د خوشال د شخصيت (تصوفي) اړخ دى. كه څه هم يو شمېر پخو ليكوالو لكه دوست محمد خان كامل مومند، سيد رسول رسا، امير حمزه شينواري، سرمحقق زلمي هېوادمل او محمد آصف صميم د خوشال د شخصيت دې اړخ ته هم نغوتې او اشاري كړي، خو لكه څنګه چې د خوشال د شخصيت د رزم او بزم خوا څېړل شوې، دا خوا هغومره نه ده څېړل شوې. حمزه بابا د خوشال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابا د یوه تصوفي شعر پر یوه بیت: ((په هر څه کې ننداره د هغه مخ کړم — چې له ډېرې پیدایۍ ناپدید شو)) ، یوه ځانګړې رساله لیکلې ده او دا شعر یې د وحدة الوجود او وحدة الشهود د فلسفې په رڼا کې څېړلی دی. خوشال بابا او حمزه بابا په تصوف کې د یوې ځانګړې طریقې خاوندان وو، نو ځکه خو حمزه بابا ته د خوشال دې شعر د مانا له پلوه ډېر ارزښت درلود ، نو ځکه یې دا بیت په هر اړخیزډول څېړلی دی. تصوف او عرفان په حقیقت کې د خوشال د شاعرۍ یوه ځانګړې او اساسي برخه ده ، چې د هغې د بېلابېلو خواوو له څېړنې او شننې څخه موږ ته یو متقي ، زاهد ، پرهېزګار او صوفي خوشال راڅرګندېږي. د خوشال زیاتره تصوفي او عرفاني افکار د هغه رباعیاتو او څلوریزو کې خوندي شوي او بیا دې عرفاني رڼا غزلو ، قصیدو او د خوشال نورو شعرونو ته هم لاره کړې ده. د خوشال په نږدې (زرو غزلو) کې داسې غزلې هم شته ، چې ټولې تصوفي او عرفاني رنګ لري او داسې غزلې هم شته ، چې یو یا څو بیتونه یې تصوفي رنګ او خوند لري او نور بیتونه یې د ژوندانه نورو خواو ته وقف شوي دي. همدا عملیه پر ځینو قصیدو او د شعر پر نورو فورمونو هم تطبیقېږي. د غزل یوه ځانګړنه همدا ده ، چې د یو ټولیز او کلي ارتباط د ساتنې او پالنې ترڅنګ یې هر بیت یوه خپلواکه مانا هم لري. د خوشال بابا اکثره غزلې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې امتياز څخه پوره برخمنې دي. که څوک غواړي د خوشال بابا د تصوفي او عرفاني افکارو څېړنه وکړي، نو يوه کتاب نه، بلکې د کتابونو ليکنې ته اړتيا ده او که څوک غواړي د خوشال له کلياتو څخه د هغه د تصوفي افکارو پر بنسټ د هغه شعرونه رابېل کړي، نو بيا به هم پام وړ شعرونه شي او که بيا يوازې د خوشال دې تصوفي افکارو ته ښه ځير شي، نو داسې فکر به وکړي، چې خوشال ګڼې له تصوف پرته هډو بل کار نه دی کړی. دغسې که موږ د خوشال د شخصيت هر اړخ مطالعه کوو، نو له يوه بېل او ځانګړي خوشال سره به مخامخ شو. دلته به د خوشال د تصوفي افکارو د ځلا په خاطر د خوشال هغه غزل راوړو، چې دده کليات پرې پيلېږي او پوره تصوفي او عرفاني مانا او رنګ لري:

صورتګر چې ښه صورت په د ېوال ساز کا
کل عالم يې په صفت زبان دراز کا
د هغه نقاش په صنع نظر نه کا
چې له څه څاځکي نه دا نقش و طراز کا
سترګې، وروځې، پوزه نور کېږدي په مخ کې
غاښ و شونډې، ژبه، خوله سره پرداز کا
يو سر بل سر په سر جوړ کا دوه غوږونه
چې په دواړو اورېدنه د اواز کا

(c) ketabton.com: The Digital Library

بند په بند د لاسو ګوتې وبله کېږدي
سر تر پایه درست صورت سره یو راز کا
که څوک زر کتابه وکښي له دې بابه
که په کښل شي زر به نور پسې اغاز کا
هر و ېښته چې په صورت باندې لیده شي
که پرې ځیر شې د شناخت ور به درته واز کا
خاص بنده د خدای هغه ګڼه خوشاله!
چې د ځان په معرفت یې سرفراز کا.

بابا ددې غزل په لومړي بیت کې د لوی خالق د قدرت علایمو ته اشاره کوي او وایي یو عادي انځورګر یا رسام، چې یوه تابلو یا انځور رسم کړي او هغه بیا چېرته په کوم دېوال یا ننداړتون کې کېږدي او خلک یې ننداړې ته راشي، نو ټول یې توصیف او ستاینه کوي. د رسام یو ښکلی انځور په ډېرو لفظي ستاینو او مالي قیمت ارزوي، نو کله چې د یو عادي انځور خالق یا انځورګر په دومره ستاینو او قیمت ارزي، هغه لوی ذات چې ددې انځور، د انځورګر خالق او انځورګر دی، هغه به په څومره ستاینو او نمانځنو وارزي؟ خوشال بابا وایي: خلک د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

صانع، صفت او تخلیق ته متوجه نه دي، چې له یوه ښاغلي ښخه یې په ښه نقش او طراز باندې انسان یا همدا انځورګر، چې یو عادي انځور یې جوړ کړی، تخلیق کړی دی. انځورګر له بېلابېلو رنګونو او نورو توکو ښخه په ډېر زحمت او دقت ګټه پورته کوي او تر یوه کړاو وروسته یو انځور جوړوي، خو لوی ښښتن تعالی په خپل حکمت له یوه ښاغلي ښخه داسې یو انځور یا انځورګر جوړوي، چې هغه بیا د نورو انځورونو د جوړونې وړتیا لري. په داسې حال کې چې د عادي انځورګر، انځور د بل انځور د جوړونې قابلیت نه لري او یو جامد موجود ګڼل کېږي، خو د لوی خدای(ج) ذات د انځور جوړونې قابلیت بیا دا دی، چې په همدې یوه ښاغلي، خپل انځور ته سترګې، وروښې، پوزه، غاښ، شونډې، ژبه، خوله او نور سره پرداز کړي، چې په دې سره خپل انځور د خبرو، لیدو او ګرېدا وړ کړي، غوږونه ورته کېږدي، چې د اورېدو وړتیا پیدا کړي، لاسونه او پښې ورته ورکړي، چې د تحرک او کار قابلیت پیدا کړي. لنډه دا چې په دې یوه ښاغلي د خپل انځور ټوله ښکلا او ضرورتونه پوره کړي. خوشال بابا وایي: که د لوی خالق د دې انځور یا مخلوق د ښکلا او جوړښت په باب هر ښومره بحث او خبرې اترې وشي، کتاب او کتابونه ولیکل شي او ان په زرګونو کتابونه، نو بیا به هم په دې انځور کې د لوی خدای(ج) د قدرت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو عجايبو تفصيل ورنه کړای شو. خوشال بابا د خدای(ج) ددې انځور يوازې يوه وېښته ته اشاره کوي او وايي: که يوازې پر همدې يوه وېښته تحقيق او پلټنه وشي، نو د خپل رب پېژندنې ور به درته ببرته کړي. د انسان په وجود کې د وېښتو د شتوالي پر ضرورت او اهميت عادي وګړي نه پوهېږي، خو کله چې له طبيبانو پوښتنه وشي، نو بيا به سړی پر خپل بدن د وېښتانو پر ګټې او ارزښت پوه شي. رنځپوهان يا طبيبان وايي: د انسان پر وجود چې هر څومره وېښتان دي، هر وېښته يو ځانګړی سوری لري، چې د انسان د بدن دننني او بهرنی دفاعي سستم تنظيموي، ياني د انسان د وجود اړينه هوا بدن ته داخلوي او کله چې پر انسان د ګرمۍ او نورو عواملو له امله فشا راځي او خوله توليدوي، دا خوله د همدې وېښتانو له لارې له بدن څخه خارجېږي. په دې ډول وېښتان د بدن د تبخير په چارو کې مهم رول ادا کوي. دغه راز د انسان د بويونې په سستم کې وېښتان د هوا په پاکولو کې ډېره مرسته کوي. خوشال د يوه صوفي او طبيب په توګه د خدای د پېژندنې لپاره دا يو وېښته د ساري په توګه يادوي او که همدا يوه وېښته ته هم متوجه شو، نو د خدای د حکمت او قدرت پر رازونو به پوه شو. خوشال بابا هغه انسان نېکمرغه ګڼي، چې خدای ج ورته ددې وس او توان ورکړی، چې د لوی خدای(ج) د قدرت په باب فکر وکړي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشال د خدای د پېژندنې راز په دې کې ګڼي، چې انسان د خپل ځان په باب فکر وکړي، زه څوک یم، څنګه جوړ شوی یم؟ او چا جوړ کړی یم.؟ خوشال بابا وایي لکه څنګه چې یو (انځور) خپل (انځورګر) لري او پرته له هغه، انځور هډو جوړېدی نه شي، د غسې انسان (مخلوق) هم یو (خالق) لري، چې د هغه له قدرت او حکمت پرته دی اصلاً راتوکېدی نه شي، نو په دې خاطر چې موږ خپل خالق وپېژنو، د خپل ځان په باب باید فکر وکړو او په ځان کې د لوی رب د قدرت او حکمت نښې نښانې کشف کړو. هغه نښې نښانې چې هره یوه یې د یو خاص هدف لپاره ګومارل شوې او مشخصه دنده ترسره کوي، نو کله چې موږ د لوی رب د قدرت په دې رازونو پوه شو، نو بیا چې د یو عادي انځور لپاره د یو عادي انځورګر ستاینه کوو، نو بیا خو لازمه ده، چې شپه او ورځ د هغه حقیقي او اصلي انځورګر (لوی رب) ستاینه وکړو، چې د (انسان) په شان انځور یا صنع یې رامنځته کړی دی او همدغه کسان بیا د خدای(ج) نېکمرغه کسان دي، چې پر همدې تفکر، نمانځنه او ستاینه بوخت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((تاریخچه سبکهای اشعار پشتو))

د تحقیق د اصولو له نظره

((تاریخچه سبکهای اشعار پشتو)) (د پشګتو شعرونو د سبکونو تاریخچه) د پوهاند عبدالحی حبیبي یوه تحقیقي او تحلیلي رساله ده، چیګ د کابل کالنة د ۱۳۱۹ل کال په (۱۲۱-۲۲۸) مخونو کیګ چاپ شویګ ده.

زه په خپله دیګ لیکنه کیګ، لومؤی غواؤم، د دیګ لیکنیګ غتګ محتویات معرفي کؤم او وبه ګګورو چیګ استاد خپله لیکنه پر خګو برخو ویګشلیګ او کوم غتګ مسایل ییګ په کیګ خګیګؤلي دي؟ تر هغه وروسته بیا غواؤم پر دیګ وغإیګإم چیګ د استاد د دیګ لیکنیګ ویګش د تحقیق د اوسنیو اصولو له مخیګ خګومره ژور دی او د تحقیق کوم اصول پریګ اوس د تطبیق وؤ دي؟ او یا هم د (۲۷) کلونو پخوانة لیکنه د تحقیق له اوسنیو معیارونو سره خګومره په تول تلليګ ده؟ مخکیګ تر دیګ چیګ زه خپلیګ خبریګ وکؤم، شګه به وي چیګ د اصلي لیکنیګ غتګ تګکي بیان کؤم او بیا د هغو په رنګا کیګ د تحقیق د اوسنیو اصولو فرضیه وؤاندیګ کؤم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد حبيبي مخکيګ تر ديګ چيګ خپليګ اصلي تجزييګ او تحليل ته راشي، لومؤی ييګ د سبک د پيدا ايشګت فلسفه بيان کؤيګ او په لنأيز سره ييګ د تاريخ په مختلفو دورو کيګ د شعر د شکلي او مانيز تغير او تحول علتونه بيان کؤي او په خپله د سبک تعريف ييګ کؤی دی.

استاد په پيل يا سريزه کيګ د خپليګ ديګ ليکنيګ علت په کګوته کوي او وايي: "په ديګ مضمون کيګ غواؤم د ملي ژبيګ د شعرونو پر سبکونو نظر واچوم او د سبکونو او د بيان د طرز له مخيګ د هغو تل ته ورننوزم، خګرنکګه چيګ د پشګتو ادبياتو تاريخ لکه خګرنکګه چيګ لازمه ده تر اوسه پوريګ نه دی ليکل شوی، حګکه نو زما دا خګيګؤنه او پلتګنه بشپؤه نه ده او شايد نيمګګؤتياويګ به ولري او لو ستونکو ته به په کيګ لوؤيګ ژوريګ شګکاره شي، لکه خګنکګه چيګ زما له ليکنيګ خګخه شګکاري او تر اوسه په ديګ باب خګيګؤنه نه ده شويګ او نه خګه ليکل شوي، حګکه نو که زما په ديګ ليکنه کيګ خګه سهويګ وي، هيله ده پوهان ييګ د حل لاره را په کګوته کؤي... "[1]

استاد حبيبي په خپله ديګ ليکنه کيګ تر پورتنة يادونيګ وروسته د پشګتو شعرونو پر سبکونو غإيګإي او د پشګتو

---

[1] کابل کالنة ، ۱۳۱۹ل کال ۱۲۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعر دوره بندي کوي. استاد پشـګتو شاعري پـر دريـو دورو ويګشـليګ ده: (۱) لرغونيـګ طبقـه او د هغـو پلويـان، (۲) د عروضـي شـاعرة طبقـه، (۳) د عوامـو د شـاعرة طبقـه. اسـتاد لرغونيـګ دوره لـه (۴۰۰) هـ خګخـه تـر (۱۰۰۰) هـ کـال پوريـګ کګنګليـګ ده. پـه خپلـه ليکنـه کيـګ ييـګ د هريـګ دوريـګ حګانګګؤتيـاوې، د هريـګ طبقيـګ د سبکونو خصوصـيتونه پـه تفصـيل سره پـه کګوتـه کؤي او يـو بـل سره ييـګ توپيرونـه خګرګګند کؤي دي او د ملي اوزانو او د عروضـي قاعديګ پـه پيروة فورمونه ييګ تشريح کؤي دي. د ساري پـه توګګـه د ملي وزنونـو پـه سـبک، د شـعرونو خصوصـيات ييـګ دا ګګنګلـي چيـګ پـه ديـګ کيـګ سـاده ګګـي او جذابت وي، د نـورو ژبـو کلميـګ پـه کيـګ نـه وي کـارول شـويګ، دعربـي او پارسـي وزنونو تابع نه وي، د مضمون او فـورم لـه پلـوه اکثـره پخـوانيو اريايي شعرونو تـه ورتـه دي. د لرغونـو شعرونو يـو خصوصـيت دادی چيګ مضمون ييـګ مسلسـل او مرتب وي، خدای پالنـه او ديـن پالنـه پـه کيـګ زياتـه حګليګاي، پـه مجموعي أول دا سـبک پيګچلتيـا نـه لـري او طبيعـي مزايـا لـري او دغـه راز حګينيګ نور خصوصيتونه.

استاد حبيبي په لرغونيګ دوره او ملي اوزانو پوريګ تؤلي دغـه لانـديګ شـاعران معرفـي کـؤي، دهغـو د ژونـد پـر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خګرنکګوالي ییګ رنګا اچولیګ او د هغو هر شعر ییګ په هر اؤخیز أول تحلیل کؤی دی:

۱- د بیتګ نیکه ژوند او د شعر حګانکګؤتیاویګ
۲- د ملکیار غرشین ژوند او د شعر حګانکګؤتیاویګ
۳- د تایمني ژوند او د شعر حګانکګؤتیاویګ
۴- د شیخ اسمعیل ژوند او د شعر حګانکګؤتیاویګ
۵- د قطب الدین بختیار ژوند او د شعر حګانکګؤتیاویګ
۶- د اکبر زمیندا وري ژوند او د شعر حګانکګؤتیاوي

استاد حبیبي د پورتنیو شاعرانو پر شعرونو تر بحث وروسته پر دیګ مسایلو رنګا اچولیګ چیګ د پخوانیو سبک خګنکګه تغیر شو؟ د هغو عوامل ییګ تشریح کؤي دي. خګنکګه پشګتانه لوستي شاعران له عروضي شاعرة سره اشنا شول؟ او خګنکګه ییګ د هغو له شعري فورمونو خګخه کګتګه پورته کؤه؟

په دیګ ترخګ کیګ استاد حبیبي پر خیرالبیان غإیګإي او د هغه پر سبک رنګا اچوي، بیا د خیرالبیان پر وؤاندیګ د اخوند درویګزه پر مخزن الاسلام غإیګإي او د هغه سبک تشریح کوي، سربیګره پر دیګ د اخوند درویګزه او پیر روشګان د سبک پیروان معرفي کوي، د هغو پر پیګژند کګلوة سربیګره د هغو د شعرونو حګانکګؤنیګ هم په کګوته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد حبيبي په خپله ديګ ليکنه کېګ د پير روښان او اخوند درويزه پيروان په ديګ اول په کګوته کړي دي:

د پير روښان پيروان:

۱- علي محمد مخلص
۲- ملا ارزاني خويشکی
۳- عبدالله
۴- ميرزا خان انصاري
۵- واصل

د اخوند درويزه پيروان:

۱- کريم داد
۲- عبدالسلام
۳- مصطفى محمد
۴- اخوند قاسم

استاد حبيبي د پير روښان او اخوند درويزه پر پيروانو سربيګره د (ملا الف) په نامه هم د يوه شخص او د هغه د سبک يادونه کوي او ليکي چېګ کګنګ شميګر پلويان ييګ درلودل.

ملا الف د کلات د اتغر په کلي کېګ استوګګنه لرله، چېګ له خپل استوګګنځګي لريګ ييګ خپلو زده کړو ته دوام

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکاوه. پـه زرم هجري کلونـو کـيـګ ييـګ ژونـد کـاوه او د ((بحرالايمان)) پـه نامـه ييـګ منظومـه رسالـه ليکليـګ، دده پـه شعرونو کـيـګ اسـلامي عقايـد او نصايح حګليګدل او د يـوه مبلغ پـه توګګه ييـګ دنده اجرا کؤيـګ ده. استاد حبيبي دغـه لانديګ کسان د ملا الف د سبک پلويان ګګنګلي دي:

۱- ملا شير محمد هوتک

۲- شيرمحمد ننګګرهاری

۳- ميا فقيرالله جلال آبادی

۴- ملا عبدالرشيد

۵- سعادت خان

۶- جان محمد

۷- ملا فرح الدين

۸- محقق کندهاری

۹- ملا زبردست

۱۰- مولوي عبدالحميد کاکؤ

۱۱- صاحب زاده مرادعلي کاموي

۱۲- دوست محمد ختګګ

۱۳- ملا عبدالباقي

۱۴- اخوند کبير پشاوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ملا الف وروسته استاد حبيبي د خوشال خان پر سبک او مکتب هر اړخيزه رڼا اچولې ده او وايي ((تر زرم هجري کال وروسته د پښتو ادب او شعر په نوؤ کې يو مخصوص غورځنګ او جنبش وتګوکېږي چې ددې غورځنګ لوی لارښوونکی هماغه د پښتو يو سردار او اوسپنيز شخص؛ خوشال خان ختګ دی چې پښتو شعر يې په خپلې روښانه قريحې سره لوؤو پوړيو ته ورساوه او کولای شو هغه ته د پښتو ادب پلار او لوی استاد ووايو...))[1]

استاد حبيبي د خوشال د شاعرۍ د بيتونو شميرتر پنځوس زرو زيات ښيي او د ده د سبک خصوصيات دا ګڼي چې په هر اول فورم کې يې شاعري کړې ده. په شعر کې يې ملي ولولې ښکاري، پر اجتماعي او تاريخي مسايلو مالا مال يې قصيدې ليکلي، په شعر کې يې له بديعي صنايعو کار اخيستی، هجوه او تنقيد يې په شعر کې ځای کړي، بيګلابيګل فلسفي او اخلاقي مسايل يې په شعر کې بيان کړي او له لوړ تخيل څخه يې په کې کار اخيستی دی.

---

[1] کابل کالنۍ، ۱۳۱۹ل کال،۲۰۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوشال خان د ادبي مکتب پیروان چیګ دده د کورنۍ له غړو او نورو خګخه عبارت دی، په دیګ أول معرفي کوي:

۱- عبدالقادر خان ختګک

۲- اشرف خان هجري

۳- صدرخان ختګک

۴- سکندر خان ختګک

دا د خوشال خان ختګک زامن او د ده دمکتب پیروان دي، سربیګره پر دیګ د خوشال د سبک نور پیروان په دیګ أول معرفي کوي:

۱- یحیی اخندزاده

۲- خواجه محمد بنګګش

۳- معزالله

۴- عثمان

۵- اودل

۶- اشرف

۷- فاضل

۸- ابراهیم

ګ۹- فضیل

۱۰- حسین

۱۱- مهین

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲- عصام
۱۳- ابو القاسم
۱۴- فتح علي
۱۵- عليم

تر خوشال بابا وروسته د رحمان بابا پر ژوند او ادبي سبک رنګا اچوي او تشريح کوي ييګ.

د رحمان بابا په باب وايي چيګ شاعر له روح خګخه الهام اخلي، له مادي کثافاتو حګان لريګ کوي، دده د شاعرة د بيان طرز سليس، ساده او روان دی. د عشق په جهان کيګ واقعيت ته کګوري، روحي عشق او الهام د ژوندانه محور کګنګي او يقين او ايمان پر خالي عقل لوؤ کګنګي.

د دديګ مکتب نوميالي پيروان په ديګ أول په کګوته کوي:

۱- عبدالرحيم هوتک
۲- احمد شاه بابا
۳- اخوند کګدا
۴- عبد العظيم
۵- ميانعيم
۶- ملا جمعه
۷- عبد النبي
۸- شيګر محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- مطیع الله
۱۰- قاسم علي اپریدی
۱۱- یونس
۱۲- غفور
۱۳- صدیق
۱۴- شهنواز
۱۵- حافظ الپوري

تر رحمان بابا وروسته د پیر محمد کاکړ پر شخصیت او سبک خبریګ کوي او وایي چیګ د پیرمحمد کاکړ په شاعرة کیګ أیګر نازکه عشقي احساسات خګرکګند یګإي، استعارات او تشبیهات ییګ طبیعي رنګګ لري، الفاظ ییګ شفاف او خګرکګند دي. د تصویر او تجسیم لپاره خاص لغات کاروي، د اخلاقي تلقین لپاره هم داسیګ الفاظ نه کاروي چیګ د تګولنیګ تر حدودو بهر وي. ددیګ سبک او مکتب پیروان په دیګ أول دي:

۱- شمس الدین کاکړ
۲- کګل محمد
۳- سردار مهردل خان مشرقي

تر دې وروسته حمید مومند معرفي کوي او د هغه د سبک په باب وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((خيالپالنه يا خيال پردازي د دې سبک غتګه ځانګړنه ده، اغراق او مبالغه يې بل خصوصيت دی، تلازم په کې په شګه اول مراعتيږي، مثل او ممثل، لازم او ملزوم او ناتج او منتج، دغه راز ايهام هم نادر ډول تشبه ګانې او استعاري په کې کارول کيږي.))

د دې سبک پيروان په دې ډول دي:

۱- کاظم خان شيدا

۲- محمدی

۳- ميرزا حنان

۴- حاجي عبدالله محزون

۵- کاظم خان

۶- کامګار

۷- ملا محمد اکرم

۸- صمد

تر حميد وروسته د قلندر سبک را پيدا شو. قلندر (۱۱۰۰هـ) په حدودو کې په پيښور کې اوسيده، په تګبر اپريدی و، استاد حبيبي يې د ژوند په هکله وايي:

((قلندر د ميرا په نامه يو مرشد درلود چې له هغه سره يې مينه د جنون تر حده رسيدلې وه، د ده عشق او ايمان او اور سوزنده مراحل وهي، قلندر هر وخت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوات کیګ د میرا د دیدن لپاره د یویګ تپیګ پر سر منتظر پاتیګ کیګإِي او په پای کیګ په أیګر حسرت، نهیلة او ناکامة سره مري او په همغیګ تپیګ کیګ خاورو ته سپارل کیګإِي، کله چیګ ییګ میرا خاورو ته ورحګي، اوشګکیګ تویوي، دمینیګ او عشق جذابیت دی هم راکاإِي اومري او دقلندر ترخګنکګ خاوروته سپارل کیګإِي.)) [1]

د استاد حبیبي په نظر، سره له دیګ چیګ قلندر د حمید د سبک تابع دی، خو د هغه د سوزنده عشق له کبله په خپله د یو سبک د رامنحګته کیګدو سبب شوی، چیګ دعشق همدا سوز او زخمي احساسات ییګ په شعرونو کیګ شګکاري، ده په پشګتو کیګ یو مخصوص بحر رامنحګته کؤی چیګ ملي وزن لري. په پشګتو کیګ ملا حسن اسحق زی او ملا صالح محمد داوی پر دیګ بریالي شوي چیګ د قلندر د سبک په خګیګر شاعري وکؤي.

د حماسیونو سبک:

استاد حبیبي هغه شاعران چیګ حماسي شعرونه ییګ ویلي، خو په مشخص أول د کوم مشهور شاعر د سبک تابع نه

[1] کابل کالنة، ۱۳۱۹، ۲۱۷مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، هغـه ییـګ د حماسـیونو تـر عنـوان لانـدیګ پـه جلاکتـه کګـورة کیـګ راوؤي، پـه دیـګ شـاعرانو کیـګ دغـه شـاعران شامل دي:

۱- برهانخان
۲- مسعود کګل یاسیني
۳- نورالدین
۴- زاهد خان ابراهیمزی
۵- عزیزخان رنګاخیګل
۶- سپینه
۷- ملاله

د داستان ویونکو سبک:

د پشـګتو ادبیـاتو پـه لرغونیـګ او منحګنـة دوره کیـګ یـو شمیګر داسیګ شاعران شته، چیګ حګینیګ کیسیګ ییګ پـه نظـم را اؤولـي یـا داسـتاني کـؤي دي، اسـتاد حبیبـي دوی د داسـتان ویونکـو د سـبک تـر نامـه لانـدیګ مطالعـه کـؤي او دهغـوی ژونـد ییـګ تشـریح کـؤی دی. دغـه لانـدې شـاعران یـا ناظمان په دیګ ألـه کیګ شامل دي:

۱- بای خان
۲- میاعمر خګمکنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- اما الدین
۴- ارسلا
۵- فیاض
۶- مسعود
۷- غلام محمد
۸- نور
۹- احمد اخون خیگل
۱۰- رحمت داوی
۱۱- ملا احمد خان
۱۲- رحمت
۱۳- ملا نعمت الله
۱۴- ملا احمد.

د عوامو سبک:

استاد حبیبي په پشگتو ادبیاتو کیگ د عوامو د سبک تر عنوان لاندیگ یو بل سبک ته هم پام کؤی او هغه ییگ خگیگؤلی دی، استاد حبیبي دا د پشگتو د ملي شاعرة تر تگولو غوره ذخیره بولي، چیگ د خلکو په بیگلا بیگلو طبقو کیگ أیگر عام مقبولیت لري، دا شعرونه خپل حگانکگؤي وزنونه لري، چیگ یوازیگ ملي وزنونه دي ، هره ترانه، هر وزن

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بحر ییگ خپل خاص اهنکګ لري، په دیګ وزنونو کیګ بیګلا بیګل عشقي، حماسي، اخلاقي او نور مسایل بیان شوي دي، دا شعرونه حګانکګۍ جذابیت او زؤه راکشګون لري، ددیګ سبک حګینیګ مشهور لارویان دادي:

۱- کمال
۲- محمدی
۳- میرا
۴- عبدالله نورزی
۵- خدای رحیم اکاخیګل
۶- عبدالودود ستریاني
۷- ملا حیران
۸- ملا خواجه محمد
۹- صدیق اخندزاده هوتک
۱۰- سلیم زمین داوری
۱۱- ملا عبدالرحمن
۱۲- محمد ایوب بؤیګخګ
۱۳- طالب
۱۴- توکل د شګیګویګ
۱۵- سردار پردل خان
۱۶- ملا شیرمحمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷- برخوردار
۱۸- فیض الله
۱۹- سید کمال
۲۰- محمد یار صاحب زاده
۲۱- ملازاهد اندؤ
۲۲- محمد دین
۲۳- نوروز.

د استاد حبیبي تر ډېر ځېرکتيا، ویکښ، تحلیل او ارزونېرښتې را حکو پر همدې لیکنې خپل نظر او ارزونیه ته چې ایا دا لیکنه د تحقیق له اوسنیو اصولو سره خکو مره برابره او خکو مره دهغو په تول تلل ده؟ لوی استاد حبیبي ته خدای(ج) یو خارق العاده استعداد ورکړی و، ده د خپل استعداد یوه درنه برخه همدې تحقیق ته بیګله کړې، ((تاریخچه سبکهای اشعار پشتو)) هم دده یوه غوره تحقیقي او تحلیلي لیکنه یا رساله ده. سره له دې چې دا لیکنه یا کتابګوټی له نن (۱۳۸۲ل کال) خکخه اوه شپېته (۶۷) کاله دمخه لیکل شوی او دا داسې مهال و چې د افغانستان د پشتو او دري ادبیاتو په باب ډېر لږ د ګکوتو په شمار تحقیقي لیکنې نه وې شوې، خو استاد حبیبي د هغه نبوغ له مخې چې درلود بیا داسې تحقیقي لیکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کؤيګ، چيګ اوس لا هم نويګ ده او د تحقيق له معاصرو او نويو اصولو سره هم شګه سمون خوري، د تحقيق د کګنګو اصولو له جمليګ خګخه حګينيګ مهم اصول دادي، چيګ يو تحقيقي اثر پر يويګ سريزيګ پيل کيګإي، چيګ ليکوال په کيګ د منابعو د يادونيګ ترخګنکګ د اثر د ليکلو ضرورت په کګوته کوي، دکتاب اصل متن چيګ د تحقيق اساسي برخه ده او تګوليګ پوشګتنيګ حګوابوي او د کتاب يا ليکنيګ وروستة برخه پاييزه يا نتيجه چيګ ليکوال په کيګ معمولاً د خپل کار ارزونه کوي او پر خګه شي چيګ نه دی بريالی شوی، د هغو يادونه کوي چيګ په اينده کيګ ييګ اصلاح کوي او يا ييګ هم نورو ته د سمون سپارشګتنه کوي.

د استاد دا ليکنه د تحقيق د نورو اصولو ترخګنکګ دا پورتني اصلونه هم لري، په پيل کيګ يوه سريزه راغليګ چيګ دديګ ليکنيګ ضرورت ته ييګ کګوته نيوليګ او د هغيګ تشيګ يادونه ييګ کؤيګ چيګ د ملي ژبيګ د ادبياتو د پيګژندنيګ په برخه کيګ دا وخت موجوده وه. استاد حبيبي مخکيګ تر ديګ چيګ د پشګتو شعرونو د سبکونو پر پيګژندنيګ پيل وکؤي، خپله په عام أول د سبکونو د رامنحګته کيګدو علتونه بيانوي او سبکونه راپيګژني، بيا د همغو عواملو په رنګا کيګ د پشګتو شاعرة

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیگلا بیگل سبکونه د هغو بنستگکگر، د کلام بیگلکگیگ او د هغو مشخصات په کگوته کوي. هر سبک چیگ را پیگژني دهغه بکگرونأ (شالید) هم را پیگژني، لوستونکي ته د لوستو پر وخت دا سیگ ابهام نه پریگاږدي چیگ هغه ته د پوشگتنیگ سبب شي. د یویگ شگیگ تحقیقي لیکنیگ یوه حگانکگؤتیا همداده چیگ حقیقت باید معلوم کؤي، اصلاً د تحقیق تعریف هم دادی چیگ ((د یویگ تگاکلیگ موضوع په باب رشگتینیگ، ژوره او عالمانه پلتگنه ده چیگ په هغیگ کیگ واقعیتونه، معناویگ او تطبیقي مواد هم تر ازموینیگ لاندیگ نیول کیگاږي.))[1] د استاد حبیبي دا لیکنه د تحقیق له همدیگ تعریف سره پوره پوره سمون خوري، د یویگ تحقیقي لیکنیگ لپاره حگینیگ معیارونه او حگانکگؤتیاویگ شته چیگ دلته بیگ یادونه کوو او بیا کگورو چیگ دا حگانکگؤتیاویگ خگومره د استاد حبیبي پر دیگ لیکنه د تطبیق وؤ دي:

۱- خگیگؤنه به د یویگ تگاکلیگ مسالیگ پر محور خگرخي:

---

(۱) سرمحقق زلمی هیگواد مل، د پشگتو خگانکگیگ دماسترة دوریگ د خگیگؤنیگ میتودولوژي مضمون، لکچر نوتگ، (۱) مخ، ۱۳۸۲ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د استاد حبيبي ((د پښتو شعرونو د سبکونو تاريخچه)) يوازينۍ همدا موضوع څېړلې او يا لږ تر لږه هغه موضوعګانې چې له دې سبکونو سره تړلې دي، دی هڅه کوي چې له موضوع نه خارجېږي او نه يوه موضوع په بل متن ورګډوي او نه حاشيې يا لمنليکونه ورکوي.

۲- په څېړنه کې به يو ابتکار او نويتوب موجود وي.

دويم معيار خو سل په سلو کې ځکه پر دې ليکنه د تطبيق وړ دی چې تر دې د مخه هېڅ هم په تېره بيا په دري ژبه د پښتو شعرونو د سبکونو په باب دومره جامع ليکنه او تحليل نه دی شوی. دا لومړنۍ ليکنه ده چې په دري ژبه نسبتاً په تفصيل سره د پښتو شاعرۀ پر عام تعارف او د سبکونو په باب په خاص اول رڼا اچوي او د ليکنې په متن کې راغلي شعرونه هم له دري ژباړې سره راوړل کېږي، دلته دري ژبي نه يوازې د پښتو شاعرۀ له سبکونو، بلکې د هر شاعر د شعرونو له فکري محتوا سره هم په ښه اول اشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کيگاږي، د يويـګ ژبيـګ شـاعري د بليـګ ژبيـګ ويـونکي تـه ورپيـګژندنه هغه هم پر هغه مهال خپله يو نوښت دی.

۳- خګيګؤنه به د يـو ذهنـي اسـتعجاب پـر روحيـه ولاړه وي:

د اسـتاد هـره ليکنـه پـر ذهنـي اسـتحکام او تمرکـز ولاړه ده،نويوالی په کيګ شته، ذهني پاشلتيا او لـه يويـګ موضـوع سره د نـورو موضـوعګګانو کګأون پـه کيـګ نـه شـته او خګـه چيـګ د لوسـتونکي ضـرورت وي، هغـه د اسـتاد لـه ليکنيـګ ترلاسه کولای شي، ((د پشګتو شعرونو د سبکونو تاريخچه)) هم له ديګ أول ليکنو خګخه يوه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- خګیګڼـه بـه لـه یـوه ازاد فکـر سـره شـروع کیګاېږي:

د اسـتاد حبیبـي دا لیکنـه د اسـتاد حبیبي د خپـل ازاد فکـر زیګاېنده ده، دا سیګ نه ده چیګ چا پریـګ د یـو فکـري قیـد او فشار په نتیجه کیـګ لیکلیـګ وي، هغـه ذوق او علاقـه چیـګ استاد له ملي ژبیګ او ادب سره درلودله، دده فکر ییـګ دیـګ لیکنیګ هخګولی دی.

۵- خګیګڼه به پر دغسیګ یو ذهنیت متکي وي چیګ کګویا په طبیعت کیګ هر خګـه د یـوه نظـم او قانون تابع دی:

د استاد لیکنه هم د یوه نظم او سیسـتم تـابع ده، لـه تـاریخي تسلسـل خګخـه نیولیـګ بیـا د شعرونو د تشـابه لـه مخیـګ یـو نظم تعقیبوي، د بیتـګ نیکـه لـه مناجـاتو نیولګیـګ او بیـا تـر وروسـتي هغــه شـاعر پوریــګ چیــګ دا وخــت ییــګ ده تــه معلومات شوني وو، تګول په ترتیب او نظم سره راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶- د خګیګؤنیګ مقصد به د قوانینو او عمومي پرنسیپونو رابرسیګره کول وي:

استاد حبیبي په خپله دیګ لیکنه کیګ هم د تحقیق قوانینو او پرنسیپونو رعایت کؤی او هم ییګ د تحقیق لپاره پرنسیپونه په ګګوته کؤي، د ساري په أول چیګ کله د یوه سبک یادونه کوي، لومؤی د هغه سبک مشخصات بیانوي او هر هغه شاعر او د هغه کلام چیګ همغه حګانکګؤنیګ ولري، په هغه سبک کیګ شاملوي.

۷- په خګیګؤنیګ کیګ به علت او معلول خګیګؤل کیګإي:

د استاد حبیبي په دیګ لیکنه کیګ چیګ سبکونو ته حګانکګؤیګ شویګ، د هر سبک د رامنحګته کیګدو علتونه په ګګوته شوي، دعوامو شاعري، په ملي اوازانو کیګ شاعري او همدارنګګه له نورو ژبو راغلي شعري

(c) ketabton.com: The Digital Library

فورمونه یا عروضي شاعري او د هغو علتونه تګول واضح شوي دي.

۸- په خګیګئونه کیګ به له اندازه کولو خګخه کار اخیستل کیګاږي:

په تګولنیزو او ادبي خګیګئونو کیګ ارزونه د فزیکي مقیاس په معیار نه وي، بلکیګ د اثر کمي او کیفي اؤخ ته په کیګ کتنه کیګاږي، استاد حبیبي د پشګتو ادبیاتو د هر سبک په باب یو عمومي جاج وؤاندیګ کؤی او له کمي او کیفي پلوه ییګ د یو سبک پلویان شمیګرلي او د اثارو پر خګومره والي ییګ بحث کؤی دی.

۹- په خګیګئونه کیګ به شعوري تکتیک خګخه کګتګه پورته کیګاږي:

دا چیګ یوه لیکنه د خګه لپاره کیګاږي، خګه وخت کیګاږي او ولیګ کیګاږي؟ دیګ ته استاد حبیبي د خپلیګ دیګ لیکنیګ په سریزه کیګ هم اشاره کؤیګ، دده له اهدافو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خګخه یوه موخه داده چیګ نور خلک د خپلو ادبیاتو له ماهیت، ارزشګت او کیفیت خګخه خبر کؤي او په دیګ کار کیګ أیګر بریالی شوی دی.

د یویګ شګیګ تحقیقي لیکنیګ تر خګنکګ خګیګؤونکي یا محقق یو لؤصفتونه لري، که چیګریګ خګیګؤونکی د هغو خګشګتن وي نو کیګدی شي د خګیګؤنیګ په تول پوره لیکنه وکؤي: اول دا چیګ خګیګؤونکی باید پر خپله موضوع پوره لاس بری او حاکمیت ولري، د امانت ساتونکی او د همکارة پالونکی وي. خګیګؤونکی باید تعصب ونه لري او په خګیګؤنه کیګ باید حګان له هر أول تعلقاتو لریګ وساتي او بیګ طرفه وي، منطق او استدلال ولري، بیان بیګ صریح او خګرګګند وي، ریاکار نه وي، زغم او حوصله ولري، د علم ژبه بیګ باید زده وي او نور...))[1] مواِ چیګ د یو محقق لپاره پورتنیو صفاتو ته ګګورو، نو دا تګول او تر دیګ زیات په لوی استاد حبیبي کیګ لیدل کیګاِي، هغه پر خپلیګ تګاکلیګ موضوع دومره لاس بری دی چیګ تر ده دمخه چا په پشګتو ادبیاتو کیګ پر داسیګ مسایلو دومره لیکنیګ نه دي کؤي، حګینیګ ادبي

(۱)- سرمحقق زلمی هیګواد مل، د پشګتو خګانګګیګ د ماسترة دوریګ د متن خګیګؤنیګ د میتودولوژی مضمون لکچر نوتګ، ۱۳۸۲ل کال(۲) مخ.

پانککیګ خپله د لومؤي حګل لپاره د استاد حبیبي لاس ته ورغلي او ده لومؤی حګل تشریح کؤي او خلکو ته ییګ وؤاندیګ کؤي دي، دده د تحقیق په نتیجه کیګ د پشګتو ادبیاتو أیګر تیاره کګوتګونه روشګانه شوي، د هر متن په انتقال کیګ ییګ له أیګریګ امانتدارة کار اخیستی او ان د تذکرة الاولیا د لیک پر لوستلو ییګ خو ییګ أیګر وخت تیګر کؤی او أیګر کؤاو ییګ کګاللی دی. استاد حبیبي د افغانستان او سیمیګ یو لوی عالم و او د عالم یو خصلت داوي چیګ پر علمي ارزشګتونو ولاؤ وي او د مسایلو په تحلیل کیګ له تعصب خګخه کار نه اخلي، د دیګ لیکنیګ ژبه خورا فصیحه او بلیغه ده، هیګخګ أول ابهام او پوشګتنو ته ییګ حګای نه دی پریګ ایشګی، لنأه دا چیګ د یوه محقق لپاره چیګ خګه حګانککګؤتیا ویګ په کار دي هغه تګولیګ د استاد په وجود کیګ خوندي ویګ او که د ده خپل حګانککګؤی استعداد او نبوغ ورسره یو حګای کؤو، نو خبره تر دیګ نوره هم اوچتیګإي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شکل له پلوه د استاد حبيبي د ديگ ليکنيگ خگرنککگوالی:

په عام أول يوه خگيگؤنه د شکل له مخيگ په دوه أوله ترسره کيگإي: ((کتابي يا کتابتوني تحقيق او بل ييگ ساحه يي تحقيق دی)) د استاد حبيبي ((د پشگتو شعرونو د سبکونو تاريخچه)) د شکل له مخيگ دا دواؤه حالتونه رانغاؤي. استاد حبيبي هم له بيگلا بيگلو کتابونو، اخحگونو خگخه کگتگه پورته کؤيگ او هم ييگ له خپلو هغو اثارو خگخه کگتگه اخيستيگ، چيگ ده وړپسيگ بيگلا بيگليگ سيميگ پلتگلي او ترلاسه کؤي، لکه، تذکرة الاوليا چيگ يوازيگ خگلور پانگيگ يا اته مخه ييگ د استاد حبيبي لاس ته ورغلي او ترده دمخه دچا لاس ته نه وه ورغليگ او نه ييگ تريگ معلومات درلودل. دلومؤي حگل لپاره استاد حبيبي د تذکرة الاوليا په باب خگيگؤنه او شننه وؤانديگ کؤه او په همديگ ليکنه کيگ هم د تذکرة الاوليا پانگيگ معرفي شويگ، شعرونه ييگ په دري ژبه واؤول شول، تحليل او ارزونه ييگ وشوه، مخکيگ ترديگ چيگ تذکرة الاوليا د پشگتانه شعرا په لومؤي تگوک کيگ پر ۱۳۲۰ کال چاپ شي، دلته ييگ پر ۱۳۱۹ل کال په کابل کالنة چاپ کؤه او دا تحقيقي ليکنه ييگ د شعرونو د سبکونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیگڼندنیګ په اوّه وکوّه، د یادونیګ وؤ ده، چیګ تذکرة الاولیا دساحه یي تحقیق په لؤ کیګ دهلمند دناویګ د ادم خان په کلي کیګ د زؤوکتابونو د پلتګلو پرمهال د لوی استاد پوهاند علامه عبدالحی حبیبي کګوتو ته ورغلیګ ده.

دا چیګ استاد په خپله دیګ لیکنه کیګ له نورو کګنګو اثارو لکه ((تمدن های اولیه، د کګوستاولوبون اثر، تاریخ تمدن هند، طبقات ناصري، ائین اکبري، حیات افغاني، حدو العالم من المشرق الی المغرب، تاریخ مرصع، د پشګتونخوا دشعر هارو بهار، کلید افغانی)) او نورو أیګرو چاپي اثارو خګخه کګتګه پورته کؤیګ ده، نو دا برخه ییګ د کتابي تحقیق برخه جوؤوي، له تذکرة الابرار ولاشرار، مخزن الاسلام او د حګینو نورو اثارو له قلمي نسخو خګخه ییګ هم کګتګه اخیستیګ ده. نو په دیګ أول ویلای شو چیګ استاد د خګیګؤنیګ له دواؤو أولونو کتابي (کتابتوني) او ساحه یي خګخه په دیګ لیکنه کیګ کار اخیستی دی.

استاد حبیبي د خګیګؤنو دمیتودونو په برخه کیګ په خپله دیګ لیکنه کیګ له تاریخي او تشریحي میتود خګخه کار اخیستی دی، یانیګ هم ییګ موضوع له تاریخي پلوه خګیګؤلیګ او تاریخي قدامت ییګ په پام کیګ نیولی او هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

یېګ شاعري د شکل او محتوا له مخېګ تشریح او ألبندي کؤیګ ده، د یو سبک توپیر یېګ له بل سره تشریح کؤی دی.

خګرنګګه چېګ دا لیکنه له او سمهال (۱۳۸۲) خګخه (۲۷) کاله دمخه تر سره شویګ او پر همغه مهال چاپ شویګ، نو دا وخت چېګ له استاد حبیبي سره کوم اثار موجود وو، د همغو په رنګا کېګ یېګ د پښګتو ادبیاتو تاریخي دوریګ ویګشلیګ، خو کله چېګ تر دیګ لیکنیګ نإدیګ دوه کاله وروسته د (محمد هوتک پتګه خزانه) د استاد حبیبي لاسته ورغله او په پتګه خزانه کېګ د امیر کروؤ د شعر په شتوالي سره د پښګتو دلاسته راغلیګ لیکلیګ شاعرة نیګتګه (۱۳۹) هـ ق کال ورسیګده، نو بیا په دیګ لیکنه کېګ راغلی ویګش، خپله خپل رنګګ بایلي. د پښګتو ادبیاتو دتاریخي دورو په باب نورو پوهانو هم خپل نظرونه خګرګګند کؤي او ددوی په نظرونو کېګ أیګر توپیرونه او تضادونه شته او د معاصرو ادبپوهانو له نظره کره کتنه غواؤي، له نیګګه مرغه زموإ د ادبیاتو د معاصر دوران یو لوی ادبپوه مرحوم کاندید اکاأمیسن محمدصدیق روهي د پښګتو ادبیاتو دتاریخي دورو د تګاکنیګ په اؤه د تګولو پښګتو ادبپوهانو نظرونه سره راتګول کؤي او هر یو یېګ بیګلابیګل تحلیل کؤی، شنلی او ارزولی دی، مشترک تګګي او د ادبپوهنیګ له

(c) ketabton.com: The Digital Library

معیارونو سره سم ییګ منطقي نظرونه سره یوځای کړي او په پای کیګ ییګ یوه نسبتاً معقوله لار ایستلیګ، استاد روهي د پښتو ادبیاتو د تاریخي دورو ویګش په خپل اثر ((د پښتو ادبیاتو تاریخ معاصره دوره)) کیګ راوړی او په مجموعي أول ییګ پښتو ادبیات پر دریو لویو دورو (لرغونیګ، منځګنۍ او معاصره) ویګشلي چیګ منځګنۍ او معاصره ییګ بیا په خپل وار پر څګو نورو پړاوونو ویګشلي دي، نو زما په نظر د ادبیاتو د دورو د ویګش په اړه دا وروستی ویګش تر ټګولو غوره او منطقي ښګکاري.

د مکتبونو او سبکونو په اړه سره له دیګ چیګ استاد حبیبي یو ښګه ویګش کړی او دا ویګش پر داسیګ مهال شوی چیګ د مکتب او سبک د توپیر او تعبیر په اړه په پښتو ادبیاتو کیګ هیګڅګ لیکنه نه وه شویګ او استاد په دیګ برخه کیګ لومړني پاخه ګګامونه پورته کړل، خو د سبک پیګژندنیګ او مکتب پیګژندنیګ د اوسنیو معیارونو له مخیګ کیګدی شي د استاد حبیبي په ویګش کیګ یو څګه تغیر راشي، خو لکه څګنګګه چیګ استاد په سریزه کیګ ورته اشاره کړیګ، چیګ دا لیکنه د یوه ضرورت له مخیګ ترسره شوه او کیګدی شي له نیمګګړتیاوو به تشه نه وي او دا نو بیا د نورو کار دی چیګ دا نیمګګړتیاویګ پسیګ حل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـۀي. دغـه راز اسـتاد د يـوه تحقيقـي اثـر د اصـولو مطـابق د خپليـګ ليکنيـګ پـه پـای کيـګ نتيجـه او يـا د خپـل بحث خلاصه هم وۀ انديګ کۀيـګ چيګ د خپليـګ ديګ ليکنيـګ نچـوۀ ييـګ راکشـګلی او پـه ديـګ کيـګ ييـګ يـو حګـل بيـا تګولو سبکونو ته پـه لنأيز سره اشاره کۀيګ ده.

د يادونيګ وۀ ده چيګ د استاد حبيبي دا ليکنـه د تاريخ پـه بيګلابيګلـو پۀاوونـو کيـګ د پشـګتو شـعرونو پـر خګرنګګوالي، په تيګره بيا پر سبکونو رنګا اچوي، خو ليکنـه پـه دري ژبـه ده او تګول هغـه شعرونه چيـګ پـه متن کيـګ پـه پشګتو ژبه راغلي، په دري ژبه دهغو منثوره ترجمـه او مانـا هم شويګ ده، په ديګ أول که يو دري ژبی پر پشګتو شعر د بحث خګرنګګوالی مطالعه کوي، نو د پشګتو شعر محتوا تـه هم پـه شګه أول ور داخليګدی شي.

په پای کيګ زه د يوه لوستونکي په توګګه وايم چيګ د استاد حبيبي پر ديګ ليکنيګ که خګګه هم د يويګ پيګۀة له نإديګ خګخه درې برخيګ تيګريګ، خو بيا ييګ هم خپل ارزشګت او ماهيت په کلکه ساتلی دی، بايد په پشګتو ژبه هم وژباۀل شي او موإ خپل حګوان نسل او د ادبياتو لارويانو ته خګرګګنده کۀو چيګ زموإ نابغه محقق چيګ اووه شپيګته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاله دمخه خگه لیکلي، هغه اوس هم د اوسني معاصر تحقیق له اصولو سره تر أیگره حده برابر او په تول پوره او کره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تذکرة الاولیا ځانګړتیا او لرغونتیا

((تذکرة الاولیا)) د پښتو ادب لومړنۍ لاسته راغلې ادبي تذکره ده چې د بارک خان ماکو سابزي زوی (سلیمان ماکو) لیکلې ده. د تذکرة الاولیا د لیکلو تکل په خپله د سلیمان ماکو په وینا له (۶۱۲هـ ق) کال څخه شوی دی، دا چې تذکرة الاولیا د کوم کال پر کومه نېټه بشپړه شوې؟ ددې یادونه په تذکرة الاولیا کې نه ده راغلې، خو د پښتو ادبیاتو څېړونکي دتذکرة الاولیا د لیکلو نېټه همدا (۶۱۲هـ ق) کال شاخوا مهال ګڼي. تذکرة الاولیا ته ځکه د پښتو ادبیاتو لرغونې او لومړنۍ ادبي تذکره وایو چې تر دې دمخه د پښتو ادبیاتو دلیکوالو کومه بله تذکره په لاس کې نه شته. یوازې دهاشم سروانۍ (د سالو وږمه) د یوې ادبي تذکرې یادونه شوې چې دهغې متن لا تراوسه ترلاسه شوی نه دی. نو په دې وجه تذکرة الاولیا په پښتو کې تر ټولو لرغونې لاسته راغلې تذکره ګڼل کېږي. دا تذکره چې ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور پاڼې دي ټول (اته مخه) او ډک (اووه مخه) کېږي، د هلمند دناوې د ادم خان په کلي کې د زړو کتابونو د پلټلو پرمهال د لوی استاد پوهاند علامه عبدالحی حبيبي ګوتو ته ورغلې، لومړی يې د پښتانه شعرا په لومړي ټوک کې پر ۱۳۲۰ ل کال چاپ کړې او بيا پر ۱۳۲۱ ل کال د استاد حبيبي له تعليقاتو، شرحې او سريزې او اصل متن سره يوځای د سرمحقق زلمي هېوادمل په زيار چاپ شوې او دغه راز پر ۱۳۷۹ل کال يو ځل بيا دعلامه حبيبي د څېړنو دمرکز له خوا دهغې له انګليسي متن سره يوځای چاپ شوې ده. سره له دې چې د تذکرة الاوليا يوازې (اووه ډک مخونه) ترلاسه شوي خو دا اووه مخونه هم له کلتوري، تاريخي، ادبي، عرفاني او ژبني پلوه د زيات ارزښت وړ دي. تذکرة الاوليا موږ په لومړي ګام کې پر دوو برخو وېشلای شو:

الف- د سليمان ماکو خپله ليکنه چې په نثر ده او د شاعرانو ژوند ليک په کې راغلی دی.

ب- په تذکره کې د شاعرانو راغلی کلام چې په نظم دی.

الف- د سليمان ماکو نثر: په عمومي ډول د سليمان ماکو نثر خوږ، روان، ساده او له ځانګړي اهنګه ډک دی. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاصو ځایونو کې یې سجع کارولې چې نثر ته یې زیاته ښکلا وربښلې ده.

دلته به د سلیمان ماکو د نثر څو جملې راوړو او بیا به وروسته دده د نثر پر ځرنګوالي بحث وکړو.

((... زه غریب خاوري سلیمان زوی د بارک خان ماکو سابزي چې په ویاله د ارغستان هوسېږم او په دې مزکو پایېږم، په سن دولس شپږ سوه دهجري تللی وم او د پښتنخا په راغو او کلیو ګرځېدم او مراقد د اولیا او واصلینو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل، او ددوی په خدمت کې خاکپای وم او هر کله په سلام ورته ولاړ...))

((... نقل هسې کاندي یارانو چې په روزګار د شیخ بیټني کې د ده ورور چې سړبن نومېد، او پرشیخ هم خورا ګران و، سړبن نه درلود زامن او هر کله به ویل خپل ورور ته...))

((... نقل کاوه سي چې په روزګار د غازي شهاب الدین چې پر کفر یرغل و، شیخ ملکیار چې غرشین ستانه و هم ملګری و د شهاب الدین چې په ډیلي کې هغه ستر واکمن تاټوبی ور وښانده، او هم هورې مړ سو...))

(c) ketabton.com: The Digital Library

((... نقل کاوه سي چې بختيار مې ستر ستانه و ، له ده نه ځرګند سوي دي، هغه کرامات چې مو وکتل او وويل...))

پورتنيو څو جملو او د سليمان ماکو نثر ته چې مونږ په عمومي ډول نظر کوو ، نو له ژبني پلوه دماکو نثر د دريو ژبو له لغتونو څخه جوړ دی. الف- پښتو ، ب- عربي، ج- فارسي. دګرامري جوړښت له مخې هم د پښتو له اوسنۍ محاورې سره توپير لري- هـ- ځينې پخوانۍ متروکې کلمې هم لري چې دلته يې رڼا اچوو:

الف-د سليمان دنثر پښتو لغتونه: که په عمومي ډول د سليمان ماکو نثر ارزول کېږي، نو دا تقريباً په نږه پښتو نثرونو کې حسابېدلای شي، ځکه دپرديو ژبو تاثيرات پرې ډېر کم دي او ان که اوس هم څوک يو پښتو نثر ليکي، نو دنورو ژبو دومره کلمې به ضرور په کې کاروي، لکه خپله چې زه دا ليکنه کوم په عادي ډول رانه د نورو ژبو کلمې کارول کېږي، نو د سليمان ماکو له نثر څخه دا سې ښکاري چې هغه وخت د پرديو ژبو (عربي او فارسي) تاثيرات پر پښتني ادبي چاپېريال وو ، خو دومره زيات نه وو چې ټول نثر متاثر کړي. دلته به دده د نثر سوچه پښتو لغتونو ته اشاره وکړم: لوی، استازی، روښان،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویاله، هوسېږم، خاورې، راغه، کلی، پلټل، لوری، موندل، څښتن، پاڅېدل، وینا، لولي، شپه، ستانه، کول، سندرې، یرغل، غرشین، ملګری، ستر، واکمن، بری، مرورل، پاړکی، څرګند، مېشت او داسې نور...

د سلیمان ماکو په نثر کې کارول شوي اکثره پښتو لغتونه اوس هم په خپله هماغه پخوانۍ مانا او مفهوم او هماغه شکل کارول کېږي. د سلیمان ماکو د نثر له پوخوالي څخه داسې ښکاري چې پښتو نثر به تر دې پخوا ښه اوږد مزل کړی وي، چې د سلیمان ماکو د مهال داسې پخې مرحلې ته رسېدلی دی.

ب-د سلیمان ماکو په نثر کې عربي لغتونه: د سلیمان ماکو په نثر کې یو شمېر عربي لغتونه هم شته، خو دا اکثره داسې لغتونه دي چې مذهبي او عقیده یي مفاهیم لېږدوي، دا ډول لغتونه اکثره اوس هم د مذهبي اصطلاحاتو په بڼه موجود دي او ترجمه یا اړول یې ډېر ممکن نه بریښي.

عربي ژبې د اسلام تر راتګ وروسته په افغانستان کې خپلې اغېزې وښندلې، دا اغېزې لومړی پر فارسي ژبه او وروسته پر پښتو ژبې محسوسې شوې، خو د پښتو په اړول یې پر فارسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه اوس هم تاثيرات زيات دي. دلته به څو عربي لغتونو ته اشاره وکړو:

قدوة الواصلين، مراقد، حمد، برکت، نصيب، صلی الله عليه وسلم، غريب، هجري، اوليا، آل، اما بعد، نقل، عبادت، مبارک، واقع، قبول، کفر، شيخ او ځينې نور...

ج - د سليمان ماکو په نثر کې فارسي لغتونه: د سليمان ماکو په نثر کې د عربي لغتونو په اندول فارسي لغتونه ډېر کم دي. خو د استاد علامه عبدالحی حبيبي په نظر د سليمان ماکو پر نثر د فارسي ژبې د هغه وخت د نثر څه اغېزې شته، د سليمان ماکو تر عصر نږدې دوه سوه کاله دمخه د غزنويانو په عصر کې فارسي نثر ډېر پرمختګ کړی و، ډېر روان ساده او عام فهمه و، لنډې لنډې جملې يې لرلې او له ابهام او تکلف څخه خالي و. د سليمان ماکو نثر هم ساده، سليس او روان دی، جملې يې هم لنډې لنډې دي، ابهام، تصنع او تکلف نه لري. د فارسي نثر د هغه وخت د خوږلنيو د څه ناڅه اغېزمنۍ ترڅنګ يو شمېر فارسي لغتونه هم د سليمان په نثر کې ليدل کېږي، لکه: سپاس، خاکپای، بزرګ، روزګار، مهربان، درخواست او ځينې نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د – د سلیمان ماکو د نثر ګرامري جوړښت: سره له دې چې د ماکو نثر کې زیاتره سوچه پښتو لغات کارېدلي او لیکنی متن یې هم سړي ته ډېر خوند ورکوي، خو دې سره سره یې لیکنې بڼه له عامې محاورې او همدارنګه د پښتو ژبې له اوسني ګرامري جوړښت سره اړخ نه لګوي. د نثر دا حالت کېدی شي د دوو عواملو له وجې رامنځته شوی وي: کېدی شي دهغه وخت د پښتو محاورې ژبه همدا شان یا دې ته ورته وه، یا هم نثر په دې بڼه لیکل کېده او یا هم دعربي ژبې تاثیر پر فارسي او د فارسي هغې پر پښتو پرېوتی وي. دماکو د نثر په ځینو جملو کې مبتدا او خبر، فاعل او فعل، مضاف او مضاف الیه سره وړاندې وروسته شوي دي. دا کار د پښتو له اوسني ګرامر جوړښت سره توپیر لري، کېدی شي د لرغوني دورې نثر همدا بڼه درلوده. خو بیاهم د سلیمان ماکو نثر، د پیر روښان او دهغه د پلویانو او همدارنګه د اخوند درویزه او دهغه د پلویانو تر نثر ډېر زیات خوږ، سوچه او روان دی؛ تکلف، تصنع او ابهام په کې نه شته. دلته به دماکو دنثر څو ترکیبونه راوړو او بیا به د پښتو ژبې د اوسني ګرامر جوړښت اصله بڼه هم ورسره ولیکو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلیمان ماکو نثر او سنی ګرامري جوړښت

وایم حمد و سپاس د لوی خاوند دلوی خاوند حمد وسپاس وایم
چې دی بادار د کونینو او رحمت د ثقلینو چې د کونینو بادار او د ثقلینو رحمت دی
په ویاله د ارغستان هوسېږم د ارغستان په ویاله هوسېږم
مراقد د اولیا او واصلینو مې پلټل د اولیا او واصلینو مراقد مې پلټل
او تنهاکې وچاودلې د پښو او د پښو تنهاکې مې وچاودلې
سړېن نه درلود زامن سړېن زامن نه درلودل
او هر کله به ویل خپل ورور ته او هر کله به یې خپل ورور ته ویل

او داسې نور ترکیبونه او نورې جملې. دلته موږ د سلیمان ماکو په نثر کې ګورو چې نثر له عامې محاورې څخه لرې شوی دی. په پښتو کې عامه قاعده همدا ده چې اول فاعل راځي بیا فعل، اول مبتدا وي او بیا خبر، خو د سلیمان په نثر کې دا قاعده تر ډېره حده معکوسه ده.

هـ - د سلمیان ماکو په نثر کې پخواني لغتونه: د سلیمان ماکو په نثر کې پر هغو سوچه پښتو کلمو سربېره چې اوس هم په پښتو کې استعمالېږي، ځینې داسې نور پښتو لغتونه هم شته چې یا اوس نه کارېږي او یا هم په لږ شان لفظي تغیر او تحول سره کارېږي، یانې متروکې کلمې په کې شته او

(c) ketabton.com: The Digital Library

متحولې کلمې هم په کې شته. دلته به دې ډول کلمو ته هم اشاره وکړو:

په تذکرة الاولیا کې	اوسنۍ بڼه
کارېدلې بڼه	
پښتنخا	پښتونخوا
مرستون	مرسته غوښتونکی
(په پخوانۍ بڼه اوس متروکه ده)	
لولې	ویلې
جوبله	(جنګ) پخوانۍ بڼه یې متروکه ده.
پېناه	پوه پنا
دښنه	دښمن
کتارو	تورې (پخوانۍ بڼه یې اوس متروکه ده)
ډېر زښت	ډېر زیات
ګڼون	شمېر
کول	کورنۍ
بمیا (بومیا)	لاربنود (بمیا کلمه هم اوس متروکه ده)
وګروهېد	متعقد شو (دا بڼه هم اوس متروکه ده)

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ځینې نورې کلمې چې اوس یا متروکې دي او یا یې هم بڼه کې بدلون راغلی دی. په تذکرة الاولیا کې ددغسې مړو او پخوانیو کلمو شتوالی ددې تذکرې لرغونتیا او ځانګړتیا په ګوته کوي.

ب – په تذکرة الاولیا کې د نظم برخه: په تذکرة الاولیا کې د نثر په انډول د نظم برخه نوره هم نړه او سوچه پښتو ده. ددې یوه وجه دا ده چې پښتانه شاعران له خپل ولس سره ګډ اوسېدل او ولس هغه وخت معمولاً د غرو په لمنو کې اوسېده. دغرو لمنې په طبیعي ډول د پردیو ژبو له اغېزو څخه لرې او خوندي وې. عربي او فارسي ژبو اکثره د دربارونو له لارې خپل تاثیرات ښندل، نو هغه شاعران چې له درباره لرې وو، له دې تاثیراتو خوندي وو. دا چې خپله د سلیمان ماکو په نثر کې دعربي او فارسي ژبې تاثیرات شته، ددې وجه داده چې کېدی شي، سلیمان ماکو دعربي او فارسي ژبو کتابونه لوستي وي او دا تاثیر یې ترې راخپل کړی وي. په تذکرة الاولیا کې ټول (څلور) ټوټې شعرونه راغلي دي. چې لومړی یې د بېټ نیکه مناجات دي، دویم یې د شیخ ملکیار غرشین یو پارکی دی، درېیم یې د شیخ اسماعیل یو پارکی او څلورم یې د قطب الدین بختیار یو نظم دی.

د بېټ نیکه په شعر کې یوازې د (خدایه) کلمه راغلې چې هغه هم له فارسي سره مشترکه ګڼل کېږي، نور په ټول شعر کې د بلې ژبې

کلمه نه شته. دملکیار غرشین په شعر کې د (اسلام) او (غازیانو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلمې راغلي چې ريښه يې عربي ده، نور ټول شعر کې د بلې ژبې کلمه نه شته.

د شيخ اسماعيل په شعر کې يوازې د (ابليس) او (لعين) کلمې، چې عربي دي نور د بلې ژبې لغتونه په کې نه شته او د قطب الدين بختيار په شعر کې بيا ګرد سره د بلې ژبې کلمه نه شته، ټول سوچه پښتو لغتونه دي. له دې پورتنيو څرګندونو دا ښکاره کېږي چې په تذکرة الاوليا کې راغلي شعرونه (د قطب الدين بختيار له شعر پرته) چې له ماکو سره هم مهاله ګڼل کېږي، نور شعرونه د ماکو ترمهاله پخوا ويل شوي دي. ځکه نو دې ټولو شعرونو کې د پرديو ژبو تاثيرات له کومې يوې دوو کلمو پرته نه ترسترګو کېږي، زموږ له پورتنيو خبرو څخه دا نتيجه راځي چې په تذکرة الاوليا کې راغلي شعرونه د ماکو تر نثر پخواني او زيات سوچه دي او اکثره په ملي اوزانو کې دي، په خپله د سليمان نثر هم تر يوه حده سوچه، روان او شفاف ګڼل کېږي او د پښتو ډېر زاړه لغات په کې کارېدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیخ میانور او خوشال ترمنځ دیني مناظره

لوی خان خوشال خان خټک ته لوی خدای(ج) یو فوق العاده او خارق العاده استعداد ورپه برخه کړی و. خوشال د همدغه خدای(ج) لورولي استعداد په برکت دومره لوی، څواړخیز او څو بعدیز شو چې د تېرو دریو سوو کلونو په بهیر کې یې پر شخصیت اند او فکر په سوونو څه چې په زرګونو لیکنې شوي خو بیا لاهم د خوشال حق نه دی ادا شوی او لا هم خوشال خلکو ته نوی دی او لا څېړنې او پلټنې ته اړتیا لري. زموږ په دودیزه ټولنه څوک فکر کولای شي چې یو صوفي، عابد او روحاني شخصیت دې لا د بزم او رزم جذبه او ولوله هم ولري او یا دې هم دجام او قام شاعر دخدای(ج) د مینې په خم کې دومره ډوب وي چې هر ظاهربین او ساده لید یې پر لیدلو بریالی کېدلای نه شي. د خوشال پر ټولنیز، سیاسي، ملي او فرهنګي شخصیت او دریځ ډېرې لیکنې شوي، خو د خوشال د دینداری، ایمانداری، دینپالنې (اسلامپالنې) او دینپوهنې برخه او اړخ لازیاتو، دقیقو او نویو څېړنو ته اړتیا لري. که موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دینپوهنه کې د خوشال دفکر او خیال ژورو ته متوجه شو او هغه په ژور ډول تحلیل کړو، نو یو لوی (فقهي) خوشال به مو په نظر راشي.

د خوشال دستارنامه، دهغه ګڼ منظوم اثار لکه فضل نامه، غزلونه، قصیدې او رباعیات ټول ددې ښکارندوی دي چې خوشال د یو لوی فقهي عالم په توګه په اسلامپوهنه کې د یوې ژورې مطالعې خاوند و. څوک چې په دین (اسلام) کې پوره پوره مطالعه او ژورتیا ونه لري د فضل نامې غوندې یو مهم دیني اثر نه شي لیکلای او هغه هم بیا په نظم چې تر نثر یې لیکنه او مفهوم اخیستنه او رسونه طبعاً ډېره زیاته مشکله ده.

موږ دلته د خوشال بابا د دیني معلوماتو او ژورتیا پر ټولو خواوو نه غږېږو او نه دا لیکنه ددې وس لري. یوازې د خوشال پر یوې مثنوي غږېږو چې دا مثنوي دیوې دیني مناظرې یو بشپړ تصویر راکوي. اصلي کیسه دا سې ده چې کله پیر روښان دمغلو پر ضد خپل روحاني تحریک پیل کړی و، نو کله چې دې تحریک زور واخیست، مغل واکمن وارخطا شول، څرنګه چې روښاني تحریک روحاني او اسلامي بڼه لرله نو مغلو فکر وکړ چې ددې تحریک دمخنیوي لپاره باید روحاني شخصیتونه او عالمان پیدا کړي او مقابلې ته یې وګوماري. نو لومړی یې سید علي ترمزي له بخارا څخه پښتونخوا ته راوست، د سید علي

ترمزي د پیروانو او شاګردانو په ډله کې یو هم اخوند درویزه ننګرهاری و چې د روښان پیر مقابلې ته یې ځان تیار کړ.

پیر روښان د خپل تحریک لپاره د (خیرالبیان) په نامه یو کتاب ولیکه چې له دیني نصیحتونو ډک دی. خو اخوند درویزه دا کتاب ((شرالبیان) وباله او د (مخزن الاسلام) په نامه یې د خیرالبیان پر ضد یو کتاب ولیکه، دارنګه اخوند درویزه د پیر روښان د نورو کتابونو پرضد هم نور کتابونه ولیکل.

د اخوند درویزه ((مخزن)) د سوات په پښتنو کې ډیر مشهور شو ، خوشال خان او افضل خان خټک ددې شهرت وجه دا ګڼي چې دا وخت پښتنو کې علم کم و ، نو یو سړی په کې په ډیر کم علم او پوهې هم ملا یی، پیری او مرشدی ته رسېدلای شو. په همدې وخت کې اخوند درویزه په سوات کې راپیدا شو او ډیر ژر یې شهرت ترلاسه کړ، خوشال په خپله یوه مثنوي کې وایي:

درویزه له یوه لوري راپیدا شه
چې یې حال ددې عالم مشاهده کړ
د روښان خیرالبیان یې و لیدلی
ده چې خوشې میدان بیا موند سخن ګوی شه
هغه وخت په پښتنو کې علم نه و
په مذهب سني مذهب و خارجي شه
ملنګانو به یزید ته کړې ښکنځلې
ملنګان یې واړه وایستل له سواته
په دا فن یې د درست سوات عالم مطیع کړ
هیڅ یې نه کاته دې بدو وفساد ته
درویزه د درویزې او ګره خوړلی

په لږ علم په دا ملک کې لوی ملا شه
خپل کتاب یې په کاغذ مسوده کړ
هغه هم مجهول بیان و ناپسندلی
په ویل کې چې یې زړه و هسې توی شه
درویزه تر مجهد ورته لا ښه و
د یزید په ستایش کې مارجي شه
درویزه به د یزید ډوزې بللې
دوم یې وواهه له کشفه و کراماته
وعالم ته یې خپل کتاب بدیع کړ
نقش یې کېناوه په مکر خپل اولاد ته
په دا مکر یې حلوا سره لړلې...))

(c) ketabton.com: The Digital Library

درویزه په پښتنو کې دومره مطرح شو چې چا دهغه نوم او د هغه د کتاب نوم په اصطلاح ((بې او دسه)) نه شو اخیستلای، پلویانو یې ویل چې الهام دی چې پر ده را اورېدلی دی. نو ځکه یې احترام پر خلکو واجب دی.

خوشال لومړنی شخص و چې دا حاکمه فضا یې ماته کړه، اخوند درویزه یې کم علمه او کتاب یې ورته له ګڼو، علمي، انشایي، املایي او نورو غلطیو ډک وباله. د خوشال دې سیاسي او مذهبي جرئت په پښتنو او په تېره بیا په سوات کې یوه سخته هنګامه جوړه کړه، ډېر کسان د اخوند درویزه ملاتړ ته راووتل، په تېره بیا د اخوند درویزه مریدان او پیروان چې په دې ټولو کې شیخ میانور زیات مطرح و، دی د درویزه له خاصو مریدانو او ارادتمندانو څخه و، ده دوه نور شاګردان هم درلودل، دوی ټولو پر خوشال د تکفیر تور پورې کړ.

شیخ میانور له محلي دربار سره هم ښه راشه درشه درلودله او دهغوی له خوا هم ورته دا پلان ورکړل شوی چې خوشال په عامه ذهنیت کې تکفیر کړي. دمغلو له دې کار څخه هیله دا وه چې کله خوشال په عامه ذهنیت کې کمزوری شي، نو د پښتنو د راټولولو او انسجام چانس به یې کمزوری او کم شي. نو ددې کار لپاره یې شیخ میانور ګومارلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله لوی خان خوشال بابا ملا میانور په یوه مثنوي کې داسې معرفي کوي:

چې ملا میا نور په حکم درومي ... هم هغه د سوات په ملک کې سیری مومي
میا نور که د خنزیر غوښې روا کا ... ملایان به باندې ژر جوړه فتوی کا
د میانور مفتیان د سوات په ملک کې دوه دي ... الله داد او دوست محمد دواړه یاوه دي
لږ یې علم لږ یې لوسته ډېر تقریر کا ... چې میا نور یې لمسوي هغه تزویر کا
اوس به وایم د میانور له حقیقته ... چې تر نورو نه دی لا دی بد خصلته

همدې میانور پر خوشال د (کفر) او (رفض) تورونه پورې کړل، خو خوشال بابا پر اخوند درویزه او دهغه پر مخزن چې کوم انتقادونه کړي وو، له هغو څخه هېڅکله په شا نه شو. بلاخره خبره تر دې حده ګرمه شوه چې د سوات یو شمېر سپین ږیري خوشال بابا ته راغلل او ورته یې وویل چې ستا د خبرو په وجه په سوات کې یوه غټه ستونزه او هنګامه پیدا شوې، یا معذرت وغواړه او یا هم له شیخ میانور سره مناظرې ته حاضر شه! لوی خان خوشال خان په خپله یوه مثنوي کې چې تاریخ مرصع کې افضل خان خټک ټوله رانقل کړې، د دې مناظرې کیسه کړې. سرمحقق زلمی هېوادمل ((ننګیالی د زمانې)) کې په دې باب لیکي:

((خان دلنګر خټک په کلي کې اوسېده، یوه ورځ خان د توت د یوې ونې لاندې استراحت کاوه، چې ملک سنګر،

(c) ketabton.com: The Digital Library

میاخان او مانکی خوشال خان ته راغلل، دی یې پاڅوه او ورته یې وویلې ټول سوات کې دې هنګامه جوړه کړې ده، ته لاخوب کوې هېڅ تشویش درسره نشته، بیا یې خوشال خان ته وویل چې موږ دقوم دمشرانو په توګه دا وظیفه لرو، چې دفساد مخنیوی وکړو، نو ته یا د اخوند درویزه کتاب ومنه او یا د شیخ میانور د اعتراضونو ځواب ووایه. خان د اخوند دکتاب له منلو انکار وکړ او بلاخره دمیانور او خوشال خان ترمنځ مناظره وشوه او شیخ میانور ډېره بده ماته ومونده له بیا خلکو د دواړو ترمنځ صفایي وکړه. خوشال خان له شیخ میانور دا غوښتنه هم وکړه چې له مغلي حکومت سره به سازوباز نه کوي، په څرګنده خو شیخ میانور له مغلو سره دخط کتابت نه کولو وعده وکړه خو نیت یې ښه نه و او په پټه یې خپل کار کاوه.))

دا بیان او د مناظرې نور اړخونه خوشال په خپله یوه غرا مثنوي کې په ډېر ښه ډول بیان کړي دي. دا مثنوي ټول (۱۲۹) بیتونه لري او تاریخ مرصع ټوله په خپلو پاڼو کې خوندي کړې ده. دلته به ددې مثنوي ځینې بیتونه دمناظرې د ځینو اړخونو د روښانتیا لپاره راوړو:

یو کتاب دی درویزه سره جوړ کړی — د سوات خلک یې له کل عمله موړ کړی
نامعقول مجهول بیان په کې بې ځایه — په کې بد د سید وایه یزید سایه
غه جاهل ملا چې دا کتاب وه کښلی — ما په دا خبرو دی وډېر ښکنځلی
مخامخ یې دا خبرې کړې نمایې — چې ته سکه رافضی یې چې دا وایې
رد بدل ددې خبرې ډېر مذکور شه — دا مذکور په واړه سوات کې مشهور شه
هغه نیم ملا روان شو ومیانور ته — خس خشاک یې سره ولوستل تنور ته
سرې لمبې دمیا په کور شوې بلې — نه وه څوک چې یې اوبه کړې باندې تلې
ملایان شیخان یې واړه سره ټول کړل — ګڼه یې واړه په دا ویر په دا آشول کړل
میا نور وې چې اخون زموږ امام دی — درست مخزن پرې نازل شوی په الهام دی
په مخزن باندې چې بد وایې کافر دی — د کافر قتل په شرح معتبر دی
هر سړی چې په مخزن باندې څه وایي — په دنیا کې تر ساعته به څوک پایي
ملکان شیخان یې واړه سره ټول کړل — په خپل سحر او افسون یې کچ وګول کړل

خوشال خان په دې مثنوي کې وایي چې ددې ملکانو او شیخانو له ډلې څخه یو میاخان، بل ماڼکی او بل سنګر ماپسې راغلل او زه یې په سنګر خټک کې له خوبه پاڅولم او راته یې وویل چې راځه موږ سره لاړ شه او دمیانور ځواب ورکړه، دې سپین ږیرو وویل چې دسوات د ټولو ملایانو همدا پرېکړه ده. خوشال بابا ورته په ځواب کې وایي چې ما د محمد(ص) دین منلی دی، له قرآن پرته بل کتاب نه منم، درویزه نه کوم امام دی او نه هم مجتهد دی. خپله درویزه هم یو خام شخص دی، تاسو هم خام یاستئ او د مخزن کتاب هم خام او نیمګړی دی. خو لنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې خوشال د دې مشرانو په زيات ټينګار له ځايه پاڅېد او روان شو. بابا وايي:

ملا مې وتړله زه هم ورروان شوم
يک تنها مواجهه په ډېر خصان شوم
مخامخ و بله کېناستو په قهر
په خبرو مو ښکاره کړو سره زهر
ملکان شيخان عالمان واړه سره شول
د خپل لوري شک يې واخيست مسخره شول
چې به ما ورته ويل کول د مشکو
ابلعانو به ويل کول له پشکو
نه يې علم، نه يې عقل نه يې پوهه
فضليت ورځني لري په ډېر کروهه

خوشال بابا وايي، کله چې ما او ميا مناظره پيل کړه، نو کوم منصف هئيت ولاړ نه و چې وروسته قضاوت وکړي او نتيجه اعلان کړي، د سوات شيخانو اکثره د ميا نور پلوي کوله، خو څرنګه چې ماته د ميا خط او کتابت، املا او انشا او ټوله پوهه معلومه وه نو ځکه مې لاس پرې بر و او بل زه په خپل اقرار کې صادق يم او د همدې صداقت په وجه مې په لوی ذات ډډه لګوله، نو ځکه خو ميان نور په خپلو خبرو کې راګير شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیخ مـــیا نور پـه خپلـه پـه تقریـر کـې
مـا وده وتـه چـوټ ورکـړی پـه تحریـر کـې
مـا وې تـه لـکه ګیـدړ پـه خم کـې شـین یـې
خـو بیـاهم هغـه ګیـدړ یـې کـه رنګـین یـې
ښـا پـېرک غـونـدې پـه شـپه پـه هـوا درومـې
چـې سـبا پـه تـا راځـي هزعیـت مـومي
پـه خطونـو کـې چې ځـان و مـاته ستایې
مـا هـم پېژنـې چـې څـوک یـم دا څـه وایـې
خپـل صـفت دې یوسفــزیو وتـــه وایـــه
زه دې پېـژنم چـې څـه یـې ځـان مـه سـتایه

پرمخزن باندې د خوشال دمانیز اعتراض یو ټکی دا و چې اخوند درویزه قصداً غوښتي د امام حسین(رض) د شهادت پـه پېښه کې یزید ته برائت ورکړي او داسې وښیي، چې ګنې یزید نه غوښتل چې امام حسین(رض) شهید کړای شي، پـه همدې وجه یې هغو اشخاصو ته چې پـه دې کار یې لاس پورې کړی و ان دمرګ سزا ورکړه. خوشال بابا د اخوند درویزه دا ډول توجیهات او تعبیرات پـه کلکه ردوي او ځان د پیغمبر(ص) د سنتو ډېر ټینګ پابند ګڼي، پـه یوه بله مثنوي کې پـه همدې اړه وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې چون په اعتقاد کې پاک سني يم
په کندن د رافضي د بېخ کني يم
رافضي يې په داهسې اعتقاد کړم
په درست سوات يې په تکفير په رفض ياد کړم
د صديق او د فاروق په عشق کې طاق يم
د عثمان او د حيدر بنده قلماق يم
آل اولاد د پاک رسول واړه منمه
امامان نبيان هم ټول واړه منمه
د يزيد پليد په کار باندې لعنت دی
چې د آل سره يې کړی شرارت دی
د بد ذات مکر په علم کې لا بد شي
حبشي چې په مخ خال کېږدي لا بد شي.

لکه څنګه چې د مخه مو يادونه وکړه شيخ ميانور مخکې تر دې د مغلو په لمسه په سوات کې پر خوشال د (تکفير) او (رفض) تورونه پورې کړي وو. خو خوشال دا ټول تورونه بې بنسټه وګڼل، برعکس يې په اخوند درويزه او ميانور (يزيد) ته په لېوالتيا او هغه ته په برائت ورکولو ګرم وګڼل. خوشال په خپله مناظره کې د مخزن او نورو ديني مسايلو په باب له ميانور څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنې وکړې، میانور سم ځواب ونه شو ویلای. خوشال بابا وایي:

الـــغرض چې یې خبره کـــړه اغازه | ډېـر یـې وویـل دخپلـې نیـا لـه نمـازه
بیا یې وستایه نیکه په څو څو رنګه | مستمع شه درست عـالم ورتـه پـه درنګـه
خدای یې وتړلـــه ژبه لـــه افسونه | دا وینـا دده لــه ژبـــې شـــوه بیرونــه
مونږه کـــله وایو دا چې یزید ښه دی | پـه مخـزن کـې دروېـزه سـتایلی نـه دی
بل زمونږ مـــخزن نه شعر نه بیـان دی | بیـان شـوی نظـم نـه دی پـه بـل شـان دی
که یې ګورې درست په شان دصحیفو دی | چـې راتلـې بـه لـه اسـمانه لـه هغـو دی
یـو پښتو کلام موزون دی بیان شوی | پـه معنـی کـې دګرګـون دی بیـان شـوی.

هغه ځای چې د ربښتیا مهتاب ښکاره شي | دکتـــانو تــاروپود پـــاره پـــاره شـــي
د ربښـــتیاو کرامـــت لکـــه بـــاران دی | د دروغـــو ســـحر دوړې د بیابـــان دي
چې دده دخولـې نـــه دا خـــبرې وشوې | ته به وایې چې په هر چا اوبه توی شوې
پـــوهېدم چې زمـــا ستاره وه پـــرې غـالبه | لـه هیبتـه یـې دا ووتـه لـه ژبـه
که یې بیا کړه دافسون ښـېوه اغـــازه | سود یې نه و دې ما ژبه شوه پرې سازه
مـا وې بـس دمامقصـود مـراد هـم دادی | مـدعي پـه دا خبـرو خـود اګـاه دی
د یزید ستاینه ګـورئ په مخزن کـــې | هم مخزن نه دی د شعر پـه هـر فـن کې
زه هم دا خبره وایــم خلکه خـــامـــه | خـو دیـې وویـل خبـره شـوه تمامـه
چې هـــرڅوک پـه دا خبره خبردار شو | چـې کینـه وخـې دروغـې طلبګـار شـو
شیخ میا نور چې خجل ورغی ترکوره | په داخپل ویل پښېمان شو را شه ګوره

چې د خوشال او میان نور ترمنځ مناظرې دوام کاوه، د شیخ میان نور منطق کمزوری کېده، په پای کې میان نور مات شو، ددې په خاطر چې میان نور په سیمه تر دې زیات ونه شرمېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا دهغه پلویان، دیني او علمي مناظره پـه جنګ او جګړه وانه
ړوي خو خوشـال پـر میـانور بـل هـېڅ شـرط کېښـود ، یـوازې دا
شرط یې پرې کېښود چې نوره بـه دمغلو پلوي نـه کـوي، میـان
نور هم دا شرط قبول کړ، خو پـه زړه کې یې بیـاهم مغـل پـالنـه وه
او تر پایه خپلې دې ژمنې ته وفادار پاتې نه شو.

خوشال بابا نه یوازې د شیخ میـانور لـه منـاظرې سره مخـامخ
شـوی، بلکې د ژوندانـه پـه اوږدو کې یې دېر ځلـه لـه دېرو کـم
علمـه او کـم سـواده ملایـانو او شـیخانو سره مقابلـه او منـاظره
کړې چې دده ګڼ ادبي اثار ددې مناظرو او ځوابونو ښکارندوی
دي. کلـه چې مـوږ پـه دینپوهنـه کې دخوشـال بابـا ژورلیـدونو ،
علمـي او اصـولي دریـځ تـه متوجـه شـو نـو خوشـال مـو دسـتر
اسـلامپوه، اسـلامپال او متبحـر فقهـي پـه توګـه پـه ذهـن کې
انځور شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"شگه حاکم"
او د شگه حاکم په هیله

وايي اجتماعي مسایل د ساینسي هغو په شان نه دي، چیگ په وضع شویو فورمولونو حل شي، خو کله چیگ سؤیگ ولسي پوهیگ ، متلونو، د روزکگار تجربو او د پوهانو پخو خبرو ته وکگوري، نو له داسیگ کره خبرو او پخو تجربو سره مخامخیگږي چیگ د ساینسي فورمولونو په شان د اجتماعي ستونزو د غوخگولو لپاره کار کوي. زما په اند استاد الفت د افغاني تگولنیگ هغه لیکوال دی، چیگ یوه شگه اجتماعي طبیب او حکیم ورته ویلای شو. الفت د افغاني تگولنیگ د ژوندانه بیگلا بیگلو ناخوالو ته متوجه شوی، هغه ییگ په أیگر دقت خگیگؤلي او د درملنیگ نسخه ییگ ورته وؤاندیگ کؤیگ ده. د استاد الفت د علاج نسخیگ ، أیگریگ پیسیگ او أیگر لکگشگتونه نه غواؤي؛ دهریگ ناروغة لپاره ییگ په خپله تگولنه کیگ درمل په کگوته کؤي، د ده د نسخیگ تطبیق یوازیگ فکر او سوچ غواؤي، نور خگه نه غواؤي. الفت د یویگ تگولنیگ د سلو مرضونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوا يوازيگ دا كگنگي چيگ ((شگه حاكم)) پريگ حكومت وكؤي، د ((شگه حاكم)) پـه اؤه كيگدى شـي، خلكـو سـره مختلف تصورات وي، خو د الفت په نظر تر تگولو شگه حاكم ((قانون او عدالت)) دى. د الفت په نظركه په هره تگولنه كيگ قـانون او عـدالت واكمـن شـو ، نـو د تگولنيـگ أيگريـگ ناخواليـگ پريـگ اواريگـدى شـي. حگكـه چيـگ قـانون او عدالت نه چا نه رشوت اخلي ، نه د چا ليـاز كوي، نـه پـر چا ظلم كوي، نـه د چا سفارش كوي، نه چا سره كينـه كوي، نـه نفسـي خواهشات لري، نه خپل پيگژني او نـه هـم پـردى. نو د داسيگ يويگ وسيليگ په واكمنة سره د هر چا حقوق خوند ي كيگاٍي او خگوك د چا پر حق تيگريگ نه شي كولاى. دلتـه بـه د اسـتاد الفت د نثر دا وؤه، خو له مانا أكه تگوتگه كتگ متگ راوؤو او بيا به خپليگ خبريگ پريگ وغحگوو.

شگه حاكم

هغه چيگ نه نفس لري ، نه نفسي خواهشات.
نه ييگ په زؤه كيگ أار شته ، نه طمع.
نه له موقوفة ويگريگاٍي، نه د ترفيع پروا لري.
نه رشوت اخلي نه تنخوا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه له چا سره عناد لري، نه د چا مراعت کوي.
نه د چا مخ ګګوري، نه د چا خګتګ.
نه زورور پیګژني، نه غریب.
نه خګوک ییګ خپل دي او نه پردي.
نه چا ته خاندي، نه چا ته وچولی تریووي.
پو هیګإئ د ا حاکم خګوک دی؟
هو ! قانون او عدالت.

استاد الفت د بشري تګولنیګ د سوکالة لپاره قانون او عدالت تر تګولو شګه وسیله ګګنګلیګ، چیګ هیګخګ بل خګیز ورسره د پرتلیګ وؤ نه دی، وګګوریٔ لوی خګشګتن تعالی (ج) ،د بشر د لارشګوونیګ لپاره وخت پر وخت خپل پیغمبران رالیګإلي او هر پیغمبر خلکو ته د خدای (ج) د نظام او قانون د تطبیق سپارشګتنه کؤیګ ده. اسماني ادیان د بشر د ژوندانه د مهارولو، نیګکمرغه کولو او هوساینیګ لپاره ستر قوانین دي. اکثره بشري قوانین د همدیګ قوانینو په رنګا کیګ وضع شوي دي، بشر د خپل ژوند د هر اؤخ د انتظام لپاره بیلابیګل قوانین وضع کؤي، خو وضعي قوانینو تر هغه وخته دوام موندلی او تطبیق شوي چیګ عدالت ورسره ملګګری وي. هغه وضعي قوانین چیګ ظلم او استبداد ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملکګري وو او د عدالت خګرک په کيګ نه وو، أيګر لنأ عمر لرلای دی او بيا هم د أيګر سخت فشار او لکګشګت په وسيله په أيګره سختة تطبيق شوي، خو کله چيګ زور ختم شوی قوانين هم له منحګه تللي دي، خو استاد الفت د شګه او تلپاتي حاکميت لپاره له (قانون) سره (عدالت) هم ملکګری کوي، د الفت په نظر (عدالت) د (قانون) ژوند تظمينوي او دواؤه بيا د خلکو ژوند. د تګولنپوهانو په نظر له قانون پرته يوه تګولنه اصلاً ژوند نه شي کولای، د طبيعت تګول نظام د يوه نظم يا قانون تابع دی، که د يويګ شيګبيګ لپاره هم د کائينانو او حګمکيګ په نظم يا قانون کيګ کګأوأي را منحګته شي نو دا نؤة به د سترکګو په رپ کيګ تباه شي، دغسيګ د بشري ژوند هره خوا چيګ محاسبه کؤو که له قانون خګخه خالي شوه، نو له سختيګ کګأوأة او انارشة سره به مخامخ شي، حتی د حګنکګله د حګناورو تر منحګ هم يو أول قانون حاکم دی. استاد الفت د بشري ژوند دغه ستر ارزشګت او ضرورت په أيګرو لنأو تګکو بيان کؤی دی. پوهانو حتی د قانون پر تعريف غتګيګ غتګيګ ليکنيګ کؤي او کتابونه ييګ پريګ ليکلي، خو استاد الفت بيا په داسيګ يوه لنأ اعجازي کلام کيګ قانون او عدالت تعريف کؤي او اهميت ييګ ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خګرکګند کږی چیګ سږی ییګ په یو وار لوستلو د مانا تل ته کوزیګدی شي.

۱- نفس او نفسي خواهشات.

۲- اًار او طمع

۳- موقوفي او ترفیع

۴- رشوت او تنخوا

۵- عناد او مراعات

۶- مخ او خګتګ

۷- زورور او غریب

۸- خپل او پردي

په بشري تګولنه کیګ چیګ هر خګوک د پورتنیو مفاهیمو پر وږاندیګ حګان تګینکګ نه کږي، یا د نفسي خواهشاتو تابع شي یا له چا خګخه نامشروع طمع وکږي، یا واًار شي، یا د خپل حګان د موقف د لوږاوي لپاره کار وکږي او یا رشوت ته زږه شګه کږي، یا چا سره عناد او مراعات وکږي، چا ته مخ شګکاره کږي او چا ته خګتګ، زورور او غریب ته په یوه سترګه ونه ګوري او له خپل واک و حګواک خګخه د خپل او پردي پر وږاندیګ نا سمه کګتګه پورته کږي، نو طبیعي خبره ده چیګ عدالت نه تطبیقیږي او تګولنه له توازنه وحګي، کله چیګ په تګولنه کیګ بحران رامنحګته شي، نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تګولنیګ تګول وکګؤي ورسره زیانمنیګاِي او هیګچا تـه هـم، بیـګ ضـرره کګتګـه نـه رسـیګاِي. نـو اسـتاد الفـت پـه تګولنـه کیـګ د بحرانونو د تګولیز حل پـه خاطر وايي چیـګ تګولنـه باید

د ((شګه حاکم)) له خوا کنتګرول شي او دا ((شګه حاکم)) دده پـه نظـر (قـانون او عـدالت) دی، د مانیزیـګ شـګکلا تـر خګنکـګ د اسـتاد الفـت ددیـګ نثـر لفظـي شـګکلا هـم د زیاتیګ ستاینیګ وؤ ده.

دا نثـر پـه حقیقـت کیـګ تګولیـګ یـوولس جملیـګ لـري، چیــګ تګولیــګ تامیــګ جملیــګ دي. داســیګ تامیــګ جملیګ چیګ اوإدیګ نه دي، هره جمله پـه حقیقت کیګ لـه دوو برخو جوؤه ده، دویمه برخه کـه خګـه هـم پـر (نـه) بانـدیګ پیلیګاِي، خو له لومؤة برخیګ سره ارتبـاط کیـګ ده، د تاکیـد او خوند لپاره شګه پیوستون شګیي، په دیګ نثر کیګ لکـه د لنأیګ کیسیګ پـه شان شګه تلوسه موجوده ده ، سؤی پـه پیـل کیـګ نـه پوهیګاِي چیـګ ((شـګه حـاکم)) یانیـګ خګـه؟ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خګوک به وي؟ خو دا تلوسه او غوټګه لکه د لنأيګ کيسيګ د
اوج په شان په وروستة برخه کيګ خلاصيګإي.
پوهيګإئ ! دا حاکم خګوک دی؟
هو ! قانون او عدالت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو لرغونو ادبیاتو کې شعري فورمونه

کله چې موږ په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د شعري فورمونو په اړه خبرې کوو، نو پر دوو ډولو ادبیاتو له بحث سره مخامېږو: ۱- پښتو ګړني یا شفاهي ادبیات ۲- پښتو لیکني یا تحریري ادبیات.

۱-پښتو ګړني ادبیات: په پښتو ګړنیو ادبیاتو کې ګڼ شمېر شعري فورمونه شته، خو ددې شعرونو د زمان او مکان حد او برید ټاکل اسانه کار نه دی، د اکثرو صاحب او شاعر معلوم نه دی. ددې تر څنګ په خپله د ګړنۍ شاعرۍ شعري فورمونه هم د لیکنۍ شاعرۍ په انډول لږ مشخص (ثابت) او کوټلي دي. یوازې لنډۍ په پښتو ګړني ادب کې مشخص او ثابت شکل لري، نور اکثره یې دیوې یا څو مسرو، اوازونو یا اهنګ په تغیر او تبدیل سره خپل شکل بدلوي، خو دابدلون دومره هم نه دی چې یو شعري فورم یا شکل له بل سره منطبق یا مدغم شي او یو بل سره یې توپیر ونه شي، په پښتو ګړنۍ شاعرۍ کې لنډۍ، کاکړۍ، نارې یا غړونه، لنډکۍ، سروکي، فالونه، د ښادۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سندرې، نکلونه، چاربيتې يا بګټۍ او ځينې نور راځي، له لنډۍ پرته نور اکثره شکلونه بيا خپل منځ کې نور نور شکلونه يا لږ تر لږه د بڼې تغير لري. لنډۍ يوازينۍ شعري فورم دی، چې د اهنګ، د څپو د شمېر او د خج له پلوه يو ټاکلی شکل او چوکاټ لري، چې که يو هم پوره نه وي، لنډۍ نه جوړېږي. د اهنګ له پلوه د لنډۍ وروستۍ توری(غږ) بايد حتماً يو غږن اواز (واول) وي، په واولونو کې هم يو مشخص واول (ه=a) چې په پښتو کې د ګردې هې (ه) په نوم نومول شوی او زور(zwar) يې هم بولي. د يادونې وړ ده چې تر زور(a) دمخه اواز هم بايد يو متحرک غږ وي چې د دې دواړو غږونو له يو ځای کېدو څخه يو منظم اهنګ يا ريتم رامنځته کېږي، چې مسرې ته رنګ او خوند ورکوي او د وينا پر وخت د سړي خوله پرېږده کېږي. د لنډيو بل خصوصيت دا دی چې هره څلورمه مسره يې خجنه ده، يانې د هرې مسرې پر څلورمې څپې بايد فشار يا خج راشي، چې اصل اهنګ پوره کړي، البته د پښتو شاعرۍ پر هرشعري فورم، خج درې څپې وروسته واقع کېږي، خو د لنډۍ توپير له نورو شعري فورمونو سره دادی چې په نورو شعرونو کې کېدی شي خج د مسرې پر لومړۍ، دويمې، درېيمې، يا څلورمې مسرې راشي او تر هغې درې څپې وروسته څپه خجنه شي، يانې درې څپې وروسته څلورمه څپه خجنه کېږي، خو په لنډيو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د لومړۍ مسرې ځلورمه څپه خجنه وي او بیا نور تر پایه همدا قاعده تعقیبوي او دا فورمول پر ټولو لنډیو یو شان د تطبیق وړ دی.

د څپو او د مسرو شمېر له مخې هم لنډۍ واحده قاعده لري، لنډۍ دوه مسرې لري، چې لومړۍ یې نهه څپې او دویمه یې دیارلس څپې ده، د لنډۍ د دواړو مسرو د څپو ټولیز شمېر دوه ویشتو (۲۲) څپو ته رسېږي، له نورو ټولو پښتو شعري فورمونو سره د لنډۍ توپیر دادی چېددې د مسرو او څپو شمېر مطلق او غوڅ دی او تر هغو زیاتېدی او کمېدی نه شي، خو په نورو شعرونو کې دا مطلقیت عام نه دی، څرنګه چې د پښتو ګړنۍ شاعرۍ د اکثرو شعري فورمونو وخت او شاعر معلوم نه دی، چې ایا په لرغونې دورې پورې اړه نیسي او که نه؟ او بل د ټولو ګړنیو شعري فورمونو شننه او څېړنه یوه اوږده بحث ته اړتیا لري، نو دا بحث بل وخت ته پرېږدو او اوس راځو د خپل بحث دویمې برخې، د پښتو لیکنۍ شاعرۍ فورمونو او هغه هم د لرغونې دورې شعري شکلونو ته !

د پښتو لیکنۍ شاعرۍ لومړۍ لاسته راغلې بېلګه همغه د امیر کروړ یو شعر دی، چې د محتوا له مخې ویاړنه او د فورم له مخې داسې ډول شعري یا منظوم فورم دی چې نه په بشپړ ډول د پښتو ولسي شاعرۍ له پخو بېلګو یا شعري شکلونو لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربیتو، بدلو، بګتیو، لوبو او کسرونو سره ورته والی ولري او نه هم له عربي ادبیاتو او نورو ژبو څخه له راغلو شعري فورمونو لکه غزل، قصیده، مخمس، مسدس او نورو سره ورته وي، د څېړونکو په نظر دا شعر یا نظم زړو اریایي سندرو ته ورته یو شعر دی، د ځینو څېړونکو په نظر دا شعر د زړو اریایي سندرو او پښتو ولسي سندرو تر منځ د اتصال یوه کړۍ ګڼل کېږي.

د امیر کروړ شعر اته بنده لري چې په هر بند کې یې درې مسرې دي، د سر بند درېیمه مسره یې بیا پر دوو برخو وېشل کېږي، په حقیقت کې دوه مسرې لري، چې دواړه مقفي دي، او د پورتنیو دوه بیتونو د مسرو قافیه تعقیبوي د بند وروستۍ مسرې دویمه برخه بیا له نورو بندونو سره هم تکرارېږي:

زه یم زمری په دې نړۍ له ما اتل نسته
پر هند وسند پر تخار او پر کابل نسته
بل په زابل نستـــه له ما اتل نستـــه

په پورتنیو اتو بندونو کې د لومړي او شپږم بند د مسرو د څپو شمېر سره برابر(څوارلس څوارلس) څپې دی، او درېیمه مسره چې یوه برخه یې تکرار ده شپږ شپږ سېلابه دي، د نورو شپږو بندونو د مسرو شمېر (پنځه لس پنځه لس) څپې دی او ټول واړه بیتونه یې اووه څپې دي، چې په دې ډول یې په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ کې یو منظم اهنګ تېنګ کړی دی، سر بېره پر دې د اول،دویم، درېیم، شپږم او اووم بندونو مسرې د قافیې تر څنګ ردیفونه هم لري او نور بیتونه یې یوازې په قافیو سمبال دي. دا هنګ له پلوه دا شعر د پښتو له نورو ولسي شعرونو سره چې تر امیر کروړ وروسته لاس ته راغلي، یو شان دی، یانې د پښتو ژبې له ځانګړي اهنګ سره سمون خوري. د تاریخي قدامت له مخې بل لاسته راغلی شعر هغه شعر دی چې ابو هاشم ابن الزید سروانې له خوا پښتو ته ژباړل شوی،او په درېیمې هجري پېړۍ پورې اړه لري، دا شعر اصلاً د ابن خلدون و چې (ابي الینا) مشهور و ، د بغداد او سېدونکی او په دواړو سترګو ړوند و ، دا شعر د فورم له مخې غزل دی، خو محتوا یې اخلاقي مسایل دي، چې د درهم د ستاینې په بڼه خلکو ته وړاندې شوی، که څه هم ځینو څېړونکو دا غزل نه دی ګڼلای او قطعه یې بللې خو کله چې مورږ د شعر عربي متن ته مراجعه کوو ، هلته د غزل د فورم له معمول تعریف سره سمون خوري، پښتو متن ته یې که هم وګورو د غزل فورم څرګندوي. سره له دې چې لومړی بیت یې مقفی دی؛(وینه او درهمونه) په کې د قافیې کلمې دي، خو د قافیې پوهنې له مخې د دواړو قافیو تر منځ یوازې یو مشترک توری(ه=a) دی او تردې دمخه توري حرکت هم تغیر لري، نو(سسته او چسته قافیه یې سره یو ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي)، نو ځکه سړي ته په پيل کې د اهنګ له پلوه پوره پوره منطبق نه بريښي، دا کېدی شي د ژباړې ستونزه هم وي، له نظم نه نظم ته ژباړه څه اسانه خبره نه ده، نه يوازې په مطلع کې، بلکې په نورو بيتونو کې هم د قافيو هماهنګي سل په سلو کې منطبقه نه ده، د ابو هاشم ابن الزيد السروانيي له خوا د ابن خلدون دا ژباړل شوی غزل اووه بيتونه لري، چې د سر او پای بيتونه يې دا دي:

ژبـه هـم ښـه وينا کانـدي چـې يـې وينـه
د خاونـد پـه لاس کـې زر او درهمونـه
درهـم ژبــه ده کـه څـوک ژبــور کېـږي
ده وسـله کـه څـوک پـرې کانـدي قتالونـه

د بيټ نيکه مناجات: په پښتو لرغوني شاعرۍ کې يو مطرح شو د بيټ نيکه مناجات دي، چې ټول دوه بنده لري او سربېره پر دې يو بل بيت هم لري، چې د کسر يا تکرار په بڼه ورسره ويل کېږي، د دواړو بندونو د مسرو شمېر يې سره برابر،(شپږ شپږ) مسرې يا درې درې بيتونه دي د او ټول شعر يا نظم د مسرو د څپو شمېر هم سره مساوي دی، (اووه اووه) دی، د محتوا له مخې دا شعر ديني مناجات دي، خود فورم له مخې مثنوي ته ورته ښکاري، ځکه چې هر بيت يې په خپل منځ کې مقفی دی، خو دا چې هر درې بيته وروسته يو بيت د تکرار يا کسر په بڼه لوېږي، له مثنوي څخه خپله بڼه بدلوي، مانا دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مثنوي هغه فورم چې له عربي څخه پښتو ته راغلی هغه شان نه دی، نو ځکه ویلای شو چې دا هم د پښتو ولسي شاعرۍ په اهنګ پخوانیو اریایي سندرو ته ورته دی، چې په پښتو ولسي شاعرۍ کې نور داسي شعرونه هم شته، د بیټ نیکه مناجات:

لویه خدایه لویه خدایه ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوي کې ټوله ژوي په زاري کې
دلته دي دغرو لمنې زموږ کېږدۍ په کې پلنې

دا وګړي د بر کړې خدایه
لویه خدایه لویه خدایه

همداسي بل بند

د شیخ اسمعیل شعرونه: د شیخ اسمعیل دوه شعرونه زموږ لاس ته راغلي دي. د شیخ اسمعیل یو پارکی:

تېښته وکړه له ابلیسه چې ابلیس لعین ښکاره شي

دا ټول پنځه بیتونه لري چې محتوا یې له شیطان څخه د انسان د ژغورنې په اړه ده، د شکل له پلوه غزل ته ورته ده، خو یوازې په دې توپیر چې د سر بیت یې مقفی نه دی. بل نظم یې چې د خرښبون بېلتون ته ځانګړی شوی او بیا خرښبون په نظم د هغه غبرګون ښودلای، دواړه له عربي څخه د راغلیو فورمونو په چوکاټ کې نه راځي او د پښتو شاعرۍ د فورمونو رنګ پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غالب دی خو دې سره سره سل په سلو کې په کوم ځانګړي چوکاټ کې نه ځايږي.

کـه يون دی يون دی   مخکې بيلتون دی
لــه کـسي غره څخه   ځـي خـرښبون دی....

څلور څلور مسرې د يوه بند په شکل يو ځای شوي دي:
د خرښبون نظم:

بـېلتانه ناره مې وسوه پـه کـور بانـدې
نه پوهېږم چې بـه څه وي پـېښ پـه وړانـدې
لـه خپلوانـو بـه بېلېـږم پـه سـرو سـترګو
دواړه سـترګې مـې پـه وينـو دي ژړانـدې

د شـيخ رضـی لـودي او نصـر لـودي نظمونـه: دا دواړه نظمونه چې د يوې ليکلې مشاعرې بڼه لري، د فـورم لـه مخې غزل ته ورته دي، خو داسې غزل چې مطلع ونه لري، يـانې بې مطلع غزل، نور نو د غزل فورم ټول قواعـد پـرې تطبېقېـږي، خـو يوازې دومره توپير لري چې د سر لومړۍ مسره يې بې قـافيې ده او د نـورو مسـرو قافيـه د لـومړي بيت د دويمې مسـرې قافيـه تعقيبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیخ رضی لودي د نظم څو بیتونه:

د الحاد په لور دي ترپلل　　ګروه دې زموږ وکوراوه
موږ رونـلې پـه زیـارنـه　　تـا پـه تـوراوه پـه توراو

او د هـغـه پـه ځواب کې د نصرلودي دا نظم:

د الـحاد په تور تورن سوم　　زه لرغون خو ملحد نه یم
زمادښنه هسې تور راکړي　　کـه مـلحد یـم ددښنه یـم

په لرغوني ادب کې د قصیدي فورم: پښتو ادب ته د قصیدي فورم له عربي ژبې څخه راغلی دی، چې لومړۍ بېلګه یې د شیخ اسعد سوري لاسته راغلې قصیده ده. د شیخ اسعد سوري قصیدې له پوخوالي داسې برېښي چې پښتوادب کې به تـردې دمخـه هـم زیـاتې قصـیدې پنځېـدلې او پـه خپلـه شـیخ اسعد سـوري بـه هـم ډېـرې زیـاتې قصـیدې لیکلـې وي، چـې د قصیدود پخوالي دې معراج ته رسېدلی دی، خو څرنګه چې تر ده دمخه او خپله دده نورې قصیدې عملاً په لاس کې نه شته، نو همدا لاسته راغلې قصیده په پښتوادب کې لرغوني قصیده ګڼلای شو، قصیده هغه ډول شعري یا نظمي فورم دی، چې د سر بیت یې مقفی وي، ردیف په کې اختیاري دی، قافیه په کې حتمي ده، د نورو بیتونود دویمو مسرو قافیه یې د لومړي مقفی بیت قافیه تعقیبوي، د بیتونو شمېر یې له پنځه لسو څخه تر سوو بیتونو پورې اړتکل شوی دی، د قصیدې د معمول

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعریف له مخې قصیده درې برخې لري، چې د پیل برخې ته یې تشبیب یا تغزل وايي او معمولاً د طبیعت ستاینه په کې کېږي، دویمې برخې ته یې اصلي موضوع وايي چې د ممدوح ستاینه په کې کېږي او دریمه برخه یې دعائیه ده. د شیخ اسعد قصیده چې د محمد سوري (د سوریانو واکمن زنداني کېدو او وفات) ته ځانګړې شوې د محتوا له مخې یوه دردونکې ویرنه ده.

دا قصیده د محمد سوري د مرګ رنه انځورګري کوي او پر سړي باندې ډېر تاثیر ښندي، دا قصیده ټوله ۴۴ بیتونه لري چې د قصیدې له معمول تعریف سره سم ټول اړخونه یې رانغاړلي دي، د سر ، منځ او پای څو بیتونه یې دادي،:

د فلک له چارو څه وکړم کوکار
زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار
هر غاټول چې په بیدیا غوړېده وکا
ریژوي یې پاڼې کاندي تار په تار

د منځ بیتونه:

زموږ پر زړونو دې نن بیا یو غشی وویشت
ودې ژوبلله په دې غشي هزار
پر سوریو باندي ویر پرېوت له پاسه
محمد واکمن چې ولاړی په بل دار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پای څو بیتونه:

سخ پـــه تـــا ای مـحمده د غـور لمـــر وې
پـــه نـــړۍ بـه نـه وي ستـــا د عـــدل ســـار
که سوري دې پر ننګ وير کاندي ويرمن سول
هـــم بـــه ويـــا ړي ســـتا پـــه نوم ستا په تبار
په جـنت کـــې دې وه تـــون زمـــوږ واکـــمنه
هـــم پـــر تـــا دې وي ډېـــر لور د غـــفـــار

ددې قصيدې هندسي شکل په دې ډول دی:

+____________________
قافيه +____________________
____
+____________________
____
ترپايه +____________________

د ښکارندوی غوري قصيده: بله مهمه قصيده زموږ په لرغوني ادب کې د ښکارندوی غوري قصيده ده، چې پر هند يې د سلطان شهاب الدين غوري د فتوحاتو په تعريف کې ويلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محتوا لـه مخې يـوه سـتاينه بلل کېږي. دا قصيده ټولـه (۴۵) بيتونه لري او د قصيدې لـه معمول تعريف سره سم درې برخې تشبيت يـا تغـزل اصلي موضـوع او د عـائيـه لـري، دا قصيده هم لکه د شيخ اسعد سوري دهغې په شان په قافيه پای مـومي او رديف نه لري. د سر، منځ او پای څو بيتونه يې دا دي:

د پسرلي ښکلو ونکي بيا کړه سينګارونه
بـيا يـې ولـونـل پـه غرونو کې لالونه
مځکه شنه، لاښونـه شـنه، لمنې شنې شوې
طيـلسـان زمـردي واغـوسـته غـرونـه

د منځ بيتونه:

په زابل چې د بري پر نيلي سپور سي
پـه لاهـور يـې د مېـړانې ګوزارونه
د اسلام د دين شهاب دنړۍ لـمـر دی
تورستان يـې کـړه رڼا پـه جهادونـه

د پای بيتونه:

پـه رڼـا اوسه تـه تل د ديـن شـهابـه
نوم دې تل وه پر دريـځ پـه نمـزدکـونـه
ستا په زېرمه دې خاونـده لوی څښتن وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـورخـــو ستـــا پــه نامه یونه څو چې یونه.

د شیخ اسعد سوري او د ښکارندوی غـوري قصیدې د واړه د انځورګرۍ او د طبیعت د مناظرو د ترسیم او د پېښو د واقعي ثبت لـه مخې داسې لوړې قصیدې دي چې تراوسه یې پښتو ادب کې ساری نه شته.

په لرغوني پښتو ادب کې غـزل: سره لـه دې چې غـزل تـه ورتـه ځینې نظمونـه پـه پښتو ادب کې تـر اتمې هجري پېړۍ د مخه هم لیدل کېږي، خو پښتو ادب کې پـه منظم ډول غـزل د اتمې هجري پېړۍ دویمه نیمایي کې، اکبر زمینداروي پیل کړی دی.

اکبر زمینداوری د دیوان خاوند و چې څو پاڼې یې استاد حبیبي ته لاس تـه ورغلي دي. پـه دې لاسته راغلو پاڼو کې دوه غزلونه هم خوندي دي، چې د هنر، هغه وخت او شکلي سکښت له مخې ډېر اوچت غزلونه ګڼل کېږي، چې دلته یې یو څو بیتونه د بېلګې پـه توګه را اخلو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل ځان له حیرانیه څه ویل کړم
د عشق ویر به تل په خپله پټول کړم
ما مدام لکه بورا پر ګلو کشت کړ
اوس به څم په سر تور سر فراق د ګل کړم...

او وروستی بیت:

د بېلتون له ویره ژاړم اوښکې وینې
زه اکبر په خپل اشنا د سرښندل کړم

دا غزل پنځه بیتونه لري چې (ویل، پټول، ښندل او...) یې د قافیې کلمې دي او (کړم کړم) یې ردیف دی. د بیتونو د مسرو د څپو شمېر یې دولس دولس څپې دی او د ټولو مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي دی، مطلع او مقطع چې د غزل یوه ځانګړتیا ده، دواړه په کې خوندي دي. د محتوا له مخې هم له غزل سره پوره منطبق دی، ځکه چې موضوع یې تغزلي ده.

په لرغوني ادب کې مثنوي: په پښتو ادب کې د پوره مثنوي او پوره غزل عمر سره تقریباً مساوي دي، دواړه شعري فورمونه د اکبر زمینداوري د دیوان په هغو پاڼو کې لیدل کېږي چې د استاد حبیبي لاس ته ورغلې وې، په دې پاڼو کې د زمینداوري دوه مثنوي هم خوندي دي.

مثنوي هغه شعري فورم دی چې له عربي څخه پښتو ته راغلی دی، ځانګړتیا یې داده چې هر بیت یې ځانته ځانګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قافیه لري، یانې دوه مسرې یې په خپل منځ کې هم قافیه وي، ردیف په هر بیت کې اختیاري دی، کېدی شي ځینې بیتونه ردیفونه ولري او ځینې یې ونه لري.

د هر بیت د مسرو شمېر یې په خپل منځ کې مساوي وي، خو د ټولو بیتونو د مسرو د څپو شمېر یې د یوې یا دوو څپو په شمېر توپیر او بدلون موندلای شي.

البته تر اکبر زمینداوري د مخه مثنوي ته ورته شعرونه وو، خو بشپړه مثنوي، ده لیکلې ده.

دلته یې د یوې مثنوي څو بیتونه را اخلو:

زه عاشق یم یار هم نیز ـــ نـور څـه نـه لـرو تمـیز
یـو پـر بـله عاشـقان یو ـــ په خپل عشق کې صادقان یو
یو په بل پسې رنځور یو ـــ چې نـږدې نه یـو مهجور یو

په پورته بیتونو کې اول بیت ردیف نه لري او دوه نور یې لري. د مثنوي فورم په دې ډول دی:

a____________
a _____________
b __________ ردیف اختیاري دی
b___________
c __________
c __________

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اکبر زمیند اوري وروسته د زرغون نورزي ساقي نامه:

ساقي راشه پیاله راکړه ـــــ مرور یار مې پخلا کړه

د زرغونې کاکړ د بوستان ژباړه:

اوریدلې مې قصه ده ـــــ چې ترشا تو هم خوږه ده

د دوست محمد کاکړ غرښتنامه:

له نیکانو روایت دی ـــــ هسې توګه حکایت دی

ټول د مثنوي په فورم کې دي.

په لرغونې ادب کې رباعي:- تر غزل او مثنوي وروسته بل هغه شعري فورم چې له عربي څخه پښتو ته راغلی هغه (رباعي) ده چې دا فورم د (خلیل خان نیازي) او (سلطان بهلول لودي) له خوا په خپل منځ کې په ویل شویو شعرونو کې ګورو، رباعي هغه شعري فورم دی چې څلور مسرې لري، لومړۍ، دویمه او څلورمه مسره یې په خپل منځ کې هم قافیه وي او دویمه مسره یې له قافیې څخه ازاده وي. ردیف په کې اختیاري دی او د څپو شمېر یې معمولاً مساوي وي.

خړې وربځې ژاړي له پاسه ـــــ کویله غږ کا بېلتون له لاسه

یه هغه لوني ګوهر په خول ستا ـــــ دا مرحبا کا ستا زموږ مواسه

د سلطان بهلول لودي رباعي:

ملک به زرغون کړم په ورکړه راسه ـــ ګوره اوربځې د داد له پاسه

خول مې د عدل په درو روڼ دی ـــ جهان به زیب مومي زما له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رباعي عام شکل دا دی:

a__________

a ________ ردیف اختیاري دی.

____

a__________

په لرغوني ادب کې د نورو شاعرانو شعرونه:

د نورو پاتې شاعرانو شعرونه اکثره د پښتو ولسي شاعرۍ په فورمونو کې راځي او همغه اریایي خصوصیت لري، چې د پښتو له ځانګړي اهنګ سره مطابقت کوي. دا شعرونه د پښتو ولسي شاعرۍ له ثابتو شعري فورمونو سره هم سلو په سلو کې منطبق نه دي او کېدی شي هر یو جلا جلا وڅېړل شي، خو په لرغوني ادب کې له عربي څخه راغلي ډېر مطرح شعري فورمونه، قصیده، غزل، مثنوي او رباعي دي چې هر یوه ته پر خپل ځای اشاره وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د استاد روهي له نظره
د خوشال اخلاقي ایډیال

د خوشال بابا په باب تر اوسه پورې په سلګونو څه چې په زرګونو لیکنې شوي دي، د خوشال بابا په اړه د مستقلو اثارو شمېر هم لسګونو عنوانو ته رسېږي، د خوشال په باب څېړنې په لومړي ګام کې پر دوو کټګوریو وېشل کېدی شي، لومړی هغه څېړنې چې د بهرنیو پوهانو له خوا ترسره شوي او دویم هغه لیکنې دي چې د کورنیو څېړونکو او پوهانو له خوا تر سره شوي دي، ددې څېړنو او لیکنو یوه برخه دودیزه بڼه لري چې په ټولنه کې د خپل وخت د دودیزو علومو او تعاملاتو په نتیجه کې یې خوشال مطالعه کړی او څېړلی دی، د لیکنو دویمه برخه هغه ده چې خوشال یې د معاصرو علومو، کره کتنې او څېړنو په نتیجه کې له هر ډول سیاسي، ټولنیزو، قومي او اخلاقي تمایلاتو پرته، د نوې پوهې او د تحقیق او تحلیل د نویو میتودونو په رڼا کې څېړلای او تحلیل کړی دی، زموږ د هېواد له دغو معاصرو پوهانو څخه یو هم د هېواد ډېر ځیرمن لیکوال، څېړونکی او کره کتونکی کاندید اکاډمسین سرمحقق محمد صدیق روهي دی، چې په څو مقالو کې یې خوشال بابا په ناپېیلي (بې طرفانه) ډول څېړلای دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد محمد صدیق د ادبپوهنې په لړ کې په خپل مهم اثر (ادبي څېړنې) کې د خوشال په باب څلور بېلابېلې لیکنې: ((د خوشال د ښوونې او روزنې فلسفه، د خوشال خټک سوات نامه د ټولنیزو اصلاحاتو هنداره، ، د خوشال اخلاقي ایډیال او خوشال د اخلاقي ایډیال په حیث او د خوشال په اثارو کې د مضمون او شکل تنوع)) چاپ کړي چې هره یوه د خوشال پېژندنې د مطالعاتو په لړ کې د خپل ځانګړي او جلا ارزښت لرونکې دي، استاد روهي پر نو موړو لیکنو کې سربېره د خوشال پر کلیاتو (د کابل چاپ) هم یوه ارزښتمنه سریزه لیکلې، دغه راز د هېواد په ځینو علمي مجلو کې یې هم د خوشال په اړه علمي او تحلیلي لیکنې راغلي دي.

((د خوشال اخلاقي ایډیال)) په نامه د استاد روهي یو مستقل اثر هم چاپ شوی دی، چې همدا تبرې څېړنې په خپله لمن کې رانغاړي.

اوس راځو دې ته چې د استاد روهي دا لیکنې ولې د زیات ارزښت وړ دي؟

استاد روهي د هغو پوهانو له جملې څخه دی، چې عصري زده کړې یې کړې وې، د ښوونې او روزنې په برخه کې یې ماسټري درلوده او په ادبپوهنه کې د زیاتې مطالعې خاوند و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کره کتنه او ادبپوهنه کې يې يو ډېر مهم اثر (ادبي څېړنې) ليکلی دی، استاد روهي د زيات علم او حلم خاوند و او همدا دوه عنصره يې په اکثرو ليکنو په تېره بيا په کره کتنه کې زيات ليدل کېږي، روهي صاحب په کره کتنه کې د هېڅ ډول احساساتو تر اغېز لاندې نه دی راغلی او هر څه يې چې شنلي نو هغه يې د دليل او منطق په مټ واضح کړي دي، د خوشال په برخه کې هم استاد روهي د ليکنو چلند همدا ډول دی، استاد روهي سره له دې چې يوه ښه افغان او پښتون و، خو هېڅکله هم د خوشال پېژندنې په برخه کې د پښتونولۍ او افغانيت تر اغېز لاندې نه دی راغلی.

استاد روهي چې کله د خوشال ايډيال مطالعه کوي او پر هغه بحث کوي نو تر ټولو دمخه اخلاقي ايډيال تعريفوي، کله چې د يو شي تعريف مشخص شي، نو بيا د هغه شي پر ماهيت ښه پوهېدلای شو، استاد روهي وايي: ((اخلاقي ايډيال د کرکټرونو د هغو مثبتو اوصافو مجموعې ته ويل کېږي، چې د اخلاقي کمال د موډل بڼه ولري، اخلاقي ايډيال د يوې طبقې اجتماعي، اقتصادي شرايط منعکسوي او په اجتماعي ايډيال سره توافق پيدا کوي.)) استاد روهي د همدې پورتني فورمول او تعريف له مخې د خوشال د اخلاقي ايډيال په باب وايي: ((څرنګه چې خوشال د فيوډاليزم د اجتماعي- اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فورماسیون محصول دی نو دا ډېره طبعي ښکاري، چې د خوشال اخلاقي ایډیال دې په یوه قومي مشر یا اشرافي شخصیت کې متبلور شي.))

د استاد روهي له نظره خپله د خوشال په فکر د هغه اخلاقي ایډیال همهغه دی، چې ده په خپل اثر (دستارنامه) کې ښودلی دی او هغه ته (د دستار سړی) وایي، د استاد روهي په نظر دا ډېر مناسب نوم دی، ځکه چې له یوې خوا په پښتني قبیلو کې دا دود دی کله چې یو نوی قومي مشر یا خان د خلکو له خوا وټاکل شي، د هغه پر سر پګړۍ یا پټکی تړي او د پټکي تر تړلو وروسته خلک هغه ته مبارکي ورکوي، له بلې خوا، په پښتنو کې پټکی یا دستار د عزت او وقار سمبول دی، استاد روهي زیاتوي: د اخلاقي موډل لپاره خوشال (شل خصلتونه او شل هنرونه ټاکلي دي) که چېرې په یوه شخص کې دغه واړه هنرونه موجود وي، نو هغه ته د اخلاقي کمال یوه نمونه یا اخلاقي ایډیال ویلای شو، استاد روهي زیاتوي: که موږ د اخلاقي ایډیال په برخه کې د خوشال (دستارنامه) د (بلو تارک) او (کویټلیان) له اثارو سره پرتله کړو ډېر ټکي به په کې مشترک پیدا کړو، نو ځکه استاد روهي وایي، چې د خوشال اخلاقي ایډیال (دستارنامه) دیوه اخلاقي ایډیال په حیث نوې څېره نه ده، استا د روهي وایي: د خوشال موډل د لرغوني

(c) ketabton.com: The Digital Library

یونان موډل (چې د مریبیتوب د دورې ځرګندوی دی) نه، بلکې د رومیانو موډل دی، رومیان په علم او فلسفه کې ژور نه ځي، بلکې علم له عمل سره نږدې کوي.

استاد روهي وایي: ((د خصوص د مقولې له نظره باید وویل شي، چې د خوشال اخلاقي ایډیال د پښتني چاپېریال کلتوري خصوصیات منعکسوي، په دې ځای کې ددې ټکي یادونه هم ضروري ده ، چې د خوشال د موډل د پوره ځېړنې لپاره باید یوازې پر (دستارنامه) باندې تکیه ونه شي، استاد روهي سره له دې چې د خوشال اخلاقي ایډیال د پښتني چاپېریال ځرګندوی بولي، خو بیا هم یادونه کوي، چې ددې ایډیال لپاره چې خوشال کوم معیارونه ټاکلي، هغه د پښتني چاپېریال تر کلتور او مذهبي حدودو اوړي، استاد روهي په دې نظر دی، چې د خوشال ایډیال د کرکټر په لحاظ عمومي او خصوصي اوصاف لري؛ عمومي اوصاف یې د ټولنې د ټولو افرادو لپاره لازم دي، لکه (د اولاد تربیت ، علم ، شجاعت ، سخاوت، راستي، خوشخویي، همت، غیرت او نور...) خصوصي اوصاف یې صرف د دستار سړي ته ضروري دي، لکه تادیب د خشم وخصم، د ملک د انتظام په عمومي اوصافو کې یې ځینې هنرونه او خصلتونه تر زیاتې اندازې د (دستار سړي) سره شباهت لري، لکه د ځان معرفت، اسپ تازي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجارت، موسيقي، شطرنج، نقاشي، عدل او انصاف، عفو وكرم، مشورت او نور...

استاد روهي د خوشال اخلاقي ايډيال د نړۍ د يو شمېر نورو پوهانو له اخلاقي ايډيال سره پرتله کوي او هغو لارو چارو ته ګوته نيسي، چې يو شخص پرې دې معيار ته رسېدلای شي، استاد روهي هغو دواړو معيارونو او لارو ته اشاره کوي، چې اخلاقي ايډيال پرې جوړېږي، خو پر ته له دې چې غوڅ حکم وکړي، قضاوت لوستونکو ته پرېږدي، استاد رورهي وايي: د خوشال د ښوونې او روزنې موډل چې په دستارنامه کې راغلی دی، د لوړې طبقې ايډيال دی، ليکن دی د (اپلاتون) او (ارسطو) په شان دغه ايډيال په کومې خاصې طبقې پورې نه منحصروي، (ارسطو) په صراحت ادعا کوي، چې غلامان فطرتاً غلامان پيدا شوي دي، دوی له مقدماتي زده کړې او سواد څخه زيات څه نه شي زده کولای، خوشال البته پر وراثت باندې تکيه کوي، ليکن دا وراثت طبقاتي نه ګڼي، د خوشال په نظر نه يوازې هنرونه د زده کړې له لارې لاس ته راځي، بلکې دی خصلتونه هم کسبي بولي، دی وايي: ((امير لره بويه چې ځان په شرع اراسته کا، بيا د ولايت ظاهري، د سياست هنرونه، خويونه، خصلتونه زده کا.)) سره له دې چې پورته بحث کې استاد روهي د کوم نظر پلوي نه کوي، خو د متن له قرينې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې ښکاري چې استاد د يوه ټولنپوه، ښوونپوه او کره کتونکي په توګه د خوشال نظر تائيدوي، خوشال د اخلاقي ايډيال يا شخصيت د جوړېدو لپاره ټول شرايط کسبي بللي، چې هر څوک يې تر لاسه کولای شي، خو په دې چاره کې ارث او د شخص خپل زيار او زحمت هم دخيل ګڼي او دا يې هم په ګوته کړې، چې هر څوک دا معيارونه پوره کړي، نو بيا (د دستار سړی) ترې جوړېدی شي او د (دستار سړی) طبعاً هغه مقام دی چې بيا د ټولې ټولنې په لوړې يا اولې طبقې پورې اړه پيدا کوي او دا ځکه چې همدا شخص دی، چې د ټولنې د مشرۍ وړتيا پيدا کوي، نو بايد د ټولنې په راس کې واقع شي.

د ارسطو نظريه چې پر طبقاتي بنسټ ولاړه ده، تر ټولو د مخه د سقراط له علمي نظرياتو سره چې وايي: انسان د تحول په حال کې دی او د اصلاح وړ دی، متضاده ده، د ښوونې او روزنې اوسنۍ ميتودولوژي هم دا حکم نه کوي چې د ټيټې طبقې خلک دې د لوړو زده کړو قابليت ونه لري او يا دې ترې لوی شخصيتونه نه شي جوړېدلای، خوشال البته د شخصيت په جوړونه کې ارثيت ځکه دخيل بولي، چې دا د شخصيت جوړونې منشا ده، اوسنۍ اروا پوهنه هم دا تائيدوي، چې د انسان د شخصيت وده د نطفې له تشکل څخه راپيلېږي، محيطي او بيا اجتماعي شرايط په کې اساسي نقش لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد روهي د خوشال د اخلاقي ایډیال په لیکنه کې دې نتیجې ته رسېدلی دی، چې د خوشال د ښوونې او روزنې موډل د اخلاقي ایډیال د جوړونې لپاره مناسب دی، استاد روهي د (دستارنامې) د معیارونو له مخې د اخلاقي ایډیال لپاره تر ټولو غوره ، ښه او عملي بېلګه په خپله (خوشال) بولي، چې د دستارنامې اکثره معیارونه (شل هنرونه او شل خصلتونه) یې په وجود کې لیدل کېږي، نو موږ هم د استاد روهي د تحلیل له مخې دې نتیجې ته رسېږو چې د خوشال د اخلاقي ایډیال یوه عملي بېلګه په خپله لوی خان خوشال خان دی او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((شاهنامهٔ احمد شاه ابدالي))

ويا ؤنه ده که حماسه؟

((شاهنامه احمد شاه ابدالي)) د حافظ ککل محمد مرغزي منظوم داستاني اثر دی، چيگ په هند کيگ ييگ د احمد شاه بابا د فتوحاتو او برياوو په باب ليکلی دی. دا اثر لومؤی حگل پر **۱۹۲۵** م کال د يو زر تگوکو په شميگر د مشتاق احمد مشتاق په تدوين او د مولانا عبدالقادر په ((پيگژندکگلو)) چاپ شوی دی.

د مدون په وينا د ديگ اثر اصلي نوم ((شاهنامه احمديه)) و، خو دوی ورته حگکه د ((شاهنامه احمد شاه ابدالي)) نوم غوره کؤ چيگ ديگ نوم ورسره أيگر اؤخ لکگاوه.

حافظ ککل محمد مرغزي، د مرغز د کلي او سيگدونکی و او د شاهناميگ له متن خگخه داسيگ شگکاري چيگ دی د احمد شاه بابا د وخت سؤی او په جنگگونو کيگ د هغه له لشگکرو سره ملگگری و، دده په خپله وينا د ديگ شاهناميگ د ليکلو حکم هم ورته پخپله د بادشاه (احمد شاه بابا) له خوا شوی و، دی وايي:

چيـــــگ فرمـــــان د شهريـــــارو
پـــــه زيـــــبا شگکلـــــی کگفـــــتارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیـگ حـافظ دیـگ شاهنامــه کــه
پــه جــهان دیــگ دا نامــه کــه
شاهنامــه دیــگ کــه رنکگــین
جـــوؤ زیبـــا در ثمـــین
پکیــگ حــال دیــگ د جـــهان وي
شگــه کگنــجونه دیــگ عــیان وي
شــه مذکــور دیــگ کــه د جنکــگ
چیـگ پریـگ صـاف شـي دزؤه زنکـگ
د بادشــاه دیــگ حــال بیــان کــه
دا چیــگ ســیر ییـگ پــه جهـان کــه
د احـمـد شـــــــــــاه دُر دوران
پــــکیگ حـــال مـــیگ کـــؤ بیـــان.

حـافظ مرغـزي دا کتـاب پـر یـو زرشـپإ او یا یم (۱۰۷۲) هـگ ق کـال بشپؤ کؤی دی. د کتاب په پای کیگ ددیگ خبریگ یادونه کوي او وایي چیگ دا شاهنامه ییگ د پشگتنو لپاره بشپؤه کؤیگ ده:

د پــشگتنــو د پـاره یـــاره　　ماخـــواري وکـــؤه بسیـــاره
کــه شگگه وکؤیگ پریگ نـظر　　تــه بــه شیـگر سـیگ د کــــــــــشور
چیـگ زرسل وو اویا کاله　　ســن د هجــر زمـــا لالـــه
شپإ تـه نور کؤه سره ضم چیـگ تــاریخ نــه شــي تریــگ کــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمـا عمر دی پنحگوس   خگـه لـه مـا وشـو افسـوس

په پورتنیو خگو بیتونو کیگ ددیگ اثر(شاهنامیگ) د لیکلو وجه او علت خگرکگند شول، خو اوس راحگو دیگته چیگ دا اثر د ادبي اثارو په کومو معنوي او شکلي أولونو یا انواعو کیگ حسابیگږي؟ اکثره شاهنامیگ چیگ لیکل شوي په هغوی کیگ تـاریخي کیسـیگ، د پاچایـانو اتلـولي، تـوره او میگؤانـه او جنگگـي پیگشـگیگ بیـان شـوي، نـو حگکـه خـو اکثـره شاهنامیگ په حماسو او یا هم په حماسي اثارو کیگ شمیگرل کیگږي اوس چیگ زموږ تر بحث لاندیگ موضوع د ((احمد شاه ابدالي شـاهنامه)) ده، پـه دیـگ کیـگ لـه خگـو پوشـگتنو سره مخامخیگږو او یا هم خگو پوشگتنو ته باید حگواب ورکؤو، تر تگولو د مخه کیگدی شي دا پوشگتنیگ مطرح شي چیگ ایا دا شاهنامه ویاؤنه ده که حماسه؟ یو حکایتي داستان دی که حماسي نظم یا شعر؟ د کوم یو معنوي أول خصوصیات په کیگ زیات دي؟ د فـورم لـه مخیـگ پـه کـوم أول نظمونـو کیـگ راحگـي؟ ایـا د حماسیگ د لیکلو لپاره مناسب فورم دی که نه؟ ایا نورو شاعرانو هم د شاهنامیگ د لیکنیگ لپاره له دیگ أول فورم خگخه کار اخیستی که نه؟ او که اخیستی ییگ وي وجه ییگ خگه ده؟ خو ددیـگ تگولـو پوشـگتنو پـه منحـگ کیـگ دوه پوشـگتنیگ چیگ تر نورو زیاتیگ مطرح دي دادي چیگ دا شاهنامه ، ویاؤنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده که حماسه؟ ددیگ لپاره چیگ دیگ پوشگتنو ته معقول او مناسب حگوابونه پیدا کؤو، شگه‌به‌دا وي چیگ د حماسیگ پیگژندنیگ د اصولو او معیارونو پـه‌رنگا کیگ د ا اثر مطالعه او تحلیل کؤو:

((حماسه په ادبي أولونو کیگ أیگر لرغونی أول دی. پـه حماسه کیگ تر تاریخي دورانه وؤاندیگ زمانیگ وقایع راغلي وي او پـه حقیقت کیگ د لومؤنیو زمانو کگزارش دی. حماسه پـه هغه دوران کیگ د یوه ملت ارمانونه بیانوي چیگ تاریخ، اسطوره، خیال او حقیقت تگول پکیگ سره کگأیگإي)).

حگینیگ کسان کله کله په ادبي خگیگؤنو کیگ د حماسیگ، حماسي شعر او ویاؤنیگ (فخرییگ) تر منحگ توپیر نه کوي، پـه داسیگ حال کیگ چیگ دا دریگ واؤه جلا جلا معنوي أولونه دي، توپیر سره لري((حماسه د ادبیاتو پـه موضوعي یا معنوي أولونو کیگ یو أول دی، چیگ د یو ملت، قوم، قبیلیگ یا شخص د میگؤانیگ او توریگ کیسیگ او جنکگي کارنامیگ پـه حکایتي أول بیانوي، هر أول جنکگي او حماسي اشعار حماسه نه شي جوؤولای، که خگه هم حماسه له حماسي او جنکگي اشعارو خگخه جوؤیگإي، خو هر حماسي شعر یا ویاؤنه حماسه نه ده. د حماسیگ یو شرط دادی چیگ پیگشگیگ پـه کیگ پـه داستاني أول بیان شویگ وي)) خو پـه حماسي شعر او یا هم ویاؤنه کیگ دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرط حتمي نه دی. يو رزمي شعر کيگدی شي هيگخگ اتل و نه لري او شاعر خپله خلک د رزم او جنکگ خوا ته راوبولي او په وياؤنه کيگ هم يو شاعر کولای شي د خپل حگان پر برياوو او يا هم د خپل تگبر پر برياوو او لاسته راوؤونو ووياؤي، لکه د امير کروؤ شعر چيگ د خپل حگان د اتلوليو په باب ويـاؤ کوي، په حماسي شعر او وياؤنه کيگ مهمه نه ده چيگ شعر ديگ داستاني او يا حکايتي بنگه ولري په وياؤنه يا حماسيگ کيگ دا هم مهمه نه ده، چيگ يو شاعر ديگ لرغونيگ زمانيگ ته لاؤ شي او د هغو پيگشگو بيان ديگ وکؤي، خو حماسه کيگ بيا د لرغونو پيگشگو بيان هم راحگي. د دوکتور سيروس سميسار په نظر: ((حماسه قديمترينه او مهمترينه ادبي نوع ده چيگ د قبل التاريخ زمانيگ تاريخ بيانوي.))

((خگنگگه چيگ حماسيگ دأيگرو لرغونو او لومؤيو وختونو خاطريگ دي، نو په ديگ حساب د شفاهي کيسو او نکلونو په شکل سينه په سينه رانقل شوي او تر هغيگ چيگ په يوه زماني مقطع کيگ بيگ خگوک ليکلو ته پيدا شوي او ليکلي بيگ دي.))

د ادبپوهانو په نظر د نؤة په حماسو کيگ حگينيگ داسيگ خصوصيات شته چيگ هغه د نؤة په اکثرو حماسو کيگ مشترک دي او حگينيگ داسيگ حگانگگؤتياويگ هم شته چيگ هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همغيگ يويگ ژبيگ په حماسو پوريگ محدوديگ دي پشگتو حماسيگ د نؤة د حماسو د عامو حگانکگؤنو تر خگنکگ حگينيگ دا سيگ حگانکگؤتياويگ هم لري چيگ هغه د نؤة په نورو حماسو کيگ نه تر ستر کگو کيگاِي، دا حگانکگؤتياويگ د پشگتنو د عام کلتور تابع دي او له همديگ کلتوري، قومي، قبيله يي تعاملاتو بيگ الهام اخيستی دی.

دا أول خصوصيات بيا د نؤة د نورو ژبو په حماسو کيگ نه تر ستر کگو کيگاِي او يا هم لا تر ستر کگو کيگاِي، اوس راحگو ديگته چيگ د حماسيگ د عامو خصوصياتو له جمليگ خگخه کوم خصوصيات تر زياته او کوم خصوصيات تر کمه بريده پر (احمد شاهي شاهناميگ) د تطبيق وؤدي؟

١- د حماسيگ په عامو حگانکگؤتياوو کيگ يوه دا ده چيگ ((د جنکگ، بهادرة، ميگؤانيگ، پهلوانة او شهسوارة کيسيگ په کيگ راغلي وي))

د پورتني معيار له مخيگ که مواِ (احمد شاهي شاهنامه) ارزوو، نو په ديگ معيار خو پوره حگکه ده چيگ د احمد شاه بابا په شمول د هغه د لشگکرو د بيگلابيگلو لشگکر مشرانو د توريگ، بهادرة او جنکگي اتلوليو کيسيگ په کيگ بيان شوي دي.

مثلاً د شالامار باغ د جنکگ داستان داسيگ بيانوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

شگه حگوانان دیگ شي تیار   ازمــوده د جنکــگ پــه کــار
پــه دا لــور د شــالامـار   چیــگ ازبــک هــم د حــصار
د راوي پــه دا ګګفتــار   د قرغـــز حگوانـــان تیـــار

۲- د حماسیگ یوه بله حگانکگۋنه دا ده چیگ حیوانات په کیگ ستر نقش لري، حتی کله کله دا نقش أیگره اخلاقي بنگه هم لري، په دیگ شاهنامه کیگ هم د آسانو او فیلانو یادونه شویگ او جنکگ کیگ د هغوی رول په ګګوته شوی او خپلیگ لشگکریگ بییگ له بازانو سره تشبه کؤي، خو لکه د نورو حماسو په شان حیوانات په دیگ اثر کیگ هغه رول نه لري لکه په نورو حماسو کیگ چیگ خارق العاده رول لري.

۳- د حماسو یوه حگانکگۋنه دا ده چیگ اتلان په کیگ له هیولاوو او وحشتناکو حیواناتو سره مقابله کوي.

په احمد شاهي شاهنامه کیگ سره له دیگ چیگ وحشتناکو حیواناتو سره د انسانانو تن په تن جګګۋیگ کیسیگ نه دي راغلي، خو په جګګۋه کیگ أیگر حگایه د جنکگي وسیلو په توګګه د حیواناتو یادونیگ راغلي، خو د دیگ پر حگای د خپلو لشگکرو د اتلانو أیگر توصیف شوی او د حماسیگ هغه بله خوا بییگ پوره کؤیگ چیگ تر حده زیاته مبالغه په کیگ وي، لکه غلو او اغراق، مثلاً له درانو لشگکرو خګخه د صمد خان یادونه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیگ د خپل ورور (شفیق) په مرګګ ییګ سینه کباب وه، خو بیا ییګ هم پر دښمن سختیګ حملیګ کولیګ او هغوی ییګ تار و مار کړل او یا هم د نورو جنګګیالیو یادونه

۴- په حماسه کیګ یاد شوي بوتګي، ونیګ او میګویګ زیاتره جادویي او خارق العاده خصوصیات لري.

د حافظ کګل محمد مرغزي په اثر (احمد شاهي شاهنامه) کیګ سره له دیګ چیګ د حماسیګ کګنګ شمیګر خصوصیات لري، خو د ونو، بوتګو او میګوو د داسیګ کومیګ خاصیګ خارق العاده پیګښګیګ کیسه یا داستان په کیګ نه دی راغلی چیګ د سؤي پام حګان ته واؤوي.

۵- د حماسو اتلان معمولاً ما فوق الطبیعي انسانان شګودل کیګاږي.

په دیګ شاهنامه کیګ انسانان ما فوق الطبیعي انسانان نه دي شګودل شوي، خو د هر جنګګ د داستان اتل طبعاً تر عادي انسانانو لوؤ شګودل شوی دی. خو دا لوؤتیا دومره نه ده چیګ افسانه یي برید ته ورسیګاږي.

۶- د حماسو د اتلانو کارونه اکثره خارق العاده وي او د منطق په تله نه تلل کیګاږي.

د مرغزي په احمد شاهي شاهنامه کیګ د اتلانو کارونه د منطق له معیاره دومره لریګ نه دي خو داسیګ هم نه دي چیګ سل په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلو کیګ دیګ له منطق سره برابر شي، د فرعي اتلانو رول هم له عادي منطقه وحګي او هغه مهال چیګ د جنکګ کوم حالات وو او سیاسي تاریخونو ثبت کړي، تر هغو معیارونو لوړ دي.

۷- د حماسو اتلان د خپل ژوند په برخه کیګ له خپل یو ضد قهرمان سره مخامخیګاږي.

په دیګ منظوم داستان کیګ طبعاً قهرمانان له خپل ضد سره مخامخ شوي، خو په دیګ شاهنامه کیګ مرکزي اتل احمد شابابا دی چیګ فتوحات د هغه په امر تر سره کیګاږي، خو دی په مستقیم أول له خپل کوم ضد اتل سره نه مخامخیګاږي او نه په دیګ داستان کیګ دده د معادل کوم اتل یادونه شویګ ده، البته د احمد شاه بابا د لشګکرو قومندانان له خپلو معادلو قومندانانو سره مخامخیګاږي او هغوی ته ماتیګ ورکوي لکه د احمد شاه بابا د لشګکرو قومندانان حاجي جمال، صمد خان او نور چیګ د هندوستان د لشګکرو له حګینو قومندانانو لکه منو، خسرو، شهنواز او نورو سره مخامخیګاږي او له یو وزیر سره تن په تن جکګوه کوي، حاجي جمال چیګ د درانو لشګکرو مشر دی په دیګ اثر کیګ راغلي چیګ عسکر بییګ د مستو خوني فیلانو په شان د دشګمن پر لشګکر حملیګ کولیګ، په دیګ جکګوه کیګ د هندوستان د وزیر پر سر د توپ ګکولة لګکیګاږي او زیګر وزبر کیګاږي، دیګ جنکګ کیګ چیګ د هند کوم لشګکر راغلی و هغه د درانو له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

تګـول زيګـر وزبـر شـو. د همـديګ جنګـګ پـه خـاطر کلـه چيـګ احمدشاه بابا د سرهند پرلوري د تګګ نيت وکؤنو د جنګګ تدبير ييګ ونيو:

چيـــګ تـــدبير وشـــه د جنګـــګ
تمـــام ورک شـــه د زؤه زنګـــګ
تمـــام فـــوج پـــه جنګـــګ تـــيار
ســـپين بازونـــه شـــوه د شـــګکار
لـــــه لاهـــــوره شـــــو روان
پـــــه دالار د هندوســـــتان

۸- د حماسو اتلان اکثره په يوه اوإده او خطرناک سفر وحګي.

احمدشـاه بابـا (د احمدشـاهي شـاهناميګ) د اتـل پـه توګګـه د هندوسـتان پـر يـوه اوإده سـفر وحګـي، د هندوسـتان تـر فتحيـګ وروسته مشهد ته حګي، د مشـهد واکمـن ييـګ تابعدار کيګإي او بيـا نيشـاپور تـه مخـه کـوي، هلتـه لـه يـوه سـخت ژمـي سـره مخامخيګإي، خو دي په خپل تدبير مخکيـګ تـر ديـګ چيـګ د ژمي يخني ييګ لشګکريګ تباه کؤي، له نيشاپور خګخه لشـګکر کندهار ته ليګإي او له مرګګه ژغورل کيګإي، دا ژمـي دومـره سخت و چيګ أيګر کم ژوندي موجودات ورخګخه پاتيګ شول.

۹- د حماسو اتلان أيګريګ کارناميګ کـوي چيـګ زيـاتره ملي او معنوي ارزشګتونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په احمد شاهي شاهنامه کېـګ هم چيـګ د جنګـګ کوم داستانونه راغلي هغه اکثره ملي او اسلامي ارزښتونه لري، ملي ارزښت ييګ په ديګ کيګ و چيګ د هغه وخت د شاو خوا دولتونو او زور واکو خګخه ييګ خپل هيګواد خوندي کاوه او هغه جنګګونه چيګ دوی په نورو هيګوادونو کيګ کول، که هغه ييګ هلته نه وای کړي، نو دا جنګګونه به ييګ په خپل هيګواد کيګ کول، د هغه وخت سياسي او نظامي خصوصياتدا وو چيګ هيګچا هم په خپل خګنګګ کيګ مستقل او قوي کګاونأی نه شو زغملای، که احمد شاه بابا خپل هيګواد غشګتلی او يو موتګی کړی نه وای او د غليمانو نيتونه او قوتونه ييګ تر هيګواده لريګ خنثی کړي نه وای، نو جنګګ به د افغانانو په کور کيګ بل شوی وای.

احمد شاه بابا د خپل جنګګي تدبير تر خګنګګ يو سوله دوست، زاهد او صوفي مشر و. د يو مشهور روايت له مخيګ يو وخت ييګ د کندهار ښګار د ساتنيګ لپاره دفاعي ديوال شروع کړ، نو مور ييګ (زرغونيګ انا) ورته وويل چيګ زويه دا خګه کويګ؟ هغه ورته وويل چيګ د ښګار د دفاع لپاره ديګوال جوړوم، هغيګ ورته وويل دښګمن چيګ تر ښګاره راغی نو بيا دفاع مانا نه لري، دښګمن بايد له ښګاره لريګ له منځګه يوسيګ. ديګ خبريګ د احمد شاه بابا په ذهن کيګ تغير راووست او په هغو سيمو کيګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطر ته متوجه شو چې خطر تر ې راولاړې دلای شو. ځینې تنګ نظره متعصبین د احمد شاه بابا پراخو فتوحاتو ته د کینې په ستر ګه ګوري، واقعیتونه تحریفوي او وایي چې ضرور نه و هغه نورې سیمې فتح کړې وای، ځینې نور بیا ځان د وطن اې "خواخوږي" ګڼي او وایي چې احمد شاه بابا باید کورنیو اصلاحاتو ته اې پاملرنه کړې وای نظر فتوحاتو ته! خو هغه تاریخپوهان او ټولنپوهان چې د احمد شاه بابا د زمانې ټولنیز، سیاسي، اقتصادي، پوځي، مذهبي، کلتوري او نور حالات ورته ښه معلوم دي، هغوی د هغه وخت د سیاسي ټولنیزو تعاملاتو په رڼا کې د احمدشاه بابا تدبیر او عمل ته په اې درنه ستر ګه ګوري او افرین ورته وایي، د دوی د نظرونو د یو والي نتیجه او نچوړ دا دی چې احمدشاه بابا په خپلو فتوحاتو کې دا ستر بریالیتوبونه لاسته راوړل چې یې په کور دننه بې لاری اغې افغاني قبیلې د ملت او مملکت په لوشګي کې سره راټولې کړې او دوی ته یې د داخلي اختلافونو د را برسېره کولو فرصت او مجال ورنه کړ، بل یې شاوخوا غلیمان دومره کمزوري کړل چې دده رامنځته کړی دولت یې اې موده له کړواښه خوندي پاتې شو. د احمدشاه بابا د فتوحاتو ملي ارزښت همدا و چې زمونږ ټولنې ته یې درلود، د دې تر څنګ احمدشاه بابا یو صوفي مشربه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر اسلام مین پاچا و، د شاوخوا تګولو مسلمانانو ورخګخه د مرستیګ هیله وه، په همدیګ خاطر د بخارا مسلمان پاچا ورخګخه د تزاریانو له ظلمه د خلاصون غوشګتنه وکړه، دهند د مسلمانانو مشر شاه ولي الله ورخګخه له مرهتګیانو خګخه د هند د مسلمانانو د خلاصون هیله وکړه او احمد شاه بابا دا دواړه کارونه ترسره کړل، یانیګ احمد شا بابا د اسلام د بري په خاطر هم زیاته اتلولي وشګوده، د ایران پر لوري لشګکرکشي هم په دیګ نیت وه چیګ د ایران د سیاسي او مذهبي نفوذ مخنیوی وکړي او که چیګریګ بییګ دا کار نه وای کړی، نو د دیګ احتمال و چیګ ایرانیان د نادرافشار او ګکرګکین د وختونو په شان بیا افغانستان د خپل ظلم تر سیوري لاندیګ راولي. تر احمد شاه بابا د مخه دوران تاریخ لیکونکو ته معلوم دی چیګ ځګومره ظلم پر دیګ خاوره واکمن و، حافظ ګکل محمد مرغزي هم په خپل اثر کیګ تر احمد شاه بابا د مخه د نادر افشار د ظلم کیسه کړیګ ده او فکر کوم چیګ د همدغه یوه حالت بیان هم کولای شي په دیګ برخه کیګ د معترضینو غرضي پوشګتنو ته یو شګه ځګواب شي. مرغزي په احمد شاهي شاهنامه کیګ وایي:

هلاکو صفت عیان شه
نمودار په دا جهان شه
په شکست بلند شه اور

(c) ketabton.com: The Digital Library

خـــلاص تریـــگ نـــه شـــو د چـــا کـــور
سنـــد بییـــگ درســـت زیگروزبـــر کـــه
بـــیگ بـــالینه یـــیگ بـــستر کـــه
پـــه هـــر مـــلک پـــه هـــر دیـــار
دده ظلـــــــــم و بسیـــــــــار

خو د نادر افشار تر مرکگ وروسته د احمد شاه بابا په باب وایي:

احـــمد شـــاه دُر ابـــدار
پـــه جلـــوه شـــه نـــمودار
چیـــگ لبـــاس بییـــگ سلـــطاني و
مرصـــع پـــه خاقانـــي و
دا جامـــه شـــوه پـــه ده جـــوؤه
د قســـمت پـــه حگـــای کیـــگ یـــوؤه

۱۰- د حماسو اتلان تن په تن جنگگونو کیگ له بیگلا بیگلو وسلو خگخه کار اخلي لکه نیگزه، خنجر، توره، غشي، لیندة او نور ، د جنکگ په اوزارو کیگ غولونه او فریگب هم شامل دي په احمد شاهي شاهنامه کیگ پر پورته ذکر شویو جنگگي وسایلو سربیگره د جنکگ له عصري وسایلو لکه توپونو خگخه هم کار اخیستل شوی او د سرهند په یوه جکگؤه کیگ دهند یو وزیر د توپ په ککگولة الوزول شوی و ، خو جعل، تذویر، فریگب او غولونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیګ پـه اکثرو حماسو کیګ ییګ یادونـه راغلیګ ده ، دیګ کیګ هم لەدیګ اوزارو خګخه کار اخیستل شوی دی.

پـه احمد شاهي شاهنامه کیګ یو داستان داسي ګ راغلی دی:
کله چیګ احمد شاه بابا ظل سبحاني د لاهور خواتـه متوجه کیګإي او د هغه حګای د نیولو نیت کوي، نو هلتـه یو شخص د شاهنواز پـه نامه چیګ أیګریګ لشګکریګ او جنګګي وسایل لري، احمد شاه بابا تەد مرستیګ وعده ورکوي، خو د احمد شاه بابا لشګکر، بابا تـه وويـل کـه شـهنواز درغلـي وکـؤي، نـو مـوإ بـه بیـا خګـه وکـؤو؟
احمد شاه بابا خپلو لشګکرو ته په حګواب کیګ وويل:

کـه خـلاف کـه شـهنواز
دی بـه شـي پـه غـم ګـداز
چـیګ اقـبال لـرم بلـند
و هـر چـا وتـه خګـګرګند

وروسته شهنواز سره داسیګ فکر پیدا شو، چیګ د احمد شاه بابا لشګکر کم او بیګ تجربه دی، خزانیګ او وسلیګ نه‌لري، نو راحګه د جنګګ تیاری ورتـه ونیسه، ګګوندیګ کـه فتح دیګ نصیب شي، نو هماغه‌و چیګ د جنګګ تیاری ییګ ونیو.

د شاهـنواز ګګـوره بـد قـول
پـه‌دا قـول وګـؤه بـول
ده ویـګ اسبـاب لـرم د جـنګګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو نواب شهنواز خان هغه راز چیگ تر دیگ وخته ییگ په پرده کیگ ساتلی و ، هغه راز خگر کگند کؤ او جنکگ ته ییگ تیاری ونیو ، دا جکگؤه د (شالامار) په نامه یادیگاِي، په دیگ جکگؤه کیگ شهنواز ماتیگ خوري، لشگکر ییگ تار و مار کیگاِي او داحمد شاه بابا لشگکریگ بریالة کیگاِي.

په جکگؤه کیگ د فریگب او درغلة بله بیگلکگه دا ده کله چیگ احمد شاه بابا له هند خگخه کندهار ته متوجه کیگاِي، د (منو) په نوم یو شخص او د هغه (وزیر) زوی چیگ پخوا ییگ جنکگ کیگ ماتیگ خوؤلیگ وه، د هند د یو واکمن (خسرو) له خوا ورته ویل کیگاِي، چیگ تا به د لاهور حاکم کؤو ، (منو) په أیگره خوشالة لاهور ته راغی او غوشگتل ییگ کابل او کندهار ته هم لاؤ شي. خو دیگ وخت کیگ احمد شاه بابا له هندوستانه د کابل پر لوري خطر ته متوجه کیگاِي، نو له کندهاره د هندوستان پر لوري حرکت کوي، کله چیگ پنجاب ته داخلیگاِي، نو پر د شگمنانو ماتم راحگي، د (منو) لشگکر ماتیگاِي ، سره له دیگ چیگ (اووه زره) سکان ییگ ملاتؤ ته راغلي وو ، خو بیا ییگ هم ماتیگ وخوؤه.
(منو) چیگ کله د جنکگ حالات ولیدل چیگ تگول پنجاب تباه کیگاِي، نو سولیگ ته لیگوال شو ، نو احمد شاه بابا ته ییگ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلچي(استازي) پهلاس پیغام راولیگاٍه، احمدشاه بابا دا سوله قبوله کوٍه، (منو) ییګ وباشګه‌او دیګ سره (منو) زیات خوشاله شو.(منو) د هندوستان د والي په‌توګګه پاتیګ شو ، خو (منو) ته ییګ دا وویل که‌له تابعدارة خګخه دیګ سرغوٍونه وکوٍه، نو بیا به تګول پنجاب تباه شي.

تر دیګ وروسته احمدشاه بابا د مشهد په فکرکیګ شو ، کله چیګ د (مشهد) پر لوري رهي شو ، نو دهغه حګای واکمن (شاه رخ خان) أیګر وارخطا شو او احمدشاه بابا ته ییګ یو استازی ورولیګاٍه او وییګ ویل که‌موإ معاف کوٍي تر دیګ وروسته‌دا احمد شاه بابا لشګکرو (نیشاپور) ته مخه وکوٍه خو دیګ وخت کیګ یو سخت ژمی راغی، احمدشاه بابا په‌دیګ خاطر چیګ په‌ژمي کیګ ییګ لشګکر تلف نه شي، بیګرته د کندهار پر لوري وخوحګیګد. دا ژمی أیګر سخت وان تر دیګ چیګ اکثره ژوندي موجودات ییګ تباه کوٍل، دیګ کیګ د هند والي(منو) دا سیګ فکر وکوٍ چیګ د احمد شاه بابا لشګکر په‌نیشاپور کیګ تر واورو لاندیګ شو ، نو خګه‌ضرورت دی چیګ باج او خراج ورکوم، شګه‌دا ده چیګ مخالفت ییګ وکوٍم، (منو) خپل لشګکر ته‌هم أیګر فریاد وکوٍ، هغو تګولو ورته أیګریګ لافیګ ووهلیګ چیګ موإ ستا ملاتوٍ کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د احمد شاه بابا له خوا (خانجان) ته امر وشو چیگ دیگ جنکگ ته لاؤ شي. د دیگ جنکگ له امله پر لاهور سخته قحطي راغله او خلک أیگر په تنکگ شول، بالاخره د (منو) لشگکرو ماتیگ وخوؤله او (منو) وتشگتیگد، خو بیا بییگ خپله پؤه ومنله او دربار ته په ننواتو راغی، نو شهریار (احمد شاه بابا) هغه وباشگه

د بادشـــاه شـــه دا فرمـــان
چیـــگ ســـردار بـــه شـــي روان
د مـــنو تقصـــیر معـــاف شـــه
کـــه بـــلند تـــر کـــوه قـــاف شـــه
چـــیگ اخـــلاص و د ســـردار
منـــو راغـــی پـــه دربـــار
پـــه خـــلعت د شـــاه ممتاز شـــه
پـــه جـــهان کیـــگ سرفراز شـــه

کله چیگ بیا لاهور د احمد شاه بابا د لشگکرو په لاس فتح شو نو هلته بیگرته ژوند له سره پیل شو او شگیگرازي رامنحگته شوه.

چـــیگ فـــارغ شـــو شهریـــار
پـــه رونـــق شـــو تمـــام کـــار
پـــه تـــنظیم راغـــی لاهـــور
کگلـــستان شـــه پـــه هـــر لـــور

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغـه راز پـه دیـګ شـاهنامه کیـګ دجمناترخګنکـګ جکګـؤه، دشاهجهان-اباد تاراج کیګدل، شاهدریګ ته تکـګ، د پـاني پت د جنګګ داستان او د نورو جنګګونو بیانونه هم راغلي دي.

له نواب ناصرخان سره د جنګګ داستان هم راغلی دی، سره لـه دیـګ چیـګ هغـه سره اتـه زره قزلباش هم ملګګري وو، خو بیا هم افغاني لشګکرو ماتیـګ ورکؤه.

۱۱- پـه حماسیـګ او حماسي شـاعرة کیـګ معمولاً د کـلام لفظي شـګکلا تـه أیګره پاملرنه نه کیـګاِي او د مانا پر انتقال أیګر زور راوؤل کیـګاِي، خو کله کله کلام حګینیـګ داسیـګ برخیـګ هم لري چیـګ هنري خوا ییـګ هم د پام وؤ وي.

پر احمد شاهي شاهنامه هم همدا معیار تطبقیـګاِي، ددیـګ اثر اکثره بیتونه لـه ژبني پلوه هنري یـا لفظي شـګکلا نـه لري، حګینو حګـایونو کیـګ وزنـي سـتونزیـګ او تیـګروتنیـګ هـم لـري، اکثـره بیتونه ییـګ سپوره او وچ دي، خو حګینیـګ بیتونه داسیـګ هم دي چیـګ هنري جوهر لري او لفظي شـګکلا پـه کیـګ شـګکاري لکـه دا لاندیـګ بیتونه:

چـیـګ وچـا تـه مـخ کـه غـم
وچـوي د زؤکګـي نـم
خګـه دی غـم کګـوره بـلا
نـه پـریګاِدي د هـوش کـلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیـــګ روان شـــه ستاســـیګ رور
د فـــــنا پــــه بادشـــــه ســـــور
و دانـــــا تـــــه دنـــــیا خـــــس ده
پــــه ځګــــو ورځګیــــګ د هـــــر کـــس ده
نــــــه مظبــــــوط لـــــــري بنیــــــاد
چــــیګ بنایــــیګ ده پـــــه بـــــاد...

په احمد شاهي شاهنامه کیګ حافظ کګل محمد مرغزي د جنکګ د هر داستان په پیل کیګ بیګلا بیګل مسایل مطرح کؤي، اکثره دیني مسایل، بیا ییګ یوه جنکګي پیګشګه، په پای کیګ ییګ خپل لقب یا تخلص (حافظ) یاد کؤی ، د حګان او خپل شعر ستاینه ییګ کؤیګ ده، دا یادونه بیا بیا تکرار شویګ ده. ځګو بیتونو ته ییګ د بیګلګګیګ په تو ګګه و ګګورئ:

زمــا شــعر تــه کــه ځګــوک ګګــوري
د بــــــاران پـــــه دود بــــــه اوري
ســـوؤ مــــزاج بـــه ییــــګ کانـــدي اور
پریـــــګ بـــــه راشـــــي د عشـــــق زور
پـــه مـــزاج بـــه ییـــګ راســـي جـــوش
نـــــه ییــــګ عقــــل وي نــــه هــــوش

همدا سیګ أیګر حګایه د خپل شعر ستاینه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فورم له پلوه دا منظوم داستان یوه مثنوي ده، چیگ معمولاً د اوإدو حماسو، تاریخي کیسو او یا هم پیگشگو د بیان لپاره کارول کیگإي، فردوسي هم د خپلیگ شاهنامیگ لپاره له همدیگ فورم خگخه کار اخیستی دی.

حافظ کگل محمد مرغزی هم د احمد شاهي شاهنامیگ د لیکنیگ لپاره مثنوي فورم حگکه غوره کگی چیگ همدا فورم د اوإدو پیگشگو د بیان صلاحیت لري له حگینو برخو او حگایونو پرته نوره دا مثنوي په (۷) خگپو کیگ ویل شویگ ده. لفظي شگکلا په کیگ دومره نه شته، د کلام موضوع ته ییگ د کلام شگکلا په انأول زیات ارزشگت ورکگی دی، چیگ دا خصوصیات په نورو حماسو کیگ هم شته پر دیگ حماسه نوریگ خبریگ هم کیگدی شي خو بیا هم که په مجموعي أول خگوک احمد شاهي شاهنامه ارزوي په دیگ اثر کیگ د حماسیگ خصوصیات تر بل هر معنوي أول زیات لیدل کیگإي، البته د یویگ شگیگ حماسیگ تگول خصوصیات پر یویگ حماسیگ هم سل په سلو کیگ نه شي تطبیقیگدلای، عام نظر او حکم دادی چیگ هر هغه اثر چیگ د حماسیگ زیات خصوصیات پوره کگي، نو د حماسو په ألـه کیگ شمیگرل کیگإي احمد شاهي شاهنامه هم د نورو معنوي أولونو؛ ویاؤنیگ او ویرنیگ په انأول د حماسیگ زیات او غالب خصوصیات لري، نو حگکه ییگ حماسه کگنگلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لغمان کې د شولو کر

دا لیکنه چې په انګازه مجله کې چاپ شوې ده، د معلوماتي انشاء یوه بېلګه ده، هغه ځوان لیکوال چې غواړي معلوماتي او تشریحي لیکنې وکړي دا او دېته ورته لیکنې ورسره مرسته کولای شي. دا لیکنه هنري او ادبي ارزښت نه لري خو د یوې ټاکلې موضوع د سپړنې لارې چارې په ګوته کوي. ځوانو لیکوالو ته د معلوماتي لیکنو د برابرولو په برخه کې یوه بېلګه ګڼل کېدی شي.

د افغانستان په مهمو کرنیزو محصولاتو کې یو هم (شولې) دي چې وریجې ورڅخه لاسته راځي. شولې اکثره په هغو ګرمو سیمو کې کرل کېږي، چې پربمانه اوبه لري، د شولو کرنه او له هغوی څخه بیا د وریجو لاسته راوړنه یوه اوږده پروسه ده، چې بزګر تر بل هر کرنیز محصول ډېر زیات زیار او زحمت ته اړباسي. زه دلته غواړم د هېواد له هغو ولایتونو او سیمو څخه چې شولې په کې کرل کېږي او بیا پر وریجو بدلېږي، یوازې په لغمان ولایت کې دا بهیر په ترتیب سره تشریح کړم. په دې لیکنه کې به د شولو د کښت پر څرنګوالي سربېره د شولو او وریجو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډولونو او همدارنګه د وریجو د پخولو پر خو ډولونو هم رڼا واچوم:

۱- د شولو بزغلی: د شولو درشې پر مهال یو معین مقدار شولې (د ځمکې د ضرورت په انډول) بېلبېږي او په ځانګړي جوال یا بوجیو کې ساتل کېږي. تر شپږ میاشتني ځنډ وروسته د لمریز کال د ثور میاشتې په لومړیو کې په داسې یوه ځمکه کې چې همدا مهال ورته کولبه شوې، دواله شوې، منډاوو شوې وې او اوبه په کې ډنډ وي، د غنمو د کښت په شان شیندل کېږي، خو په دې تفاوت چې د شولو بزغلي زیات ګڼ شیندل کېږي ان تر دې حده چې نږدې ټوله ځمکه په شولو پوښل کېږي.

۲- د بزغلي د رسېدو وخت: د بزغلي کښت چې د ثور میاشتې په لومړیو لسو ورځو کې ترسره کېږي په عمومي ډول د څلوېښت ورځو په شاوخوا کې موده نیسي او معمولاً د جوزا تر شلمې او یا لږ څه وروسته نېټې پورې رسېږي، په دې کې یو یا دوه ځلي کیمیاوي کود هم ورکوي. د شولو بزغلي ودې دا مهال نږدې پینځه ویشت د برش سانتي متره وي.

۳- د شولو د کښت مهال: د جوزا د میاشتې په بهیر کې د شولو د کښت لپاره ټوله ځمکه تیاره شوې وي. مانا دا چې ځمکه لومړی کولبه او بیا دواله شوې وي. په لغمان کې ځمکه لاتر دې وروستیو وختونو پورې اکثره د غویو په واسطه کولبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدله. یو ازې په وروستیو دوه درې کلونو کې د غویو د کولبې ترڅنګ د ماشین یا تراکتور په واسطه کولبه هم دود شوې ده، کله چې ځمکې تر کولبې وروسته د جوزا تود لمر وخوړ نو په اصطلاح ټولې ناروغۍ یې له منځه لاړې، د جوزا په وروستۍ لسیزه معمولاً د جوزا تر شلمې نېټې وروسته نهالونه پیلېږي.

۴- د شولو نهالونه: د جوزا په وروستیو کې اکثره ځمکې نهال ته تیارې وي، د نهال د تیارې وروستۍ مرحله پر ځمکې د اوبو سورول او تر هغې وروسته، منډاوو دی، منډاوو داسې یوه وسیله ده چې زیاتره د توت له لرګي څخه د نږدې یو متر په عرض او د دوه مترو په اوږدوالي او د نږدې لسو سانتي مترو په پنډوالي جوړېږي، په لاندینۍ برخه کې د لوټو د ماتولو لپاره د اوو یا لسو غاښونو په اندازه غاښونه هم لري، د غویو تر شا تړل کېږي او ډنډ شوی پټی پرې اوارېږي، له منډاوو سره نږدې هم مهال د پټي پولې هم جوړېږي، نوې ختې پرې اچول کېږي چې دې ته (تپیاري) وایي، تپیاري له پټي سره دا مرسته کوي چې اوبه پکې په دایمي ډول ایسارې کړي، پر کومه ورځ چې پټی منډاوو شو پر همغه مازیګر د بزغلي له پټي څخه بزغلی ایستل کېږي او د لاسي ګېډیو په شان ګېډۍ ګېډۍ تړل کېږي، که چېرې پټی نږدې وي، نو د بزغلي ګېډۍ په لاسونو او که چېرې لرې وي نو په کجاوه کې وړل کېږي او هلته پر همغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مازیګر په ټاکلي اندازه، په پټي کې وېشل کېږي. د نهال لپاره معمولاً اشرګر، چې په کليوالي اصطلاح ورته (انشرګر) یا انشروالا وايي موجود وي، نهال کې اشر یو حتمي کار ګڼل کېږي، چې د کلي اکثره ځوانان، تنکي ځوانان او سپین ږیري په کې ګډون کوي. د سهار تر لمانځه وروسته نهال شروع کېږي او ضرور یې تر غرمې خلاصوي، نهال ټول په لاس کېږي او په ډېر سرعت سره ترسره کېږي، نهالګر په منظم ډول یو د بل ترڅنګ ولاړ وي او تر یوه متر زیاته اندازه ساحه رانغاړي، نهال په ډېر شوق او ذوق پرمخ ځي او د بزغلي هغه ګېډۍ چې مخکې تر مخکې تقسیم شوې وي، پرله پسې خلاصېږي، که کوم پټي کې د بزغلي کمی احساس شي، نو د بزغلي مسول کس چې هغه په نهال کې برخه نه اخلي او پټي ته بزغلي رسوي، د هغه کمی پوره کوي. د سهار د چای تر مهال پورې چې هوا خورا ملایمه وي نهال ښه په درز کې روان وي، سهار اته، اته نیمې بجې په پټي کې د کومې ونې یا انځر تر سیور لاندې سباناري کې چای او شړومبې حتمي وي او ددې ترڅنګ تازه انځر، مستې، پنېر، د پنېر اوبه او ځینې نور ملحقات هم ورسره مله وي. د تناره پرېمانه ګرمه ډوډۍ پر دسترخوان خوره وي او نهالګر چې خورا اشتاه نیولي وي، په دومره خوند ډوډۍ خوري چې سړی ورته حیرانېږي، تر سباناري وروسته نهال بیا پیلېږي او تر غرمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوام کوي، دا مهال نهالګر په خپل منځ کې په لوړ او از یوه نیمه سندره هم وايي، اکثره یو نیم سروکی وايي او یوه یوه لنډۍ یې په منځ کې تاووي. کله کله د دوو کسانو ترمنځ لنډۍ تبادله کېږي او په دې ډول د نهال ګرمي او سختي په خوند سره پایته رسېږي. د غرمې ډوډۍ چې معمولاً یو یا دوه وطني چرګان په کې وي، له نورو ملحقاتو سره ښه مکلفه او خوندوره وي، مستې، شړومبې او ترکاري هم پکې وي، تر غرمې پوره اکثره نهال خلاصېږي، که چېرې یو نیم پټی پاتې وي هغه بیا خپله د نهال خاوند یا بزګر ترسره کوي، اشرګر معمولاً تر غرمې وروسته رخصتېږي. پخوا یو بل دود هم و او هغه دا چې د ځمکې د خاوند له کورنۍ شخه یا خپله د کورنۍ مشر او یا د هغه زوی به یې د نهال په پای کې د بزغلي په پټي کې ټولو اشرګرو په زور رانیوه او په خټو یې لړه، دا کار یې د خوند او د نهال د ((حسن اختتام)) او یا په اصطلاح د تېر کال لپاره کاوه، خو په وروستیو وختونو کې دا دود له منځه تللی او یا هم ډېر کمزوری شوی، هغه څوک چې په خټو لړل کېده، هغه په دې کار چندان نه خفه کېده او دا یې دود ګاڼه.

۵- د شولو د رسېدو مهال: کله چې د جوزا په وروستیو او د سرطان په لومړیو کې نهالونه ختم شي، نو بیا له هماغه پیله د شولو پټي له اوبو ډنډ شي، نو اکثره وخت دا پټي له اوبو ډنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، د میزان په اواخرو کې شولې په صافېدو شي او په دې بهیر کې یو یا دوه ځله کیمیاوي کود ورته ورکوي؟ په هغو سیمو کې چې پټي شالیزار او د اوبو څه کمی وي، د اوبو پر سر څه ستونزې راولاړېږي، خو په لغمان کې چې د الینګار بهانده او د الیشنګ نیم بهانده سیندونه لري، د اوبو ستونزه د ځینو نورو ولایتونو په انډول کمه ده، په لغمان کې بیا د الیشنګ په انډول په الینګار کې د اوبو ستونزه کمه ده.

د شولو د رسېدو ټوله موده نږدې څلور میاشتې ده، کله چې د عقرب میاشت رابره شي او د عوامو په اصطلاح د عقرب ستوری شولې ووهي، نو شولې په پخېدو شي. د عقرب څو ورځې لاوتې نه وي چې لوونه ګڼ شي، په څو ورځو کې ټول لوونه ترسره شي او ټوله سارا (کرونده) سپېره مېره شي.

۲- د وریجو د ایستلو پړاو: د وریجو د رایستلو بهیر څو ستونزمن پړاوونه لري، چې دلته یې په لنډیز سره یادونه کوو:

الف- د شولو د لمدولو پړاو: کله چې د شولو غوبل خلاص شي او راشه تیاره شي، شولې راساً هغې لویې ډنډې ته وړل کېږي چې لا تر دې د مخه کنبل شوې وي او داسې بڼه لري چې روانې اوبه پکې داخل او خارج شي، دا شولې اکثره خپله بزګران او یا هم نور هغه اشخاص چې (پایکوټان) ګڼل کېږي، په اجاره اخلي. په لغمان کې معمولاً یو خروار شولې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلوېښتو تر ځلور ځلوېښتو منو وريجو پورې اخلي او د شولو خاوند ته په پای کې همدا مقدار وريجې ورسپاري.

شولې په عادي ډول له (۱۵-۳۰) ورځو په ډنډ کې پاتې کېږي. که هوا يخه وي شولې نږدې د برش ورځې او که هوا ښه يا نرمه وي، نو د پنځه لسو ورځو په شاوخوا کې پاتې کېږي.

ب- د شولو پخولو پړاو: کله چې د شولو لمدولو معين پړاو ترسره شو، نو بيا د شولو پخولو مرحله پيلېږي، شولې په بټۍ کې پخېږي، پخوا به يې په يو ډول ځانګړو متونو کې پخولې چې هغه خورا سخت کار وو، په هر مټ کې ايله اووه اته منه شولې ځايېدلې. ترمټونو لاندې به يې اوربلوه او تر معين حرارت وروسته به شولې پخېدلې، خو وروسته به يې يو ډول سرخلاصې ديګي کې راوتل چې هغو ته يو ځانګړی ځای ژوروي، ديګی پرې له پاسه ږدي، لاندې ورڅخه اوربلوي او د سون د هغو موادو په واسطه اور بلېږي چې (سيکه) يې ګڼي او په حقيقت کې د وريجو هغه پوټکي دي چې تېر کال له وريجو څخه لاسته راغلي او په همدې نيت يو کال ساتل شوي دي، د بټۍ کار هم د نهال په شان په اشر ترسره کېږي او معمولاً د شپې له خوا وي، که هوا ډېره يخه هم وي کوم تاثير ځکه نه لري، چې د بټۍ کار تول له اور سره وي او داسې وي لکه سړی چې په ژمي کې دننه په نانوايي کې ناست وي. په يوه ساعت کې نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه لس منه شولې پخېدی شي او که اشرګر تکړه وي، تر دې زیاتې هم پخولای شي، مانا دا چې په پنځو ساعتونو کې نږدې یو خرورا شولې پخېدی شي.

ج- د شولو د وچولو پړاو: کله چې شولې په بټۍ کې پخې شي تر هغې وروسته یې پر داسې یوه اواره ځمکه اواروي، چې لمر ولري. په لغمان کې عموماً بامونه د شولو د وچولو لپاره کارول کېږي، ځکه چې له کورنیو چرګانو او خطرونو څخه هم خوندي وي. د ورځې دوه یا درې ځله په شولو کې په دې نیت پښه وهل کېږي چې شولې یوه خوا او بله خوا واړوي او لمر ته مخامخ شي. که هوا لمرینه وي نو په پنځه شپږ ورځو کې شولې وچېږي او که اسمان وریځ وي تر دې زیات وخت غواړي.

د- د پایکو یا ماشین پړاو: کله چې شولې وچې شي، نو بیا یې پایکو ته وروړي، پایکو کې مخکې تر مخکې نوبت نیول کېږي، پایکو کې په یوه شپه کې تر یوه خروار زیاتې وریجې ایستل کېدی شي. پایکو داسې یو سیستم دی چې د لرګي د یو غټ تیر پواسطه چې (لټ) یې بولي او د لرګي لویې پرې پکې نصب وي، دا پرې د اوبو د انرژۍ یا فشار پواسطه چې له یوې جګې ناوې څخه راشېوه کېږي، تاوېږي، د لټ په تاوېدو سره د پایکو دوه ستنې چې پایې یا څپېړې یې بولي له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکې څخه د دوه مترو په لوړوالي جګېږي او بېرته هر يوه په خپل معين ځای کې چې د يوه متر په اندازه ژور وي او (بغرۍ) يې بولي لګېږي، په همدې بغريو کې د درې يا څلور منو په اندازه وچې شولې پرتې وي او د څپېړو په ګوزار له دې شولو پوټکي بېلېږي او وريجې را څرګندېږي. بيا دا وريجې د چج پواسطه پاکېږي، ميده او ناپاکې وريجې يوه خوا او پاکې يې بله خوا اچوي، د پايکو د خاوند له خوا پر يوه خروار وريجو يونيم من مزد دی، د يادونې وړ ده چې اوس په ټول لغمان کې ايله که څو د ګوتو په شمار پايکوګانې پاتې وي. په وروستيو کې د اکثرو پايکوګانو ځای نويو عصري ماشينونو نيولای چې د وريجو د را ايستلو کار يې ډېر اسانه کړی دی، خو ماشين بيا د پايکو په انډول زيات مزد اخلي، يانې په يوه خرورا وريجو څلور منه وريجې مزد اخلي. د لغمان خلک وايي چې د پايکو د وريجو په انډول د ماشين وريجې بې خونده دي، ځکه چې ماشين د وريجو غوړ زبېښي او له منځه يې وړي، خو د ماشين ښه والی بيا دا دی چې وريجې يې صفا او ميده په کې کمې وي.

په لغمان کې د شولو ډولونه: په لغمان کې د شولو بېلابېل ډولونه کرل کېږي، چې غټې او مهينې دواړه پکې شاملې دي، په غټو شولو کې بنګلدېشی، جاپانی، پرګانې او پرملی شاملې دي او په مهينو کې سيله، بېسودی، باړه يا تورشغه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پشدۍ شاملې دي، له پرګانو پرته چې اوس معمولې نه دي، د نورو ټولو شولو کرل یو شان دي، یوازې پرګانې د بزغلي په شان کرل کېږي او نهال نه لري.

د یادونې وړ ده چې غنمې شولې د مهینو هغو په انډول دوه برابره زیاتې خېږي. یو جریب ځمکه له یو نیم خروار څخه تر دوه نیم خروار پورې غنمې شولې کولای شي او مهینې بیا ددې مقدار نیمایي خېږي. د مهینو وریجو قیمت او خوند بیا د غنمو هغو په انډول دوه برابره دی، غنمې او مهینې شولې چې په کوم نامه یادېږي وریجې یې هم په هماغه نامه یادېږي.

۸- په لغمان کې د وریجو پخولو ډولونه: په لغمان کې لکه څنګه چې څو ډوله وریجې دي، دغسې په څو ډوله پخېږي هم، چې په هر ډول کې بیا څو نور ډولونه هم لري، چې د وریجو پخولو بېلابېلې کورنۍ دي، دلته یې څو غټو کورنیو ته اشاره کوو:

الف- داوګرې کورنۍ: په لغمان کې د وریجو د پخولو عام ډول همدا اوګره ده، چې سپینه اوګره ګڼل کېږي. په جوش کړو اوبو کې پخېږي او اکثره غنمې وریجې په کې کارېږي. دا په ټول لغمان کې عامه ده او په اصطلاح د لغمانیانو ملي غذا ګڼل کېږي، په پخوانیو وختونو کې به سهار پخېدله خو اوس تر ډېرې زیاتې کچې یوازې غرمه یې پخېږي او ډېره کمه د شپې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا هم پخېږي. سپينه اوګره يوه بله ضميمه هم لري چې هغه يې په اصطلاح کتغ ګڼل کېږي، هر کتغ چې ورسره مل وي د همغه په نامه ياد ېږي، لکه پيتي او اوګره، مستې او اوګره، شړومبې او اوګره چې (نرۍ) هم ورته وايي، شيدې او اوګره، کورت او اوګره او داسې نور.

ب- د ناکې کورنۍ: د اوګرې په کورنۍ کې مو يادونه وکړه چې اوګره ځانته او کتغ يې ځانته وي، بيا د دواړو په نومونو ياد ېږي، خو اوګره ځانته او کتغ يې ځانته تيارېږي، يو له بله جلا وي او ګډ نه وي، خو د ناکې کورنۍ بيا په ترکيب کې تقريباً همداسې ده خو فرق يې دادی چې دلته اوګره او کتغ دواړه سره يوځای پخېږي. مانا دا چې اوګره يا وريجې په کتغ کې پخېږي، بل فرق يې دادی چې پر غټو وريجو سربېره مهينې وريجې هم په کې کارېږي. د ناکو په کورنۍ کې سبوناکه، شړومبې ناکه، پياوه ناکه او سرنجي ناکه مشهورې دي، سرنجي ناکه هغه ډول وريجې يا اوګره ده چې کله له کوچو څخه غوړي وباسي، له هغو څخه شړومبې ته ورته مايع پاتې کېږي، په همدغه مايع کې چې وريجې پخې کړي، يو ډول تريو خوند لري، همدغې ته سرنجي ناکه وايي، سبوناکه په وچو سبو کې پخېږي، شړومبې ناکه په شړومبو کې او پياوه ناکه په بې غوښې پياوه کې چې معمولاً له وچو پيازو جوړه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج- شوله: په ټول لغمان کې معمولاً یو ډول شوله پخېږي، چې اکثره په غریبو ودونو او خیراتونو کې پخېږي. د غنمو وریجو او میو یو ګډ ترکیب وي، د شولې نور ډولونه په لغمان کې زیات باب نه دي.

د - د شکربتې کورنی: شکربته معمولاً له مهینو وریجو پخېږي، په لغمان کې دوه ډوله شکربته باب ده، یو هغه ډول شکربته چې صافې کړې سپینې وریجې تیارې شي اوله پاسه پرې بوره ودوړول شي او بل هغه ډول دی چې له پاسه پرې د ګوړې میده ګې یانې شکره ودوړول شي، شکربتې لغمان کې اکثره په روژه ماتي او چرګ بانګونو کې پخېږي او کله کله که عاجل مېلمانه پیدا شي او د غوښې د پیدا کېدو امکان کم وي، نو په عاجل ډول ورته شکربته تیاره کړي، د لغمان شکربته ډېره مشهوره ده، چې سندرغاړي یې هم ارمان کوي، د تګاب غیاث استاذ چې ځان د لغمانیانو خوری بولي، د لغمان د شکربتو ډېر ارمانجن دی او وایي:

نه خو به بیا لغمان ته لاړ شو – نه به هغه شکربتې وخورو مینه

هـ- پلوونه: په لغمان کې په کورونو او بازارونو کې معمولاً هغه ډول پلوونه پخېږي چې ډېر عام دي، صافې کړې وریجې (سپین پلو)، سبزي پلو، دمېخ او قابلي پلو، دا ډول پلوونه د لغمان په بازارونو په تېره بیا په مهترلام ښار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخېږي. هر ډول پلو د هېواد د نورو بازارونو په انډول ارزانه دی. په همدې هیله چې د هېواد هر وګړي ته په هر ګوټ کې هر ډول پلوونه ورسېږي، دا لیکنه پایته رسوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټه خزانه: تر عظيم الشان قرآن وروسته

((پټه خزانه))، په پښتو ادبياتو کې هغه خورا مهم، تاريخي او ادبي اثر دی، چې په ټولو پښتو اثارو کې پښتنو ته بل هېڅ ادبي اثر دومره منښت، ګرانښت او تقدس نه لري، لکه پټه خزانه. قرآن عظيم الشان چې د ټول بشر د نېکمرغۍ او د ټولو مسلمانانو لپاره تر تصوره پورته جامع خدايي کتاب دی او ټول بشر ته د لمر د رڼا حيثيت لري او پښتانه د قرآن پر تقدس، سپېڅلتيا او روښانتيا تر هر چا زيات باوري او ګروهمن دي، خو که تر قرآن عظيم الشان او څو نورو مذهبي کتابونو وروسته په عامه روښنفکري پښتني ټولنه کې د کوم کتاب د ګرانښت، تقدس او درناوي ارزونه، پرتلنه او تلنه کوو، نو بيا خو هېڅ کتاب هم د (پټې خزانې) مقابله نه شي کولای او نه دې سره د ګرانښت او محبوبيت په تله تلل کېدی شي. د دې ګرانښت علت څه دی؟ ولې ټول ولس ورته د تقدس په سترګه ګوري؟ او بيا هغه ولس چې له ځينو خاصو مذهبي او عقيده يي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزښتونو پرته پر بل هېڅ شي په اسانۍ توافق نه کوي، ولې (پټه خزانه) مني؟ ولې يې درناوی کوي؟ ولې پرې متفق دي؟ ولې ترې خوند اخلي؟ او ولې پرې باور کوي، هر کله که مو دا او د پټه ورته پوښتنې مطرح کړې او معقول ځوابونه مو ورته پيدا کړل، کېدی شي پر (پټه خزانه) د ځو شکمنو ((ليکوالو)) شکونه راته خپله ځواب شي. زه نه غواړم دلته د ځينو نورو ښاغلو ليکوالو په شان د (پټې خزانې) په اړه تاريخي، ژبني، ادبي او کرونولوژيک دلايل راوړم او د هغو لپاره ګڼ شمېر اخځونه د ملاتړ په توګه کتار کړم، يوازې له خپل ليد لوري غواړم په عام ډول د پټې خزانې د حقانيت، ماهيت او ارزښت په اړه خپل نظر څرګند کړم:

د پټې خزانې تاريخي ارزښت: (پټې خزانې) په حقيقت کې د خپلې ښکلا له امله يو شمېر مخالفين پيدا کړل، ددې مخالفتونو يو غټ علت دا دی چې په (پټه خزانه) کې د جهان پهلوان امير کروړ سوري يو شعر (وياړنه) راغلی، دا شعر د تاريخي قدامت له مخې (۱۳۹هـ ق) کال ته رسېږي، ددې شعر له امله د پښتو ادبياتو د لاسته راغلي ليکلي شعر نېټه د ګاونډيو ژبو په تېره بيا د فارسي ژبې له لومړي لاسته راغلي شعر څخه نږدې يو نيمه پېړۍ (۱۵۰کاله) دمخه ځي. د ايران يو شمېر فارسي ژبي ليکوال وو چې د فارسي ژبې د بډايه ادب له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخې په سیمه کې د فارسي ژبې د تفوق روحیه پالي او افغانستان هم د خپلې ژبې او فرهنګ د نفوذ ساحه (!) ګڼي، د پښتو ژبې او ادب دا تاریخي قدامت او قوت نه شو زغملای، نو ځکه یې په عمومي ډول له پټې خزانې او په خاص ډول له دې شعر سره حسادت او حساسیت وښود او ورو ورو یې پر پټه خزانه د ((جعل او تذویر)) تورونه پورې کړل. یانې ددې تورونو اساسي سرچینه د ایران ملتپالي او ژبپالي لیکوال وو. دوی ددې کار لپاره په لومړي ګام کې په افغانستان کې یو شمیر فارسي ژبي لیکوال د پټې خزانې مخالفت ته راوپارول او بیا د وخت په تېرېدو سره یو شمیر ((پښتانه لیکوال)) هم ددې لړۍ برخوال شول.

د پټې خزانې سیاسي ارزښت: په مجموعي ډول ټول افغانان او په ځانګړي ډول پښتانه چې د علامه اقبال په وینا د اسیا زړه تشکیلوي، په وروستیو ، درې، درې نیم سوو کلونو کې لومړی د یو محلي او ورپسې بیا د یو ملي حکومت خاوندان شول او له دې سره سم له ځینو ګاونډیو هېوادونو سره د سیاسي رقابت ترڅنګ پر فرهنګي سیالۍ هم اخته شول، نو د یو شمېر ګاونډیو هېوادونو او قومونو سیاستوال او لیکوال چې افغانان او په تېره بیا پښتانه یې د ((یو وحشي او یرغلګر)) (!) قوم په توګه معرفي کول، د پښتنو د فرهنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شتمنۍ را سپړل او ځلول ورته د زغملو نه وو، دوی غوښتل چې فرهنګي محکومیت د سیاسي محکومیت وسیله کړي، نو په دې خاطر یې د پټې خزانې، فرهنګي، ادبي او علمي ارزښت له سیاسي هغو سره مخلوط کړ او د سیاسي انګېرنو پر بنسټ یې د (پټې خزانې) مخالفت ته راودانګل.

د پټې خزانې متني ارزښت: څرنګه چې د پټې خزانې لیکوال (محمد بن داود هوتک) یو پوخ، فطري، کسبي او مسلکي لیکوال و او د شاه حسین هوتک د دربار منلی منشي و، نو په خورا دقت او انتظام یې د تاریخي تسلسل او اخځونو په ښودلو سره د (۵۰) تنو په ګډون د شاعرانو تذکره ترتیب کړې ده او د یو ښه، پوخ او کره متن په ترڅ کې یې هغوی معرفي کړي دي، نو د متن دغې ښکلا هم ځینې منفي باف لیکوال راپارولي چې ولې یې پر هغه وخت داسې پخه تذکره لیکلې ده. دوی په عام ډول د پښتنو او په خاص ډول د (محمد بن داود هوتک) پر استعداد شک ښکاره کوي چې پښتانه! هغه وخت او داسې کتاب!!؟

دوی دېته پام نه کوي چې تر همدې تذکرې څه نږدې اووه سوه کاله دمخه د غزنویانو په دربار کې د ((شاهنامې)) په شان یو مهم اثر لیکل کېدی او زړې افسانې په نظم کېدی شي، په دې دربار کې پر یوه وخت شاوخوا (دوه نیم سوه) لیکوال پالل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدی او د شعرونو په لسګونو دېوانونه رامنځته کېدی شي، خو د هوتکيانو په دربار کې دې يو محمد هوتک ددې استعداد نه پيدا کوي چې يوازې د تېرو او هم مهالو شاعرانو يوه تذکره ترتيب کړي؟ ځکه چې د دوی په نظر دا قوم د فرهنګ او ادب پنځونې استعداد نه لري !؟ که چېرې پټه خزانه د يو ځلور پنځو شاعرانو له ګډو وډو سوانحو جوړه وای نو بيا خو کېدی شول چا پرې انتقاد نه وای کړی. اوس د پټې خزانې (منتقدين) د خپل استعداد له ليد لوري د پټې خزانې متن ګوري، دوی فکر کوي چې ولې دومره پوخ متن؟ که هر ((نقاد)) د خپل استعداد له زاويې څخه د بل ليکوال اثر ته وګوري، نو بيا خو د ډېرو نړيوالو ليکوالو پر اثارو هم شک کولای شو، ولې هومر؟ ولې هوګو، ولې بلزاک، ولې ټاګور، ولې خوشال او داسې نورې ډېرې ولې ولې.

د پټې خزانې اروايي ارزښت او اغېز: په يوه ادبي اثر کې د ليکوال او لوستونکي ترمنځ يوه پټه رابطه وي، د همدې رابطې پر بنسټ د دواړو فکري او اروايي اړيکې ټېنګېږي، دا رابطه په حقيقت کې د هغه (صداقت) بيان دی، چې ليکوال يې په خپل اثر کې وړاندې کوي. هر څومره چې د ليکوال په اثر کې د صداقت او رښتينولۍ جوهر زيات وي، په همغه اندازه د ليکوال او لوستونکي رابطه زياته ټېنګېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نږدې کېږي، که لیکوال په خپل اثر کې د صداقت پرځای د مفاهیمو په انتقال کې له تصنع، تکلف او لفظي درغلۍ څخه کار واخلي، لوستونکی به یې یو ځل اثر ولولي، بیا به یې هم ولولي خو هېڅکله به یې زړه ته لاره پیدا نه کړي، په همدې وجه تکلفي، تصنعي او نږه اکتسابي لیکوال کامیاب لیکوال نه دي او نه هم هېڅکله عام محبوبیت پیدا کولای شي. ادبي اثر داسې یوه پدیده نه ده چې څوک یې په زوره پر چا ومني او نه هم د کره کتنې په شان علم دی چې ځینې کره کتونکي په پای کې یو حکم صادوري. زه وایم چې په پټه خزانه کې کوم قوت موجود دی چې پر عام ولس او په تېره بیا پر لیکوالو یې ځان د تقدس تر سرحده منلی دی؟ نه محمد بن داود هوتک (د پټې خزانې مولف) او نه هم پوهاند عبدالحی حبیبي (د پټې خزانې شارح) کوم زور درلود او نه هم د پټې خزانې تر شاه د زور لښکرې ولاړې وې چې پر خلکو یې ومني. زما په فکر په دې اثر کې صداقت، د لیکوال احساس، عواطفو د لیکوال له فني قوت سره ملګري کېږي او په پای کې اثر هغومره قوت پیدا کوي چې ان د خلکو پر زړونو د یو سپېڅلي ادبي اثر په توګه حکومت وکړي. د دنیا په ټولو ادبي اثارو کې دا خبره تراوسه نه ده پېښه شوې او حتی دا به یوه معجزه وي چې یو څوک یا لیکوال دې نن کېني، درې سوه کاله وړاندې د یوه بل لیکوال په نوم دې تذکره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولیکي او هغې کې دې بیا ان تر یو زر کلونو پورې په بېلا بېلو دورو کې د هر پړاو له تاریخي او اجتماعي حالاتو سره سم لیکوال او ادبي بهیر داسې معرفي کړي، چې د خلکو پر زړونو دې د نورو ټولو ادبي اثارو په انډول زیات حکومت وکړي.

که موږ فرضاً د یو څو شپېو لپاره دا فرضیه ومنو نو بیا خو دغه بل لیکوال تر محمد بن داود هوتکه هم د زیاتې ستاینې او شاباسۍ وړ دی چې په شلمه پېړۍ کې داسې یو اثر لیکلای شي چې د پېړیو په بهیر کې د یوې ژبې مطرحو شاعرانو ته شعرونه هم منسوب کړي، ادبي ژوند ، مبارزې او ویاړونه هم ورپه برخه کړي او بیا نور لیکوال، سیاسي او ادبي تاریخونه هم ددې لیکوال خبره تائید کړي.

تراوسه پورې د بشر د ادب تاریخ په ټوله دوره کې دا ډول ادبي معجزه چا نه ده تخلیق کړې، هو داسې شوي چې یو شاعر یا لیکوال د بل نومورکي، نوموړ، مړ یا ژوندي شاعر یا لیکوال کلام په خپل نامه کړی وي، خو دا ډول غلا هم ډېره ژر رسوا شوې ده، خو دا بل ډول معکوس کار چې څوک دې خپل اثر بل چاته منسوب کړي او خپله دې ترې دفاع هم وکړي، په ادبي تاریخ کې یې بېلګه نه لرو.

پټه خزانه د هغې انډول، بدیل یا مثل: د پټې خزانې مخالفین چې پر پټه خزانه یې متضاد شکونه څرګند کړي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو لپاره به یو منطقي دلیل دا وای چې دوی پټې خزانې ته ورته یو بل تاریخي اثر یا تذکره جوړه کړې وای، تر هغه وروسته یې پر خلکو منلې او بیا یې له پټې خزانې سره پرتله کړې او خلکو ته یې ویلي وای چې دا دی د دا ډول ((جعلي)) اثارو لیکل او پر خلکو یې منل ګران کار نه دی. که دا کار یوه یا دوو لیکوالو نه شو کولای، نو بیا دې د پټې خزانې ټول مخالفین، په ښکاره او پټه سره ناست وای په شپو، میاشتو او کلونو دې کار کړی وای او بیا دې خپل لاسوند (سند) خلکو ته وړاندې کړی وای او ولې د هر وخت او د هر کلونه؟ ځکه د یو ((جعلي)) اثر لپاره خو د هر وخت ته اړتیا نه شته، هغه خو د تخیل، احساس او عواطفو په زور نه رامنځته کېږي، بلکې فکر، مهارت او چل ول ته ضرورت لري، نو د پټې خزانې ټولو مخالفینو باید د زیاتې انرژۍ د لګولو پرځای دا کار ژر تر ژره ترسره کړی وای. د منفي بافانو او شکاکانو دا خاصیت دی چې تر خپل فکر او استعداد پورته اثر باندې ضرور شک ښکاره کوي، مشرکینو به پر قرآن کریم هم شک کاوه، د قرآن کریم ایتونه به یې شعر باله او ځینو به سحر و جادو. کله چې د لوی خدای(ج) له لوري په همدې اړه د (انا اعطینا...) سورة نازل شو او له مشرکینو څخه وغوښتل شول چې تاسو ددې کلام معادل یا مثل جوړ کړئ، نو هغوی چې هر څومره زور وواهه څه یې ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړای شول نو تر هغه وروسته یې بیا اعتراف وکړ چې دا واقعاً هم د الله(ج) کلام دی، نو پټه خزانه خو د بشر د ذهن یوه راټوله کړې ادبي تذکره ده، نو د پټې خزانې ټولو مخالفینو ته یو چیلنج دی چې په انفرادي یا ډله ییز ډول دې ته ورته یو اثر رامنځته کړي.

پټهٔ خزانه، د شک او ثبوت مقابله: پر یوه شي باندې شک ښکاره کول اسانه دي، خو د هغه پر وړاندې د ثبوت وړاندې کول بیا هغومره اسانه نه دي. پر پټه خزانه هم شک ښکاره کول اسانه کار دی، لکه چې دا شکونه د هر شکاک له خوا شوي هم دي، خو د خپل شک د اثبات لپاره یوه هم غوځ ثبوتونه نه دي وړاندې کړي، د شکاکانو پر وړاندې هم چې کوم اسناد او دلایل وړاندې شوي هغه هم شکاکانو ته د منلو وړ نه وو هغوی پر هغو بیا هم شک ښکاره کړی دی. خو زما په نظر پټه خزانه خپله یو ثبوت دی، یو شتوالی او موجودیت دی، د ثبوت له پاسه بیا ثبوت وړاندې کول څه مانا نه لري.

لوی خدای(ج) په طبیعت کې ډېر رازونه اچولي، له هغو رازونو څخه یو دا دی چې ((هر سړی پیدا دی خپل خپل کار لره که نه)) ؛ یو څوک به کار کوي بل به نیوکه کوي، یو څوک به یو اثر لیکي بل به پرې نقد کوي، یو څوک به د ښه خوی او ښو اخلاقو خاوند وي او بل پرې شک کوي او وايي به چې دا چلند

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د قوت د نشتوالي له امله دی، په اصل ماهيت کې دا سې نه دی، يو څوک به ښه صادق مسلمان وي، بل به منافق او شيطان وي، يوه خوا به حق وي بله خوا به بطلان وي او ژوند به تر پايه همدا سې د متضادو لوريو په مقابله کې روان وي.

پټه خزانه هم د غسې يو ثابت حقيقت او واقعيت دی، په دې لړ کې شکاکان هم حق لري د خدای(ج) د پنځول شوي طبيعت مطابق خپل شک ښکاره کړي. ځينو ليکوالو د رحمان بابا د ژوند او مرګ د کلونو په باب شک ښکاره کړی او هغه يې سم نه دی بللی او په دې باب يو شمېر ليکوالو ليکنې هم کړي، دا چې رحمان بابا پر کوم کار مړ دی او پر کوم پيدا ؟ دا د دې مانا نه لري، چې د رحمان بابا له شتوالي منکر شو، د رحمان بابا د شعرونو شتوالی خپله د رحمان بابا د اثبات لپاره کفايت کوي، نو د پټې خزانې د اثبات لپاره هم غټ دليل په خپله د هغې متن دی چې د سالم عقل او فکر خاوند ترې انکار کولای نه شي. ځينو ليکوالو او په اصطلاح ((تېزبينو)) ليکوالو دا د ځان د تبليغ او اطراح لپاره يوه ښه وسيله ګڼله چې پر يو مشهور اثر، پر يوې مشهورې تاريخي پېښې او يا مطرح ليکوال وپېچي، پر هغو شک ښکاره کړي او ځان مطرح کړي.

يو وخت موږ په پېښور کې غوښتل د خوشال بابا د زوکړې د څلورسومې کاليزې په وياړ يو علمي سيمينار جوړ کړو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمینار تر جوړولو وړاندې د سیمینار د مقالو د وېش لپاره یو بورډ یا جرګه ګۍ جوړه شوې وه، په جرګه ګۍ کې یو تن مطرح لیکوال وویل زه غواړم د خوشال بابا د ژوند یانې تولد پر کال لیکنه وکړم، ده وویل زما د لیکنې عنوان دی: خوشال بابا پر کوم کال پیدا دی؟ یو زرو دوه ویشت که یو زرو یوویشت؟ ده وویل ما سره ګڼ شمېر داسې دلایل، مدارک او اسناد شته؛ دا ثابتوي چې بابا پر یو زرو یوویشت کې پیدا دی نه په یو زرو دوه ویشت هـ ق کې. موږ وویل دا یوه اتفاقي موضوع ده او واضح ده، ضرورت نه شته چې پر دې لیکنه وشي، د بابا د ژوند او اثارو پر هغو اړخونو باید خبرې وشي چې تراوسه لا مبهم دي او څېړنې ته اړتیا لري، خو لیکوال صیب بیا ټینګار وکړ څوک وایي چې د خوشال بابا د ژوند کال اتفاقي دی؟ هېڅ اتفاقي دی نه، تاسې یو ځل زما منابع او اسناد وګورئ بیا به مو باور پرې راشي، پرېږدئ چې موږ لوستونکو ته واقعیت وایو، کله چې لیکوال پر خپلې خبرې تر حده زیات ټینګار وکړ، نو ماته هم یو څه غوصه راغله ما ورته وویل: د خوشال بابا په باب تر ټولو کره، معتبره او باوري اسناد کوم دي؟

ده وویل خپله د بابا اثار. نو ما وویل کله چې خپله بابا وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((د هجرت زر دوه ویشت سن و ــــ چې زه راغلم په میان))

نو بیا ته څوک یې چې د بابا د ژوند په هکله خپله د بابا خبره رد کړې، دې سره زموږ بحث نور پای ته ورسېد.

نو اوس راځو خپلې خبرې ته چې پر یوه شي د شک ښکاره کول او د هغه لپاره د یو څو مرتبو او نا مرتبو، وړاندې او وروسته دلایلو راوړل او د عادي لوستونکو د ذهنونو ګډوډول اسانه کار دی، خو د خپل نا سم شک اثباتول ساده کار نه دی.

د پټې خزانې له مخالفینو څخه یو: پټې خزانې په پیل کې د سیاسي او کلتوري سیالیو له امله بهرني مخالفین درلودل، وروسته وروسته بیا د مخالفتونه په کورنۍ کچه هم څرګند شول، خو د کورنیو مخالفینو د مخالفت علتونه ډېر زیات سیاسي او کلتوري نه وو؛ اکثره د حقارت له رواني عقدو او په فرهنګي چاپېریال کې د سالم رقابت له لارې لوړ شهرت او مقام ته د نه رسېدو له امله پیدا شول. د کورنیو مخالفینو سرخېل ښاغلی قلندر مومند دی چې په پښتنو لیکوالو کې نسبتاً پام وړ مقام لري. د قلندر مومند د شهرت یوه لویه وجه همدا د پټې خزانې مخالفت دی، سره له دې چې هغه په شعر، لنډه کیسه، تنقید او تحقیق کې هم مشهور دی، خو په دې هره برخه کې دده همعصره داسې نور پښتانه لیکوال وو چې له قلندر مومند څخه یې اول مقام نیولی و او زیات شهرت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسېدلي وو ، د ببلګي په توګه که څوک د غزل نوم اخلي ، نو د حمزه بابا ، که د تحقيق نوم اخلي نو کامل مومند ، که د لنډۍ کيسې نوم اخلي نو مهدي پاچا او که د انقلابي شاعرۍ نوم اخلي نو د اجمل ختټک نومونه يې اول په ذهن کې راګرځي.
قلندر مومند ته دده د فرهنګي شخصيت د خروب او مطرح کېدو يوازينۍ لاره همدا ((تنقيد)) پاتې وه. نو ده بايد داسې يو څه ته ګوتې ورورې واى چې دده د فرهنګي شخصيت د شهرت غوښتنې دا غريزه يې خړوب کړې واى. د قلندر مومند دا پټه تلوسه هغه وخت د فوران حالت ته ورسېده چې پر (۱۳۴۵ل، ۱۹۶۶م) کال کابل کې د خوشال بابا په ياد جوړ شوي نړيوال سيمينار ته رابلل شوى و ، دا هغه مهال و چې د پټې خزانې له لومړي چاپ څخه نږدې (۲۵) کاله تېرېدل، ددې سيمينار علمي مشري د لوى استاد علامه عبدالحى حبيبي پر غاړه وه. دې سيمينار ته پر قلندر مومند سربېره حمزه بابا او څو نورو ليکوالو ليکنې وستايل شوې، لوى استاد پوهاند علامه حبيبي چې نه يوازې د افغانستان، بلکې د ټولې سيمې په کچه يو لوى عالم و ، هم زيات وستايل شو او درناوى يې وشو ، قلندر مومند په دې سيمينار کې دده له خپلې توقع او شان سره برابر ونه ځلېد ، نو له همدې ځايه ده د داسې يو ناسم رقابت لاره ونيوه چې پخوا يې دومره جوش نه و. دا وخت د قلندر مومند د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلم نو که او ذهن د (استاد حبیبي) لوري ته واوښتل او په دې کې یې لومړی کتاب چې لوی استاد پرې حاشیې، تعلیقات او شرحې لیکلې وې هغه (پټه خزانه) وه، نو همدا کتاب هدف یا ټارګېټ شو، ولې پټه خزانه هدف شوه؟ ولې د حبیبي صاحب خپل تالیفات تر برید لاندې رانغلل؟ ددې پوښتنې ځواب دادی چې د پټې خزانې د تردید لپاره لا تر دې دمخه بهرني ذهنیت کار کاوه، هغوی هم یو کورني شکاک او کورني شکاک هم یو بهرني ملاتړ ته اړتیا لرله، مشترکې ګټې د دوی د ګډې همکارۍ سبب شوې. ښاغلي قلندر مومند تر هغه وروسته پر پټه خزانه څو انتقادي لیکنې وکړې او د پېښور په چاپي خپرونو کې یې خپرې کړې.

قلندر مومند نږدې شل کاله پر پټه خزانه ((تحقیق او تنقید)) وکړ او په پای کې یې ((پټه خزانه فی المیزان)) کتاب چاپ کړ، هغه وخت چې لوی استاد عبدالحی حبیبي ژوندی و، نو د پټې خزانې د بهرنیو او کورنیو شکاکانو د شکونو په اړه یې خپل مستند دلایل ولیکل، دلوی استاد تر مړینې وروسته قلندر مومند ته لاره نوره اواره شوه، وروسته ده یو شمېر هغه لیکوال په تېره بیا د پېښور ځینې ځوان لیکوال چې دده پر چاپېریال راټول وو او په یو نه یو ډول یې ده د شخصیت په وده کې رول درلود، په زړه نا زړه ډول د قلندر مومند فکر تعقیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ، خو بیا هم په پېښور او کویټه کې ډېر نور داسې لیکوال وو چې د قلندر مومند د نظریاتو خلاف یې لیکنې وکړې. ښاغلي همېش خلیل د قلندر مومند د ((پټې خزانې فی المیزان)) په ځواب کې د ((تول پارسنګ)) په نامه یو مستقل اثر ولیکه. د پټې خزانې د مخالفت لړۍ په پای کې د ابتزال داسې یو حالت ته ورسېده چې ان ځینې داسې کسان چې اصلاً یې په خپل ټول عمر کې یو ځل هم پټه خزانه لوستې نه وه، هغوی هم د پټې خزانې په اړخ خپل نظرونه څرګند کړل. یوه ورځ له پېښوره (ټل) ته په یوه مشاعره کې د ګډون لپاره روان وو، د کوزې پښتونخوا یو ځوان لیکوال له ما څخه وپوښتل ((یون صاحب دا د پټې خزانې په باب ستا رایه څه ده؟)) ما ویل له رایې څخه دې مطلب څه دی؟ ده وویل منې یې که نه؟ ما وویل زه یې و منم که و نه منم هغه خپله داسې یو اثر دی چې ځان یې پر خلکو منلی او بل دا خو څه د عقایدو مسله نه ده چې که څوک یې و منې نو له ګناه به خلاص شي او که ویې نه منې نو ګناهکار به شي. منل نه منل د هر چا خپل کار دی خو واقعیت په خپله واقعیت دی. ده وویل بیا هم مطلب مې همدا و. ما ویل ستا رایه څه ده؟ ده وویل زه خو یې مخالف یم. ما ویل پټه خزانه دې لوستې؟ ده وویل نه جي! ما ویل چې لوستې دې نه ده نو بیا مخالف یې په څه یې؟ ده وویل: دا قلندر صاحب او نور چې کوم دي، هغه یې نه منې

(c) ketabton.com: The Digital Library

که نه ما ویل... ما وویل د واقعیت خبره ښېله ده او د منلو یا نه منلو خبره ښېله. ما ویل اسلام د خدای(ج) یو کامل دین او قرآن د خدای(ج) اسماني کتاب دی، بیا یې هم د نړۍ نا مسلمان وګړي او همدارنګه یو شمېر منافق مسلمانان عملاً نه مني نو دا خو ددې مانا نه لري چې اسلام او قرآن کې نیمګړتیا ده، نیمګړتیا خپله زموږ په ذهن کې ده. پټه خزانه یو واقعیت دی چې پټېدلای نه شي، د منلو او نه منلو خبره د هغې د واقعیت مانع کېدلای نه شي...

د قلندر مومند ترڅنګ یو شمېر نور لیکوال چې د هغه لاره تعقیبوي، هغوی له معقولې لارې او د فرهنګي کارو هڅې په وسیله د شهرت او مقام لوړو پړاوونو ته نه شي رسېدلای، نو دوی دا لاره غوره ګڼلې چې داسې یو ادبي اثر ته لاس وغځوي چې هغه د خلکو زړونو ته لاره پیدا کړې وي، دوی فکر کوي په دې کار سره به د خلکو حساسیت راوپارېږي او زموږ لیکنه به ولولي، بیا به مو پر ضد لیکنه وکړي او که ځواب را نه کړي نو بیا به وو ایو ګوره چې زموږ دلایل پاخه وو چا یې ځواب ونه شو ویلای. دا ډول لیکوال چې د شهرت د فقر پر غریزې اخته دي، په هر ځای کې شته؛ په جلال اباد کې یو ځوان عادي او مبتدي لیکوال په یوه نوې راوتې سیمه ییزه مهالنۍ عادي جریده کې پر یوه ډېر پاخه او مطرح لیکوال په دې نیت بې ځایه، نامعقوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

او له واقعیت څخه لرې انتقادي لیکنه وکړه چې مطرح لیکوال به یې ځواب ووایي او دې سره به ((منتقد)) او ((جریده)) دواړه شهرت ته ورسیږي او په پینځوو کې به یاد شي. خو مطرح لیکوال هغه لیکنه ډېره بابیزه وګڼله او هېڅ ځواب یې ورنه کړ، یو بل لیکوال ورڅخه وپوښتل چې د هغه لیکنې ځواب دې ولې ورنه کړ؟ هغه وویل: دا ځوانان دي، دوی د شهرت غریزې پسې اخیستي، زه نه غواړم په خپل ځواب دوی خپل هدف ته ورسوم. دا مسله همداسې غلې پاتې شوه، څه موده وروسته هغو ځوانانو له هغه مطرح لیکوال څخه بښنه وغوښته. نو د پټې خزانې د کورنیو مخالفینو یوه غټه ستونزه او ناروغي همدا ده چې د شهرت غریزې پسې اخیستي دي. که موږ د ښاغلي قلندر مومند ټول لیکلي اثار سره وارزوو نو راته معلومه به شي چې هغه په غزل کې د حمزه بابا، په انقلابي شاعرۍ کې د اجمل خټک او په تحقیق او تاریخ لیکنه کې د کامل مومند او استاد عبدالحی حبیبي مخکښي نه شوه زغملای. د ارواپوهنې له نظره هغه اشخاص چې د ژوند په یو لړ سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي چارو کې ناکام او یا هم تر خپلو محسوسو او نامحسوسو سیالانو پاتې راشي، معمولاً پر منفي کرکترونو بدلیږي، هغه لیکوال چې په لیکوالۍ کې د تخلیق او تحقیق په دواړو برخو کې پام وړ او مطلوب پرمختګ ونه کړي معمولاً

(c) ketabton.com: The Digital Library

دربیمه لار (تنقید) غوره کوي. کله کله بیا دا تنقید د اصلاح او لارښوونې پر محور راڅرخي، خو کله کله بیا د منفي بافۍ د ناروغۍ ښکار شي او هرې مثبتې پدیدې ته ضرور د شک او تردید په سترګو ګوري، ښه کره کتونکی همغه دی چې یو اثر مخکې تر مخکې د ښه والي او بدوالي د ټاکلې فرضیې له مخې ونه رازوي. یانې فرضیه مخکې تر مخکې قید نه کړي، چې حتماً به دا اثر ښه ثابتوم یا بد او کمزوری. ښه لاره داده چې اثر څنګه دی همغسې یې وارزوي، خپل شخصي نظر او عواطف په کې دخیل نه کړي. زه فکر کوم چې قلندر مومند مخکې تر مخکې د پټې خزانې په اړه د (رد) فرضیه ټاکلې وه او خپله ټوله انرژي یې د همدې (رد) لپاره راټوله کړې وه. د قلندر مومند د لیکنې تر شا څه رواني مشکلات پراته وو، چې ده نږدې شل کاله د هغه اثر د تردید لپاره کار وکړ چې محمد هوتک هغه په دوو کلونو کې لیکلی و. کېدی شي محمد هوتک د پټې خزانې پر لیکلو دومره نه وي په تکلیف شوی لکه قلندر مومند یې چې په تردید کې په تکلیف شو.

قلندر مومند په خپله لیکنه کې په اصطلاح له نجومي علم څخه هم ګټه اخیستې او په اصطلاح له بېلابېلو جنتریو یې استخراج کړی چې د پټې خزانې د متن په پای کې یوه راغلې نېټه غلطه ثابته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد هوتک په پټه خزانه کې لیکي: ((کتاب تمام سو، په ورځ د جمعې (۲۴) د شوال المکرم (۱۱۴۲) هجري په قندهار کې او مولف محمد هوتک هم فارغ البال سو الحمد لله حمداً کثیراً))

خو قلندر مومند په دې نظر دی چې د شوال (۲۴) د جمعې ورځ نه ده، له همدې پورتني ټکي سره په ارتباط کې د ښاغلي قلندر مومند د یوې مرکې یو ټکي ته ستاسو پام را اړوم.

د قلندر مومند تر وفات نږدې درې کاله وړاندې، ښاغلي حنیف خلیل له ښاغلي قلندر مومند سره یوه مرکه کړې وه، دا مرکه همغه مهال له پېښوره خپرېدونکې (وحدت) ورځپاڼه کې چاپ شوې وه. په دې مرکه کې ښاغلي حنیف خلیل له ښاغلي مومند څخه پوښتلي وو چې ستاسو د پیدایش کال کوم دی؟ هغه ورته په ځواب کې ویلي وو ((... زما د پیدایش کال ماته معلوم نه دی، ځکه چې هغه وخت مور و پلار د پیدایش کال نه لیکه او که چا لیکه هم نو په یوه کاغذ کې به یې لیکه بیا به یې د قرآن شریف په منځ کې ایښوده، نو په دې وجه زه تاسو ته د خپل پیدایش کال سم نه شم ښودلای))

اوس دلته د خپل پیدا ایښت د کال په اړه دومره بې تفاوته او یا نا خبره دی، نو بیا کوم دلایل او مهم عوامل وو چې دی یې دېته هڅوه چې درې درېنیم سوه کاله دمخه له نورو سره د ورځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ساعتونو حساب، هغه هم په خپله خوښه وکړي؟ پر ۱۱۴۲هـ ق کال د شوال (۲۴) د جمعې ورځ وه او که نه وه؟ دا او دې ته ورته پوښتنې سړي ته د دې لاره او اروي چې په خپله د شکاکانو پر نظرونو او شکونو شک وکړي او ووايي چې دا ډول شکونه له سياسي، کلتوري سياليو او شخصي عقدو څخه راټوکېدلي دي او پر واقعيت ولاړ نه دي. که د پټې خزانې د بهرنيو او کورنيو مخالفينو ټول نظرونه راټول کړو نو کېدی شي دې نتيجې ته ورسېږو چې دا ټول نظرونه د سياسي، کلتوري، ژبنيو او تاريخي ناوړه غرضونو او د ځينو ځانپالو او شهرت خوښو ليکوالو د شهرت د غريزې او شخصي عقدو يو ګډ امتزاج دی چې علمي معيارونه نه لري او پر پورتنيو يادو عواملو ولاړ دي او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"د ځګانځګاني شګا مار " سفر

د استاد مجروح د ځانځانی ښامار
د ځینو منظومو برخو منثوره بڼه

د انسان ځګانغوشګتنه او نفسي خواهشات داسیګ غریزیي عناصر دي چیګ هر وخت له انسان سره ملګګري وي، د انسان نفس اصلاً د لایتناهي هوسونو مجموعه ده. که ددیګ هوسونو او نفسي غوشګتنو مشروع علاج او کنترول ونه شي او هغه په سم أول مهار نه شي، نو د انسان له نفس خګخه خپله یو لوی شګامار جوړیګږي، داسیګ یو شګامار چیګ تګول عمربه د مثبتو انساني ارزشګتونو پر له منحګه وړلو او خوړلو مصروف وي، تر تګولو د مخه ییګ خپله همغه انسان ته خطر او زیان تر تګولو زیات دی او د غتګوالي او ودیګ په حالت کیګ ییګ مقابله هم ورته أیګره کګرانه ده. استاد سید بهاوالدین مجروح په ((ځګانځګاني شګامار)) کیګ د نفس د همدغه شګامار کیسه کوي چیګ په خګه أول په انسان کیګ عواطف، مینه، صمیمیت او خواخوږي له منحګګه وړي او په هغه کیګ د لوړتیا، ځګانغوشګتنیګ او ځګانخوشګونیګ غریزه پیاوړیګ کوي. د ماسپړی دورې په بهیر کې د استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجروح پر دې اثر باندې پر گڼو تبصرو او ليکنو سربېره، پر منثوره بڼه منظوم اړول هم شامل و، ما دا اثر په لنډېز سره په منثوره بڼه واړاوه، داسې چې محتوا يې هم خوندي شوي دي او خپله د استاد الفاظ هم کارول شوي دي او د روايتي داستان بڼه يې هم په پام کې نيول شوې ده.

استاد مجروح خپل دا اثر ((د ورک سمندر غاځيگ)) خگخه پيلوي او په يوه شگار کيگ د ژوند په باب د يوه عالم د خوليگ خبريگ بيانوي، دا عالم په خپلو خبرو کيگ وايي: ((تر هغه چيگ دا حگمکه او اسمان وي، تل د هر انسان دوزخ به بل انسان وي)). عالم وايي ((دا ژوند يو مرموزه سمندر دى، جهنم په بل جهان کيگ چيگرته لريگ نه دى، بلکيگ د هر انسان په حگان کيگ د هغه جهنم دى.)) بيا د شگار د وکگؤو کيسه کوي چيگ له يو بل خگخه أاريگإي، له حگانه جکگ ديگوالونه راتاووي، يو بل سره اختنه دي خو له توپانه نه دي خبر چيگ را روان دى، خو دديگ تر خگنکگ پوهگ سؤى وايي چيگ زه له توپانه نه أاريگإم خو د خپل زؤه د ژورو په تل کيگ له شگاماره أاريگإم، عالم سؤى په ديگ سوچ کوي چيگ د شگار خلکو ته خگنکگه خپل پيغام ورسوي.بيا د ژوند لومؤى خگرخ تاويگإي او شگامار د مرکگ پر لوري حگي، دلته په لومؤي پؤاو کيگ د هغه شگار کيسه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیګ تګول شګاریان ییګ رنحګوران دي. دلته د هغه شګار کیسه کیګاٍي چیګ خلکو ییګ یو بل سره په صمیمیت او دوستة کیګ ژوند کاوه، د بادارة او غلامة چل ییګ زده نه و. خګاروي له حیواناتو نه اأریګدل او مرغانو خپلیګ خواٍیګ نغمیګ غاٍولیګ، په همدیګ وخت کیګ د تګول جهان لوی فاتح را خګرګګندیګاٍي، یو سؤی پر تور اس سپور وي او توریګ جامیګ ییګ اغوستي وي او حګان ته د ((ایککو)) یانیګ (زه) خطاب کوي، دیګ سره پر شګار د فرماندار واکمني شروع شوه، نوي واکمن شګحګیګ په کور کیګ دننه بندیګ کؤیګ، حګوانان ییګ پر سختو کارونو وګګمارل، هوسة او مرغان ییګ په غشو وویشتل او خګارویو تګولو له شګار کأه وکؤه، په همدیګ وخت کیګ د شګار خلک له ویګریګ د اژدها (شګامار) ستاینیګ پیلوي، د فرماندار مجسمه جوؤیګاٍي، لوی راهب د شګامار له ژونده خبر و او خلکو ته د هغه کیسه کوي، راهب د چینجي کیسه کوي چیګ خګنګګه په لوی شګامار او قوت بدل شو. بیا د شګامار بد او بیګ درمانه انحګور تشریح کوي، غم، قهر، غضب، أار او وهم د هغه غتګ مرضونه ګګنګي، شګامار د خپلیګ واکمنة په دویم پؤاو کیګ یو دمه حګای لتګوي، خو هیګخګ داسیګ دمه حګای نه شي پیدا کولای چیګ دی په کیګ دمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، نو حګکه خو د یوازیګتوب احساس کوي او شګار کیګ هیګخګوک داسیګ نه پاتیګ کیګاٍي چیګ دده خدمت وکؤي، نه مینحګه وه نه نوکر و چیګ دی پریګ فرمان وچلوي، تګول شګار مؤو، چوپه پوپتیا وه او له شګاره هدیره جوؤه شویګ وه.

بیا هغه تیګر وختونه ورپه یاد شول، د عشق او مینیګ شګاپیګرة، د ژوندون د سیند پر غاؤه خوبونه، خو اوس نه نارنج و او نه ییګ کګل، نه ییګ بویونه، نه د مرغیو أليګ أليګ ویګ چیګ د شګار خلک ییګ نندا ریګ ته ولاؤ وي، بیا د سیند په منحګ کیګ یو مار تیګریګاٍي او پر سر ییګ د لعل په شان رنګا بلیګاٍي، د شګار د خلکو منحګ کیګ کګونکګوسي پیلیګاٍي، دیګ سره د شګار قهرمان د ژوندون د سیند له غاؤیګ جلا کیګاٍي او د ژوندون د چینیګ پر لوري نه ستنیګاٍي. بیا له حګان تپوس کوي ((هغه ورکه نامعلومه هستي هخګه ده چیګ دا هسیګ سرګردانه ورپسیګ کګرحګم، په د شګتو په بیابانونو؟))

قهرمان به په سوچونو کیګ أوب و. دیګ وخت کیګ د سپرلي الهه ورته خبریګ کوي چیګ ((بیګ له ما به ستا باغونه، چمنونه تګول خزان شي او ستا رودخانیګ به هم وچیګ شي...)) قهرمان بیا په خپله هسکه مانګة کیګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سیگده خو د اوإدو فکرونو پـه تگال کیگ زنکگیگده، خو یوه ورحگ ماشگام چیگ توره خؤه را دبره شوه نو یوه زؤه بوأة له کومه حگایه ، پتگه پتگه او غلیگ غلیگ راغلـه او د شگار د دروازیگ خواته ودریگدله، أیگره بده خگیگره ییگ درلودلـه، توریـگ جامیـگ ییـگ اغوسـتیگ ویـگ، لـه اجازیگ او زنحگیر شرنکگولو پرته د قهرمان مانگة تـه ننوتـه او لـه هغـه سره ییگ ملاقـات وکؤ. د بوأة تر ملاقـات وروسته دریگم پؤاو پیلیگإي "د دوزخ لـه درشـل دیگخـوا ". پـه دیـگ وخت کیگ فرماندار یا قهرمان هغه وخت په یادوي چیگ ده د خپـل زؤه شـگکلیگ مانگـة جوؤولـه، بیـا د عشـق رب النـوع او الهـه ددیـگ مانگـة د شـگکلا کیسـه کـوي چیـگ دا مانگـة د عواطفـو او هیجـانونو معمـارانو جـوؤه کؤیـگ ده او أیگـر شـگکلي نقشـونه او نکگارونـه ییـگ درلـودل او د دیـگ لپـاره ییگ تیاره کؤیگ وه چیگ کله به ورتـه سـتر واکمـن د عشـق او مینیـگ رب النـوع او الهـه رارسـیگإي، خـو خگـومره چیـگ شپیگ اوإدیگدلیگ د ده د راتکگ انتهـا ورکیگدلـه. خو پـه اخر کیگ هغه نا اشنا سؤی چیگ توریگ جامیگ ییگ پـر تـن او پر تور اس سپور و راشگکاره شو- او مانگة تـه پورتـه شـو او د شگار خلکو ته ییگ په خطاب کیگ وویل: "زه خو زه یـم ، زه " "ایکگو " یـم. زه فـاتح د لـوی جنکگونـو د جهـان یـم ستاسـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شگار زما تابع دی ". د شگار خلک له ظلم نه فراري شول او شگار د سکوت خواته روان شو. فرماندار په شگار کیگ یوازیگ پاتیگ شو ، په شگار کیگ یوازیگ دده د ستاینیگ تابلو کگانیگ حگوؤندیگ ویگ. یوازیگ به بییگ آئینیگ ته کتل او چیگ کله به بییگ حگان ونه لید وارخطا به شو چیگ حگان تریگ ورک شوی، خو خبر نه و چیگ ائینه خو د دوزخونو دروازه ده او له آئینیگ خگخه اخوا تیگریگدل د اوهامو جهنم ته کوزیگدل و. قهرمان د اوهامو جهنم ته ولویگد ، د لحظو په پتگ دام کیگ کگیر شو او د زمانیگ په شمیگرنه کیگ أوب شو او هره شپه ورته یوه بییگ اغازه او بیگ پایانه خگیز شگکاریگده ، بیا په دیگ سوچ کیگ أوب شو چیگ کهخگوک په دیگ پوهیگدلی چیگ خگشگتن ددوی روح اخلي نو هیگخگکله به بییگ د ژوند ارمان کؤی نه وای.

او په دیگ توکگه قهرمان د تجرید او تنهایي ژوریگ کندیگ ته پریگوته، خو یوازیگ احساس بییگ ورسره ملکگري کوله او دده د ذهن پر دیگوالو به کگرحگیگده. دیگ کیگ ده ته دا درد پیدا شو چیگ زمانه بیا نه راکگرحگي او پرونی سهار بیا نه راغبرکگیگاِي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو وخت داسیگ هم راغی چیگ له قهرمان خگخه خپل سیوری ورک شو او هریگ خواته ییگ چیگ کتل خپل سیوری ییگ نه لیده او دیگ پیگشگیگ أیگر مظرب کؤ. بیا ییگ وویل: "اوس په کار دي چیگ زه لاؤ شم او هرومرو پیدا کؤمه خپل سیوری"، بیا ورته تشویش پیدا شو هسیگ نه چیگ زه خپله سیوری یم، داسیگ سیوری چیگ اصلي وجود ییگ ورک وي. بیا ورته په زؤه کیگ وهم پیدا کیگإي هسیگ نه چیگ پر کومه بله لاره تللی یم. هغه په دشگتو کیگ هم سوچونه کوي او د ازادة د مانا او مفهوم په لتگه کیگ دی.

دیگ کیگ خگلورم پؤاو ته ورداخلیگإي او "د دوزخ له درشل اخوا "کیسه پیلیگإي. قهرمان تر دیگ وروسته خوب هم په ارامه نه شو کولای او په خوب کیگ به أیگر زیات ویگریگده، یوه ورحگ له خوبه پاخگیگده، کگوري چیگ شگار کیگ پرته له ده خگخه هیگخگوک نه شته بیا به وهم اخیسته او له کگونکگسیو به ویگریگده. بیا ییگ د یو توپان یا جکؤ د راتلو خبر واوریگد او له دیگ جکؤ خگخه ییگ د قهر یو اواز هم واوریگد، په همدیگ وخت کیگ په جکؤ او توپان کیگ قهرمان ته ویل کیگإي چیگ تا ته مواإد خپل تگول وجود او هستة اختیار درکؤ، خو تا حگانته داسیگ نوم غوره کؤ چیگ تاویگ زه یم نوم میگ "زه "دی "مواإ" او

(c) ketabton.com: The Digital Library

"تاسیگ " یوه پرده ده. دا پرده مو کؤله ورکه. مونږه تگولو ستا په "زه " کیگ کؤو حگان محوه. ته مغرور او متکبر شویگ تا د ازادة جذبیگ بندیگ کؤیگ ، خو اوس هغه تگولیگ بل شانیگ خگیگریگ دي او نن حگانته "روحي اضطراب " وایي. اوس به د تر وإمیو پرشگته راحگي. بله ورحگ چیگ قهرمان له خوبه پاخگیگد ، آئینیگ ته بییگ وکتل، حگان بییگ ونه پیگژانده خو د همدیگ ورحگیگ په ماشگام کیگ چیگ توره تیاره شوه، بیا یوه زؤه بوأة پیدا شوه، د تور لوکگي توریگ جامیگ بییگ اغوستیگ ویگ او د همغیگ هسکیگ مانگة پر لوري د قهرمان ملاقات ته لاؤه او قهرمان ته بییگ د تلو بلنه ورکؤه. خو قهرمان ورته وویل چیگ زه همدلته خوشگ یم. خو بوأة ورته وایي چیگ اوس په تا ناوخته شوی اوس زه تا حگان سره بیایم هغه حگای ته دیگ بیایم چیگ د حگان له جهنمه خلاص شیگ ،گ کله چیگ قهرمان په حساب پوه شو چیگ خگوک له خپل قسمته تشگتیگدلی نه شي نو د خپلیگ هستة په ژور تل کیگ بییگ دا احساس وکؤ چیگ مطلق یوازیگ پاتیگ دی یوازیگ ، نو بیا د توریگ مانگة له کنأوالو نه رار وان شو او له بوأة سره کومیگ نامعلومیگ خواته لاؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دیگ وروسته حگانحگاني شگامار به دویم خگرخ کیگ یو حگل بیا راستنیگإي.

"د ژوندون د چینیگ غاؤه په تورتم کیگ "د پنحگم پؤاو برخه ده چیگ په دیگ کیگ یو حکیم د انسان شخصیت تشریح کوي چیگ دی اصلاً خپل حگان نه کگوري، بلکیگ خپل سیوری کگوري او پر دیگ سیوري د حقیقت کگومان کوي. تر دیگ وروسته له لریگ ملکه د یوه مسافر راتکگ ته انتظار ایستل کیگإي چیگ د ورک سمندر غاؤیگ کیسیگ او احوال ورته راوؤي.

"د نیمو شپو لاروی" د غار توریگ خولیگ ته ناست و او حگان ته ییگ وینا کوله چیگ أیگریگ مزلیگ میگ وکؤیگ خو لاره میگ پیدا نه کؤه، حگکه ما سره چیگ خگوک د سفر ملکگری و، هغه یوازیگ د حگان په باب فکر کاوه او پر حگانحگانة اخته و. خو لاروی وروسته مجبوریگإي د حگانحگانة له ملکگري خپله لاره بیگله کؤي او د سبا په تمه منتظر کیگني تر خگو چیگ پسرلی په دنیا راشي. په داسیگ حال کیگ چیگ د بیگلتون شپه تورتم نه وه، لاروی له خپلیگ حگانحگانة "زه" نه راجلا شو. دیگ سره نو دی له زؤو ایرو راولاؤ شو، له خپل حگانه ییگ د خپل وجود یو زؤ قالب وویست او دوریگ ییگ کگوزار کؤ. بیا ییگ د اوشگکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خګاخګکي روان شول، نو دیګ سره ییګ وویل اوس به نو د خوؤ په وچ بستر کیګ د اوبو أک رودونه روان شي. خو لا هم د شګار پر لوري د لاروي سفر ته أیګره لاره پاتیګ وه.

نو حګکه باید د تورتم ژور تل ته کشګته شي که د رنګا خګرک ولکګوي. لاروي تر اوإده مزله وروسته د تورتم په ژورتیا کیګ یوه کوچنة شانته رنګا ولیدله. لاروی بیا یو تور أنأ ته رسیګإي، هلته کګوري چیګ واؤه واؤه چینجیان د یوه بل پر حګان اخته وو، یو بل به ییګ خوؤ، په دیګ کیګ به یو غتګ شو، نور چینجیان به ییګ وخوؤل، بیا به تریګ ماهی جوؤ شو، مارماهی به شو او بیا به تریګ نهنګګ جوؤ شو، بیا به ییګ وزرونه او تیګره تیګره غاشګونه پیدا کؤل.

له واؤه چینجي به غر جوؤ شو. نور به په أنأ کیګ نه حګاییګده. دیګ کار به لاروي ته أیګریګ پوشګتنیګ پیدا کؤیګ خو لاروي چیګ به هر خګومره د رنګا لتګه کوله، رنګا به لریګ حګلیګدله.

لاروی بیا مزل کوي، جزیریګ او تګاپوکګان ییګ ولیدل، د هریګ زریګ زؤه کیګ ننوت، هره زره لکه یو بحر نامحدوده وه، خو ده ته په دیګ تګولو کیګ یو لوی حایل او مانع دا و چیګ دا حایل فقط د مانا او مفهوم نشتوالی و، دا داسیګ یو دیګوال و چیګ له تګول عالمه راچاپیګر و خو لاروی په اخره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیګ پوه شو چیګ عالم او هستي واؤه بیګ معنی او بیګ مفهومه دي.

شپإم پؤاو د هغه شګار سفر دی چیګ تور شګامار وربانديګ ناست و. لاروی بیا په یوه تونل کیګ د رنګا په خګرک پسیګ روان شو او په دیګ نیت ییګ عجله کوله چیګ خګنکګه د شګار خلک خبر کؤي چیګ شګامار بیا راروان دی. بلاخره شګار ته ورسیګد او هلته ییګ یوه نازنینه پیګغله ولیده، چیګ شین بخن زوؤ کمیس ییګ اغوستی و. لاروي ییګ په سترکګو کیګ د خپل ورک سمندر غاؤه ولیده. پیګغلیګ ورته له خپل منکګي اوبه ورکؤیګ او هغه پریګ خپله تونده ماته کؤه. د شګار خلکو دیګ پیګغلیګ ته لیلیګ ویله. لاروی حګي هغه شګار ته چیګ د زؤه په سترکګو ؤوند و. کله چیګ شګار ته راحګي نو شګار کیګ چوپه چوپتیا ده، ماشومان نه ککګرحګي، یوه سپین إیري ؤوند په ملا کؤوپ نه تپوس کوي، هغه ورته وایي چیګ دا هرخګه د واکمن په امر شوي. لاروی چیګ له اوإده سفره شګار ته راغلی و او په سمخګه کیګ ییګ ویګشګتان او نوکان أیګر لوی شوي وو او هم ییګ جامیګ په اوإده سفر کیګ أیګریګ خګیریګ خګیریګ شویګ ویګ او بدن ییګ تریګ شګکاریګده، نو په شګار کیګ په لیګوني مشهور شو او خلکو به مجنون باله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رشگتیا هم په ؤندو کیگ دی یو بینا و چیگ نوم ییگ مجنون و. لاروي چیگ د شگار د خلکو ژوند ولید چیگ د قهرمان یا ستر پهلوان ستاینه کوي، یا پریگ خوشالي کوي نو ده پریگ خندل نو د شگار خلکو به ویل چیگ دا سؤی خو رشگتیا لیگونی او مجنون دی. نو ولیگ ییگ په زنحگیر نه تؤي، خو حگینو نورو به ویل چیگ لیگونی دی، خو د زنحگیر لیگونی نه دی او چاته ضرر نه رسوي، خو لاروي به خلکو ته خپل پیغام اوراوه کـه خگـه هـم لـه ماشـومانو پرتـه لویـانو ورتـه غـوإ نـه ایشـگوده، ده بـه خلکـو تـه ویـل: "دا عـالم او هسـتي واؤه بیـگ معنی ده بیگ مفهومه. " د شگار ساده کگانو به لاروی حگوروه او ورته ویل به ییگ خبر نه ییگ لیلیگ خگه شوه؟ دیدار ته بیگ لاؤ شه ! سره أولة سنباله شویگ ده، ستا لیلیگ په کیگ سینکگار کؤیگ ناسته ده، خو لاروي به ورته ویل چیگ لیلیگ زما په زؤه کیگ ناسته ده. یوه شپه لاروی د خرابات پر کو خگه برابر شو، تگنکگ تگکور جاري و، لاروی چیگ وردننه شو هغو ورته هر کلی وو ایه، لاروي ورته وویل چیگ تاسیگ تگپوسان او کگیدؤان یاست، هغه خگه چیگ باید شگکاره وي ولیگ په دیگ شگار کیگ پتگ دي او هغه خگه چیگ باید پتگ شي هغه په رنگا کیگ بیگ پردیگ کگرحگي. لاروی بیا مستانو سره خوندور سوال او حگواب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي. يو مست پو شګتنه کوي چيګ وليګ د جهان تګول فرماندار ان له مستانو أاريګإي؟ لاروی حګواب ورکوي حګکه چيګ ددوی په خبرو کيګ د راستة خطر وي. بيا لاروی مستانو ته وايي: "لإ راپا خګئ راولاؤ شئ، دديګ دشګتيګ وچ حګنکګلونه او بيګ ثمره ونيګ له منحګه يوسئ ريشيګ بيګ وباسئ، هغه مستان چيګ په تورتمخانو کيګ تؤلي هغه را ازاد کؤئ او کوم شګامار چيګ په کيګ ناست دی هغه تريګ رابهر کؤئ او بيا بيګ حلال کؤئ او وينه بيګ په ديګ دشګتو تويه کؤئ، حګکه طبيعت تاسو نه د شګامار قرباني غواؤي! مستانو د لاروي خبريګ د زؤه په غوإو واوريګديګ او د لومؤي حګل لپاره بيګ د خپليګ مستة په نشه کيګ يو نا اشنا مزه وموندله. دا د ازادة خوند او لذت و.

د مرکګي سيوری روان و، ژوندي سري ورپسيګ تلل. د شګار خلکو يو کالبوت پر اوإو ايشګی و، د خلکو سيوری تر دوی دمخه روان و، کله چيګ خلک هديريګ ته ورسيګدل نو ستر راهب د مؤي جنازه په أيګرو شګو الفاظو ترسره کؤه، بيا لاروی پاخګيګد او د مرکګ په باب بيګ وويل چيګ له مرکګ سره د نيګکة او بدةګ خګه پروا نه شته، دی له خيراو شره ماورا دی، مرکګ د شګو او بدو نيستي ده. لاروی خلکو ته وايي چيګ نيکي او بدي په ديګ جهان کيګ موندل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیگإي نو باید چیگ مکافات او مجازات هم همدلته وي. بیا د شګار خلکو ته خطاب کوي که تاسیګ مؤه نه یاست او د ژوندون خګه شوق درسره وي نو دا مؤی لإ خګه هیګر کؤئ او ژوندون پسیګ روان شئ، خو د شګار خلکو بیا هم لاروی چور لیګونی وباله او د ماشګام په خؤه کیګ د خپلو کورونو پر لوري روان شول، خو لاروی هلته یوازیګ پاتیګ و. خبریګ ییګ کولیګ، یوازیګ یو سپی هلته پاتیګ و او د ماشګام وإمیګ دا خبریګ د مشرق پر لوري وؤلیګ.

دا وخت د ؤندو شګار له خطر سره مخامخ و، خو لاروی د شګار تګولو خلکو پیګژندلو، حګینو لیګونی باله او بندي کول ییګ ضروري کګنګل خو حګینو نورو بیا ویل چیګ دا یو روحاني شخص دی او عادي شخص نه دی. یوه ورحګ لاروی د شګار په منحګ کیګ خلکو ته وینا کوي او د شګار تیګر برم یادوي او پوشګتنه کوي چیګ چا دا تباه کؤل؟ د شګار خندوقونو او دیګوالونو ته ضرورت نه شته، حګګه چیګ غلیم په بهر کیګ نه دی د شګار په داخل کیګ دی، دا پخوانی شګایسته شګار اوس په کنأوالو بدل شوی او شګامار په دغو کنأوالو کیګ پروت دی. بله ورحګ بیا شګاریانو ته خطاب کوي او وایي چیګ یو وخت د دیګ سیمیګ زمامداره د نوبهار الهه وه. هغیګ سره په دیګ شګار کیګ لویه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیگکمرغي او خوشالي وه، خو تاسو اوس هغه هیگره کؤیگ
او پـه اوهـامو اختـه شـوي یاست. ایـا تاسـو نـه کگـورئ چیـگ
حگوانـان، ماشـومان، شـگحگیگ او بوأاکگـان مـو پـه کومـو
رنحگو اخته دي؟ نو بیا ورته وایي چیگ غوإونـه مـو بیدار او
ستر ککیگ مو بینا کؤئ نو ددیگ عـلاج دادی چیـگ تاسـیگ
د لیلیـگ د پشـگو خـاورو تـه سر کشـگیگإدئ او سـجده ورتـه
وکؤئ، خو خلکلو به خندلیگ او ویل به ییگ دا سؤی رشگتیا
مجنون دی.

د زمانیگ یو دفتر په ختمیگدو و، یوه ورحگ بیا لاروي د
شگار منحگ کیگ خلکو تـه خطاب وکؤ او ورتـه ییـگ وویـل
چیـگ ستاسـو سـتر واکـدار بـادار خـو تـور شـگامار دی. دا
شـگامار وینـو تـه تـإی دی او زؤه ییـگ لکـه سـندان کلـک دی.
خگومره چیگ خوراک او خگشگاک کوي هغومره وإی او تـإی
کیگإي، خو دا بلا او شگامار ستاسو په خپلـه پـر حگـان مسـلط
کؤی او له بل حگایه نه دی راغلی، تر خگو چیگ دا شگامار پـه
خپلو زؤونو کیگ مؤ نه کؤئ خلاصیگدی ورخگخه نه شئ.

پـه دیـگ وخت کیـگ سـتر راهـب چیـگ د لاروي خبریـگ
واوریگـدیگ نـو ییـگ وویـل چیـگ دا سـؤی خـو رشـگتیا
لیگـونی دی حگکـه دا رازونـه خگوک ویـلای شي. زه حیـران یـم
چیگ ده دا رمز خگنکگه پیدا کؤی دی. راهب وویـل چیـگ دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبریگ ددیگ شگار د عالم نه دي دا د بل جهان اواز دی ، یوه دنیا په ۋنکگیگدو ده. د شگار خلک ورو ورو د مجنون په خبره پوهیگدل او یوه فرصت ته منتظر وو.

یوه ورحگ لیلیگ او مجنون د شگامار دربار ته لاۋل، همغه پیگغله چیگ د لاریگ پر سر به منکگي سره ناسته وه او تږو مسافرو ته به ییگ اوبه ورکولیگ، هغه د شگامار مانگة ته لاۋه، فرماندار لومړی خپل مخ مجنون ته واۋوه: زه خبر یم چیگ ته له بل حگایه راغلی ییگ او موإ پناه درکۋیگ ده،گ د دیگ شگار خلک خپلو عقایدو پریگشگودو ته رابولیگ او وایيگ چیگ د دیگ ككدايي ككریگ پیگغلیگ پرستش وكۋئ دا رشگتیا ده؟ لاروي ورته حگواب ورکۋ: ای فرمانداره ستا معبد لا نوی دی او دیگوالونه ییگ پاخه نه دي، ددیگ سیمیگ رشگتیني واکداره اصلاً د عشق او مینیگ الهه او رب النوع وو ، د هغو په واکمنة کیگ دلته خوشالي وه، مینه وه، خو اوس چیگ زه ككورم هره خوا ریككستان دی، د زۋه خونیگ ۋنکگیگ بنکگیگ دي او تور شگامار په کیگ ناست دی. زه اوس همدا حقیقت هر چاته بیانومه.

د واکدار وچولی تریو شو ، د غضب اور ییگ په سینه کیگ لمبه شو ، بیا ییگ وویل حگه پروا مه کۋه دا ییگ قدرته لیگونی دی. بیا ییگ لاروي ته وویل چیگ تا د شگار په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیګغلو کیګ دا سوالکګره خګنکګه غوره کؤیګ او زما د شګار خلک ییګ ولیګ سجدیګ ته رابولیګ، لاروی ورته وایي چیګ د شګار خلک خو د شګامار له وهمه أاریګإي که دا واهمه ختمه شي نو شګامار یو دم سقوط کوي. خو د بهار د رب النوع قوت په زؤونو کیګ پروت و. دا لیلیګ خو په یو وخت کیګ د نوبهار الهه وه او دا هغه وخت و چیګ واهمه پر خلکو حاکمه نه وه، کله چیګ خلکو د شګامار پرستش پیل کؤ، نو هغه بهر ته ووتله او د ورک مسافر لاره ییګ خګارله، خو دا مسافر اوس راستون شوی خو افسوس چیګ دلته سترکګیګ نا بینا دي او خګوک ییګ نه ویني. ای واکداره زه ستا په ویګره او أار کیګ ستا سقوط شګه وینم- شګه خبر شه، دا شور ما شور چیګ ته ییګ اوریګ دا به نور هم زیات شي. ستر واکمن چیګ دا خبریګ واوریګدیګ نو له مجنونه ورته أار پیدا شو. بیا ییګ په أیګر غضب پیګغلیګ ته غإ کؤ چیګ وایه ته خګوک ییګ؟ "زه خو زه یم! زه لیلیګ یم! زه د مینیګ رب النوع، الهه د نوبهار یم. "زه به له شګاره بهر هر ماشګام ناسته وم او د خپل مسافر لاره میګ خګارله. هغه زه پیګژندلم او لتګولم. خو خبر شه چیګ نور به کوم مسافر دلته سفر ونه کؤي، حګکه تګولیګ لاریګ بندیګ شوي او په حګوزانو پتګیګ شوي. خګو موده به تیګره نه وي ته به هم د خپل پلار نیکه په لار

(c) ketabton.com: The Digital Library

روان شیگ، زه به بیا د بهار لاره خگارمه. فرماندار چیگ دا کگفتار واوریگد، نو أیگر په غصه او په لؤزه شو. ده فکر کاوه چیگ دا خبریگ ییگ کوم چیگرته اوریگدلي دي. واکدار بیگریگ او واهمیگ واخیست او وییگ ویل دا خو دواؤه لیگوني دي. زه ویگریگإم چیگ د دوی لیگونتوب ساري نه وي او د شگار نورو خلکو ته انتقال نه شي او بیا ییگ فوراً لاروی او لیلیگ له خپل درباره وشؤل. فکر ییگ وکؤ که مؤه یا زنداني ییگ کؤي نو شگار کیگ به شورش جوؤ شي، پیگغله بیگرته له شگاره ووتله او لاروی د شگار په کنأوالو کیگ د عالم په تماشه شو، د ابدي خگرخ وخت راغی، مجنون د شگار په ویگرانه کیگ د جهان فرماندار په مانگة کیگ دحگان تماشا کوله. لاروي ولیدل چیگ د شگار پیگغلیگ، حگوانان او کوچنیان پر بیگلا بیگلو ناروغیو اخته دي او بیگ وخته مري، خو یو ازیگ راهب أیگر عمر وکؤ خو هغه هم بلاخره خپل روح خپل نا اشنا خگشگتن ته تسلیم کؤ، معبد ورو ورو شؤیگده حگکه بل شگامار پرست پاتیگ نه و.

د راهب شاکگردان هم چیگرته لریگ لاؤل، د مانگة په دیگوالونو کیگ لوی چاودونه پیدا شول، اغزن بوتگي شنه شول او په پای کیگ شگایسته قصر ویجاؤ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازیگ لاروی او فرماندار پاتیگ وو، لاروی په ویگرانه کیگ او فرماندار په خپله مانگة کیگ، هیگچا دلته کگذر نه کاوه حگکه تگولیگ لاریگ بندیگ ویگ، یو ماشگام چیگ توره تیاره شوه یوه زؤه، مرموزه بوأة راپیدا شوه د لوکگي کمیس او پرتوکگ بییگ پر تن و، بوأة شگار ته ننوته، بوأةگ ته هر خگه په خپل سر خلاص شول، دا بوأة لاروي سره اشنا وه او هغه پوهیگده چیگ دا د خگه لپاره راغلیگ ده، اوس په قصر کیگ دننه ده د بوأة او بادار په منحگ کیگ خگه خبریگ کیگإي. خگو شیگبیگ وروسته دواؤه د مانگة له کنأوالو راووتل، بوأة مخکیگ او قهرمان ییگ تر شا روان وو. کومیگ نامعلومیگ خواته لاؤل، خو مجنون هلته یوازیگ پاتیگ و، د زمانیگ دفتر ورته له اغازه تر انجامه پروت و. موسمونه او فصلونه تلل راتلل، یوه شپه ییگ کتل چیگ د افق په تورو لمنو کیگ رنگاکگانیگ راشگکاره شویگ، دی په رنگا پسیگ روان شو. أیگر مزل ییگ وکؤ د سیند غاؤیگ ته نإدیگ شو، د سیند غاؤیگ ابادیگ ویگ، هره خوا خوشالي وه، د پیگغلو او حگوانانو راز او نیاز وو، مشران په دیگره کیگ ناست وو، مرکیگ ویگ، مشوریگ ویگ، ماشومان د سیند پر غاؤه لوبیگدل او هغه نا اشنا پیگغله مسته خرامانه کگرحگیگدله، د وحشي کگلونو تاج ییگ پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر پروت و ، د بهار د وإميگ په شان الوتله، لاروي د نيمو شپو چيگ دا حال وليد بيگ اختيار ه په خندا شو حگكه پوه شو چيگ يو حگل بيا د ستر قهرمان او پهلوان او د عشق او مينيگ د شگكليگ رب النوعيگ، الهی داستان شروع شو او يو حگل بيا د تور شگامار مار لويه او اوإده افسانه له سره پيل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوشال د قصايدو روح

دا ليکنه له پېښوره خپرېدونکې د دانش خپرندويه ټولنې خپرنې ارګان الفت مجلې په پرله پسې (۲۲) ګڼه کې خپره شوې ده.

قصيده په پښتو نظم کې يو ځانګړی جلا فورم دی، چې اساساً له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلی دی، خو د قصيدې ځای په پښتو نظم کې دومره جوت او ټينګ دی، چې سړی فکر کوي بولله يا قصيده خپله کوم ځانګړی پښتو شعري فورم دی. له عربي ژبې څخه پښتو ته په راغليو شعري فورمونو کې تر (غزل) وروسته د قصيدې فورم زيات کارول کېږي، د پښتو په لاسته راغلې لرغونې شاعرۍ کې د ښکارندوی غوري او شيخ اسعد سوري پخې قصيدې ددې ادعا ښکارندوی دي. څه ناڅه په روښانې پېر او بيا تر هغه وروسته د پښتو په نوره کلاسيکه شاعرۍ کې د قصيدو دود ښه پالل شوی دی، په پښتو اوسنۍ معاصره شاعرۍ کې هم د قصيدې ويلو دود پال شوی او پالل کېږي؛ خو که موږ په ټوليز ډول د پښتو شاعرۍ ټول بهير ته نظر وکړو او ټول شاعران د قصايدو د څرنګوالي او څومره والي له پلوه سره پرتله کړو؛ نو د لوی خان (خوشال خان بابا) ځای او مقام به په کې په ډېر جوت او ځلند ډول را تر سترګو شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشال بابا په لسګونو قصيدې ليکلي، چې زياته برخه يې تر موږ رارسېدلې ده. دا ټولې قصيدې د يو ژور سياسي، ټولنيز، عرفاني، اخلاقي او ملي فکر لېږدوونکې دي، چې هره يوه ځانګړې او جلا خوند لري او زموږ په ذهن کې يوه ځانګړې پېښه او موضوع روزي او تداعي کوي، خو ټولې يې د قصيدې له معمول او دوديز تعريف سره پوره پوره سمون نه خوري. د قصيدې دوديز تعريف دا دی:

هغه نظم، چې لومړی بيت يې مقفی وي او د نورو بيتونو د هرې دويمې مصرې قافيه يې د مقفی بيت د قافيې تابع وي، د بيتونو شمېر يې له (۱۵) څخه پيل بيا تر (۲۰۰) بيتونو هم زياتېدی شي، رديف په کې اختياري دی، خو قافيه په کې حتمي ده. هره قصيده له معمول تعريف سره سم د مانا له پلوه پر دريو برخو وېشل کېږي:

۱- تشبيب يا تغزل، چې د قصيدې پيل ګڼل کېږي او معمولاً په کې تر اصلي مطلب دمخه د سريزې يا پيلامې په ډول د طبيعت د مناظرو ستاينه کېږي.

۲- اصلي مطلب، چې شاعر غواړي د خپل زړه خبره همدلته راوسپړي، خپل ممدوح توضيح، تشريح او توصيف کړي.

۳- د قصيدې(۳) برخه، هغه وروستۍ برخه ده، چې شاعر خپل ممدوح په ژوندانه کې سوکال، سرلوړی او بريمن غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په اخرت کې ورته د خدای(ج) له درباره د ښښنې، مغفرت او د جنتونو هیله کوي. که موږ د شیخ اسعد سوري:

د فلک لــه چارو څه وکړم کوکار
زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار

او هم د ښکارندوی غوري بو للـه:

د پسرلي ښکلوونکي بیا کړل سینګارونه
بـــیا ولـــونـــل پـــه غـرونـو کې لالونه

دواړو ته نظر وکړو؛ نو ګورو، چې لومړی د مانا له پلوه ویرنه او دویمه هم ستاینه-ویاړنه ده، چې دواړه د قصیدو له معمولو تعریفونو سره سمون لري، خو خوشال بابا لکه څرنګه چې غزل یې پښتون او ملتپال کړ او لـه دودیز حالتـه یې رااوویست، دغسې یې قصیدې تـه هم نوی رنګ او خوند ورکړ، د یوې ځانګړې پېښې یا شخص د تائید او توصیف له حالت نه یې رااوویست، ټولنیز، سیاسي او عرفاني یې کړ. د پخوانیو قصیدو یوه ځانګړنه دا وه، چې د ټولو یا زیاترو بیتونو مانا یې له یوه بل سره په ارتباط کې وه. د مانا له پلوه هر بیت له بل څخه متاثرو، یانې دا چې د غزل په شان یې هر بیت پوره او خپلواکه مانا نه لرله، خو خوشال بابا دا دود هم مات کړ، کله چې د خوشال بابا ګنې بوللې مطالعه کوو، نو د قصایدو د نوي رنګ او خوند ترڅنګ مو پرې د غزل مینه هم ماتېږي، سرې فکر کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو اوږد غزل لولي، ځکه چې دده قصيدې داسې ځانګړنه لري، لکه د غزل په شان، چې هر بيت يې يوه مستقله مانا ښندي.

اوس راځو د خوشال بابا د بوللو فکري يا مانيز اړخ ته:

شعر پوهان (فکر) د (شعر روح) ګڼي، چې بې له هغه شعر ژوند نه شي کولای، بې فکره شعر داسې دی، لکه بې روحه جسم او جسم، چې هر څومره ښکلی وي، چې روح ونه لري، ژوند نه شي کولای، خو د فکر تر څنګ شعر پوهان د شعر پر ښکلا هم ډېر ټينګار کوي او هغه د شعر د بقا اساسي عنصر بولي. د شعر ښکلا په رنګينو او لطيفو کلمو، تخيل، عواطفو او د هغو په منظم او موزون استعمال تضمينېږي او تامينېږي.

ډېر شعر پوهان پر شعر باندې د زيات فکر بارونه د شعر ښکلا ته زيان رسوونکي ګڼي او وايي، چې دا کار د شعر (شعريت) له منځه وړي او کله چې د يوه شعر شعريت له منځه لاړ، هغه خپل هنري ارزښت له لاسه ورکوي او او پر تشو خبرو بدلېږي.

د افغانستان د يوه ادبپوه او کره کتونکي کانديد اکاډيميسن محمد صديق روهي له نظره: په (شعر) کې (شعريت) دومره مهم دی، لکه په (سړي) کې (سړيتوب). لکه څنګه چې (سړيتوب) د سړي جوهر دی، دغسې (شعريت) هم د شعر جوهر دی، د روهي صاحب په نظر (د هر ښه فکر بيان شعر نه دی) د بېلګې په توګه هغه وايي: که يو څوک د هېواد پنځه کلن اقتصادي پلان په نظم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، نو ایا هغه به ښه شعر وي؟ سره له دې چې ښه فکر دی، د روهې صاحب د نظر وروستی نتیجه دا ده، چې هر ښه فکر باید شعر ته تر ورداخلېدو وارد مخه ښه صیقل شي، د شعر له نورو تلازماتو (ښکلا) سره غاړه غړی شي او بیا شعر ته ورداخل شي. لنډه دا چې پوهانو د شعر پر ښکلا ییزو او فکري خواوو دواړو باندې په متوازنه توګه ټینګار کړی دی.

خوشال بابا د یو ادبپوه او شاعر په توګه د شعر د رغنده توکونو انډول ته ډېره پاملرنه کړې ده، په تېره بیا په خپلو غزلو کې، سره له دې چې په بوللو کې د فکري برخې وزن تر ښکلا ییزې هغې یو څه زیات دی او یوه وجه یې هم کېدی شي دا وي، چې دا فورم د ښکلا په انډول د فکر د انتقال لپاره زیاته وړتیا لري.

د خوشال بابا په بوللو کې د طبیعي پېښو انعکاس، ټولنیزې ناخوالې، سیاسي او پوځي پېښې، ملي او عرفاني مسایل، ځاني او کورنۍ پېښې، ستونزې او کشمکشونه او نور په لسګونو ډوله پېښې او مسایل بیان شوي دي، خو که دا ټول مسایل او پېښې سره پرتله او انډول کړو، نو د خوشال د ملتپالنې احساس او فکر به په کې تر ټولو زیات په نظر راشي، په حقیقت کې همدا ملتپالنه او ملت جوړونه د خوشال د قصایدو اساسي روح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوشال په ټوله شاعرۍ، په تېره بیا په قصایدو کې ملتپالنه داسې حیثیت لري، لکه په (شمسي نظام) کې چې یې (لمر) لري. (لمر) د شمسي نظام چورلیز (محور) دی او ددې لمریز نظام نورې ټولې سیارې د همدې لمر پر محور راڅرخي، د خوشال په شاعرۍ او په همدې قصیدو کې هم، ملتپالنه او ملت جوړونه همدا حیثیت لري. د خوشال د قصایدو روح همدا ملتپالنه ده، خو نور ګڼ ټولنیز، عرفاني، اخلاقي او غنایي مسایل، چې په قصایدو کې راغلي بیا هم په یو نه یو ډول له ملتپالنې او ملت جوړونې سره ارتباط لري او پر همدې محور چورلي.

دلته به د خوشال بابا پر ځینو قصیدو او دهغو پر مانیزو خواوو لنډه رڼا واچوو:

د خوشال خان خټک په کلیاتو کې لومړۍ ثبت شوې قصیده داده:

ای چې خیال کړې په دنیا
دنیا څه ده بې وفا
که دې یو زمان زړه ښه کا
بیا دې ژر کا په ژړا
که رضا په قضا ورکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نـور خوشـال يـې پـه رښـتيا.

خوشال په دې (۱۲۳) بيتيزه قصيده کې دا نړۍ يوه فاني دنيا ګڼي، چې راحت په کې نه شته او د ده په نظر يوه ((دارالبلاد)) ده، چې هره يې د لايتناهي هوسونو يوه ټولګه ده، چې هېڅ خړوب او پوره کېدنه نه لري. خوشال په دې قصيده کې د سليمان(ع)، بهرام، جمشيد، سامانيانو، عباسيانو، غزنويانو، سلجوقيانو، دارا، سکندر او نورو نړيوالو شخصيتونو نومونه اخلي، چې يو وخت يې ښه شان او شوکت و، خو د زمانې د جبر قانون، له مخې لرې کړل. د خوشال دا قصيده له اخلاقي نصيحتونو او عرفاني ورمونو ډکه ده او په پای کې لوستونکي ته دا نتيجه ورکوي، چې ازل او تقدير ته ورتسليم شي او څه چې په قضا کې ليکل شوي، د بدلون وړ نه دي او نېکمرغه انسان هماغه دی، چې پر قضا باور لري. د (قضا) او (قدر) مسله په اسلامي فقه کې يوه پېچلې مسئله ده، خو خوشال بابا اسلامي شرعې ته د يو ژمن شخص په توګه پر دې باور دی او دده په نظر خوشال او نېکمرغه انسان هماغه دی، چې خپل برخليک له (قضا) سره تړلی وګڼي، پر (قضا) باور د انسان د روحي تسکين لپاره داسې يوه اساسي سرچينه ده، چې هېڅ بله مرجع يې بديل کېدلای نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشال د (پوه او ناپوه) ترنامه لاندې په خپله يوه بله اتلس بيتيزه قصيده کې، د پوهې او بصيرت ارزښتمندی ته اشاره کوي، پوه او ناپوه شخصيتونه سره پرتله کوي، خوشال په دې بولله کې لوستونکي ته دا ثمره او نتيجه وړاندې کوي، چې (ناپوهي) د انسان لپاره مړينه، ان تر هغې هم بدتره ده. دی په خپله قصيده کې په ډېر ظريفانه ډول د عيسی(ع) معجزې ته اشاره کوي، چې خدای(ج) عيسی(ع) ته دومره واک و ځواک ورکړی و، چې پخپله امسا به يې مړي راژوندي کول، خوشال بابا وايي، چې عيسی(ع) خو ډېر مړي راژوندي کړل، خو ددې مثال موږ نه دی ليدلی، چې کوم (ناپوه) يا نادان يې (عالم) کړی وي. په دې قصيده کې خوشال بابا په ټولنه کې د پوهې ضرورت او اهميت په ګوته کوي او دا ګڼي، چې پوهه ټولنې ته د نوش دارو يا ((آب حيات)) ارزښت لري او ناپوهي د مرګ معادله او يا هم تر هغه بدتره ده:

که دروغ کړي که رښتيا
هر څه ښه دي د دانا
مړه يې پاڅول له ګوره
نابينا يې کړل بينا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یــو نــادان یــې دانــا نــه کــړ
پــه درســت عمــر مســیحا.

لکه څنګه چې پوهېږو، انسان یو ټولنیز موجود دی او څه چې په ټولنه کې پېښېږي، له هغو څخه متاثر کېږي، شاعر بیا د یوه حساس انسان په توګه تر هر چا زیات د ټولنې ناخوالو ته متوجه وي او لـه هغـو څخـه اغېـزمن کېـږي. پـر (۱۰۹۷هــ ق) کـال د پښتونخوا پـر زیـاترو سیمو، یوه لویه وبا خوره شوه، لومړی وچکالي راغله، بیا ورپسې قحطي راغله، چې وروسته ورپسې د وبا ناروغي خوره شوه او په زرګونو خلک یې تباه کړل، په دې ناروغۍ کې د خوشال یو زوی (بخت ناک) او د هغه مور هم وفات شول او همدارنګه د خوشال یو لسمی، چې د قرآن کریم حافظ هم و، د دې ناروغۍ له کبله د یوه لېوني شوي سپي د داړلو له کبله ومړ، دا یوه ډېره دردونکې غمیزه وه، چې لـه دکنه تر کابله ټوله سیمه یې وځپله، خوشال بابا همدا پېښه پـه (۲۳) بیتیزه قصیده کې پـه ډېـر درد او سوز رانغـاړلې او پـه همدې قصیده کې یې خوندي کړې ده:

د غــــواص د کــــال وبــــا
خــدای یـــې مــه راولــه بیــا
اکوړخېـــل مـــې پـــه کـــې ومـــړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـــوی هلـــک مـــرد و نســـا
پـــه لکونـــو عـــالم ومـــړ
چـــې ښـــارونه شـــول صـــحرا
کـــال حصـــغ شـــو وبـــا لاړه
هـــم عســـرت کـــړه راتـــه شـــا.

(غواص) د ابجد په حساب (۱۰۹۷هـ ق) کال کېږي او (حصغ) (۱۰۹۸) کال کېږي، یانې دې وبا یو کال دوام کړی و.

خوشال د خپلو ګڼو نورو ځانګړنو ترڅنګ دا ځانګړنه هم لري، چې دی یو ښه بشرپوه او ټبرپوه هم و، انسان پېژندنه ډېره سخته ده، د انسان د پېژندنې لپاره د هغه علمي، ټولنيز چاپېريال شاليد ډېر مهم دی، خو خوشال بابا د دې ځانګړنو ترڅنګ د انسان د شخصيت په پېژندنه کې د هغه ارثيت يا اصل او کورنی عنصر ډېر مهم ګڼي، سره له دې چې ځينې بشرپوهان د انسان په وده او د شخصيت په ټاکنه کې محيط يا چاپېريال اساسي عنصر ګڼي، ارثيت ته ډېر اهميت نه ورکوي، خو ځينې اروا پوهان بيا په دې نظر دي، چې د انسان د شخصيت وده د مور په رحم کې د هغه د نطفې له تشکل سره سمه پيلېږي او د مور او پلار جنټيک، اروايي او نور ټولنيز خصوصيتونه مستقيماً د هغوی اولادونو ته انتقالېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشال بابا وايي: د هغه چا چې ذات خطا وي يا کمذات وي، له هغوی سره باید دوستي ونه شي.

چې يو ځل ښېګڼه ووينې له چا
په يوه يې شل بدې کړه تر شا
له کمذات سره ياري اشنايي مه کړه
له کمذاته به بيا نه مومي وفا
چې د سپي په پيو لوی کا څوک ورغومی
لکه سپی هسې ورغومی کا غپا
په ويل ښېيل به هېڅکله ښه نه شي
چې بدبخت له موره پلاره شي پيدا.

خوشال په خپلو قصايدو کې د انسان پر ذاتي پېژندنې سربېره، ګڼو عرفاني، شرعي او نورو مسايلو ته اشاره کړې او هغه يې په خپلو بوللو کې رانغاړلي دي، خوشال د دنيا بې وفايي په خپلو قصيدو کې ځای ځای غندلې ده:

زړه سفر له دې دنيا
په تحقيق دی په رښتيا
که څه زر کاله پايېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـــم دې نـــه ویـــنم احیـــا
د خوشـال ژونـدون پـه خـدای دی
نـــه شــــهباز ده نـــه یحیـــا.

خوشال د اسلامي شرعي لارښوونو د یوه پلوي شخص په توګه خپل مذهبي احساسات په ځرګندو الفاظو، قصایدو ته ورداخل کړي دي، وايي:

دا همـــه واړه د شـــرعې خـــد متګار دي
محتســب، قاضـي، مفتـي، مـلا خطیـب
پـه جهـان کـې بـل رقیـب د شـرعې نـه شـته
کـه رقیـب دی یـو شـیطان یـې دی رقیـب
رنـــځ، زحمـــت دې خـــدای ور نـــه کانـــدي
خوشــــــــــــــــــــــــاله!
ګڼـه کـــړه دارو د شـــرعې پـــه طبیـــب.

خوشال د اسلامي شرعې ترڅنګ ګڼ نور نصیحتونه او پندونه هم په خپلو قصیدو کې ځای کړي او د پیغمبر حضرت محمد(ص) په ستاینه کې یې هم یوه (۱۹) بیتیزه قصیده ویلې ده. هغه د خپلو نصیحتونو په لړ کې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

درته وښيم کيميا د سعادت
له بدانو سره مه کوه صحبت
د نمانځه تر قضا ګرانه دا قضا ده
چې قضا شي د څلورو مصلحت
چې جامه يې پاتې نه شي مرده شوی ته
خدايه! ورکړې و خوشال هسې رحلت.

خان زموږ د پيغمبر حضرت محمد (ص) د ستاينې په باب وايي:

د خدای عرفان چې وشو په عرفان د محمد
پاک دی محمد پاک دی سبحان د محمد
ډېر خلک پيدا دي انبيا که اوليا دي
نه شته په خلقت کې په بل شان د محمد
دا جهان هغه جهان که واړه سره يو کړې
لا تر دا نه لوی دی بل جهان د محمد.

د خوشال په بوللو کې د ګڼو افاقي مفاهيمو تر څنګ له خپلو زمانو بېزاري، ګڼ کورني مسايل، د ځان پېژندګلوي او ځينې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور ذاتي مسايل هم ځای شوي دي، خو د خوشال د قصايدو درنه مانيزه برخه هماغه د ده او دده د ملګرو د سياسي، پوځي او ملي مبارزو نچوړ دی، چې ښېلا ښېلو قصيدو ته يې لاره پيدا کړې او په هغو کې انځور شوي دي.

ددې قصيدو له جملې څخه يوه هم (له پښتون نه ګيله) نومېږي، چې ټول (شپږ څلوېښت) بيته لري او په دې مطلع پيلېږي:

بيا له کومه راپيدا شو دا بهار
چې په هر لوري يې ملک کړ يو ګلزار

دا قصيده د دوديزو قصيدو په شان لومړی د طبيعت په ستاينه پيلېږي، بيا وروسته اصلي موضوعګانې راسپړي او د هغو څرګندونه کوي:

پښتنو زلميو بيا لاسونه سره کړل
لکه باز منګولې سرې کا په خپل ښکار
سپينې توري يې ګلګونې کړې په وينو
په اهار کې شګفته شو لاله زار
ايمل خان دريا خان دواړه مرګ يې مه وای
هېڅ تقصير دواړو، ونه کړ وار په وار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خیبــر دره یــې ســره کړلــه پــه وینــو
پــه کړپــه یــې هــم روان کــړ دنــدو کــار.

خوشال په دې قصیده کې د خیبر په دره کې د تاترې د تاریخي جګړې، چې ځلو ښت زره مغول په کې تباه شول، انځور کښلی او همدارنګه د (کړپې) جګړه، چې پښتنو توریالیو په کې خپله اتلولي او مېړانه څرګنده کړه. دغه راز په دې قصیده کې د تاترې پر جنګ سربېره، د (دوابه)، (د نوښار د کوټ)، (ګنداب)، (خاپښ) او نورو جنګونو یادونه شوې او د هغو د اتلانو یادون په کې راغلی دی، دا قصیده په حقیقت کې یوه حماسه او ویاړنه ده، چې خوشال پکې د خپل ولس او خپلو اتلانو د جنګونو یادونه او ستاینه کوي او ددې ستاینو ترڅنګ د پښتنو ځینو نیمګړتیاوو ته د انتقاد په سترګه ګوري او د هغوی یادونه کوي:

اول جنــګ د لــوړې شــا د تهتــرو و
چې ځلو ښت زره مغول شول تار په تار
خوینــدې لونــه یــې پــه بنــد د پښــتنو شــوې
اس او ښــان هاتیــان ولجــه کتــار کتــار
دویــم جنــګ میرحســیني و پــه دو آب کــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې یې وتښتېده سر لکه د مار
بیا له پسه د نوښار کوټ جنګ و
چې مې وکېښ تر مغولو خپل خمار
بیا له پسه جسونت سنګه، شجاعت خان و
چې ایمل یې په ګنداب ویوست د مار
شپږم جنګ مکرم خان شمشېر خان دواړه
چې ایمل کړل په خاپښ کې تار په تار
چې زما په یاد دي لوی جنګونه دادي
د هلکو په هر لوري نه شته شمار.

په دې قصیده کې خوشال د پښتنو د اتلولیو تر څنګ د اورنګزېب د مکر و فریب، ظلم او ستم انځور هم کښلی دی او وایي، چې له ډېر ظلم، ستم او خصومت څخه یې خپل پلار هم بندي کړی و. خوشال خان په دې قصیده کې د پښتنو نیمګړتیاوو ته هم ګوته نیسي او د خلاصون لارې چارې هم په ګوته کوي:

په داهسې وخت چې وخت د نام و ننګ دی
دا بې ننګه پښتانه کا څه رفتار

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتانه چې نور څه فکر کا ناپوه دي
بې د توري خلاصی نه شته په بل کار
تر مغولو پښتانه په توره ښه دي
که په پوهه پښتانه وای څه هوښیار
اولسونه چې سند وبله وکا
بادشاهان ورته سجود کاندي اختیار
همېشه به په جهان کې ژوندون نه وي
د خوشال خټک به پاتې شي یادګار.

خوشال د ټولنیزو او سیاسي مسایلو ترڅنګ د شعر په باب هم څو قصیدې لیکلې او دا چې شعر په کوم حالت کې و او کوم ته یې راورساوه، په دې باب یې ځرګندونې کړې. لومړۍ قصیده یې (۲۵) بیتونه لري او د ځینو مطرح شاعرانو او د هغو د ادبي موقف یادونه هم په کې شوې ده:

په پښتو شعر چې ما علم بلند کړ
د خبرو ملک مې فتح په سمند کړ
مدعي د توري شپې اور او رکي و
د سهیل غوندې مې ځان باندې ځرګند کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میرزا دېوان مې ومانده په ګوډي
مسخره مې ارزاني خپشکي زمند کړ
دروېزه مې له مخزنه سره ونغړ
پیر روښان مې یاوه ګوی سره مانند کړ
که دولت و، که واصل و، که دا نور وو
په خبرو مې د هر یوه ریشخند کړ
قتلمې مې ورته سازې کړې د قندو
د اوربشو په ډوډیو چې چا شخوند کړ
په تازه تازه مضمون د پښتو شعر
په معنی مې د شېراز او د خجند کړ.

خوشال د شعر په باب په خپله دویمه قصیده کې، چې (۱۳۸) بیتونه لري، نه یوازې په پښتو شعر کې د خپل دریغ او خدمت په باب خبرې کوي، بلکې د هغې بلې قصیدې په شان د نورو شاعرانو د موقف او د نورو ژبو د شاعرانو یادونه هم کوي، دغه راز خوشال په دې قصیده کې د شعر د ماهیت، تعریف او ارزښتمندۍ په باب هم خورا تفصیلي څرګندونې کړې دي او دا قصیده په حقیقت کې د شعر پوهنې په برخه کې خپله د یوه لوی شاعر یو ښه تېزس او لارښود ګڼل کېږي. د شعر په برخه کې دا قصیده ځکه زیات ارزښت لري، چې خپله د یوه لوی شاعر او

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه لوی ادبپوه او شعر پوه له خوا ليکل شوې او وړاندې شوې ده:

زه د شعر په کار هېڅ نه يم خوشال
ولې خدای مې کړ په غاړه دا مقال
نه په فکر نه په ذکر رابرسېر شي
ناګهان لکه اوره د پشکال
چې د شعر فکر ورشي په مجلس کې
نور عالم خلا هوس کا دی ملال
شعر کار د هر فاسق د فاجر نه دی
نه د هر يوه وړ سترګي د کنګال
د هغه شاعر دانې وشه په ژبه
چې د شعر دردانې پلوري په مال.

که مونږ د خوشال د قصيدو معنوي اړخونه تحليل او تجزيه کړو، نو دا خبره به راته لا ښه څرګنده شي، چې دا قصيدې په حقيقت کې د مانا (کانونه) دي، چې بېلابېل او رنګارنګ غمي په کې تر سترګو کېږي، د خوشال د قصايدو څېړنه خورا زيات کار، کتاب او کتابونه غواړي، پر يوه قصيده يې هم کېدی شي کتاب او کتابونه وليکل شي، خو که په لنډيز سره د خوشال د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قصیدو مانیزو خواوو ته اشاره کوو، نو ویلای شو چې په دې قصیدو کې عرفاني، ټولنیز، سیاسي، پوځي، ذاتي، اروايي، ديني او نور رنګارنګ مسایل تحلیل شوي او مطرح شوي او لوستونکي ته یوه مثبته نتیجه په مخ کې ایښودل شوې ده. د خوشال د قلم او فکر قوت او مهارت په دې کې دی، چې ډېره لویه موضوع یې په ډېرو لنډو او کمو الفاظو کې خلاصه کړې او لوستونکي ته یې وړاندې کړې ده، یانې دا چې د موضوع کوچ او غوړ یې لوستونکي ته وړاندې کړي دي. خوشال ته لوی رب داسې یو لوی او خارق العاده استعداد ورکړی و، چې ((بحر یې په کوزه کې را ایسارولای شو)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه

محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی پر ۱۳۴۲ل کال، د لغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ دنیا ته زیږېدلی دی. پر یوې روښنفکرې کورنۍ کې زیږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د الینګار ولسوالۍ د سلینګار په لومړني ښوونځي کې سرته رسولي دي، تر هغه وروسته کابل ته راغی او په خوشال خان لیسه کې شامل شو. پر ۱۳۶۲ل کال له نوموړې لیسې څخه په دویم نومره بریالی او پر ۱۳۶۷ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې محصل شو. پر ۱۳۷۰ل کال له نوموړې څانګې څخه اول نومره بریالی او پر همدې کال بېرته د پښتو څانګې د کدر غړی شو. پر ۱۳۸۵ل کال په نوموړې څانګه کې د ماسترۍ دوره پیل شوه، یون په ډېر ښه او بریالي ډول دا دوره پایته ورسوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد اسمعیل یون له ۱۳۷۰ ل کال څخه بیا تر ننه پورې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي تدریسي غړی او د(پوهندوی) علمي پوړۍ ته رسېدلی دی، پر استادۍ سربېره، استاد یون د ((کابل پوهنتون))، ((هیلې)) او((شمشاد))مجلو د چلوونکي دنده هم په ښه ډول ترسره کړې ده. په پېښور کې د چاپېدونکې ((معارف)) مجلې کتونکی غړی هم و. همدارنگه دیو شمېر نورو چاپي خپرونو همکار هم پاتې شوی دی.

استاد یون پر ۱۳۸۱ل کال، په جلال اباد کې بېړنۍ لویې جرگې ته د ختیزو ولایتونو د انتخاباتو د دفتر مشر شو، ددې جرگې لپاره تر ټاکنو وروسته د جرگې غړی، بیا د جرگې د غړو له خوا د بېړنۍ لویې جرگې دلومړي منشي په توگه انتخاب شو. استاد یون په دې جرگه کې تر خپل وروستي وسه خپل ملي او تاریخي مسولیت ادا کړ او د هېواد دښمنه عناصرو د توطیو مخه یې ونیوله.

تر دې جرگې وروسته، کله چې د افغانستان د اساسي قانون د تدوین بهیر پیل شو، نو استاد یون بیا ددې بهیر لپاره د ختیزو ولایتونو د دارالانشاد دفتر مشر وټاکل شو. په ختیزو ولایتونو کې د اساسي قانون د لویې جرگې لپاره انتخابات هم د همدې دفتر له خوا ترسره شول. استاد یون د اساسي قانون د تصویب په لویه جرگه کې د نوموړې جرگې د دارالانشا د غړي په توگه خپل فعال رول ادا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ. ټاکل شوې وه، استاد یون په ختیزو ولایتونو کې د افغانستان د جمهوري ریاست لپاره د عمومي ټاکنو د دفتر مسول شي، خو په کابل کې د لویو جنګسالارانو او ځینو تنظیمي مشرانو له خوا پر حکومت او ملګرو ملتونو د زیات فشار له امله له کاره ګوښه شو. ملګرو ملتونو (UNAMA) استاد یون ته وړاندیز وکړ، چې په کابل کې به تر دې لوړه دنده در وسپارو، خو استاد یون ونه منله او خپلې استادۍ ته یې دوام ورکړ.

درې کاله وروسته یې د ځینو ملګرو په زیات ټینګار او غوښتنه، د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا په دفتر کې د فرهنګي چارو د ریاست دنده ومنله او په کابل پوهنتون کې پر استادۍ سربېره لا تر اوسه دا دنده پر مخ وړي استاد یون پر ۱۳۸۵ل کال د افغانستان او پاکستان د امن ګډې جرګې لپاره د افغانستان له خوا د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یې هم په ښه ډول ترسره کړه.

استاد یون د خپلو اکیلکوال په توګه په تېرو شلو کلونو کې ګڼ شمېر فرهنګي او ټولنیز خدمتونه ترسره کړي، په ګڼو چاپي، رادیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د واقعیتونو او حقایقو د څرګندبیان له امله د خلکو په زړونو کې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي. د هغه ملي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګټــورو نظریــاتو تــه هــم غلــط رنــګ او تعبیــر ورکــوي، دا ډول اشـخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د استاد یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. زه دد ې شاهد یم، هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفـي غبرګونونـه دواړه راپـارولي دي، منفـي غبرګونونـه اکثـره وخـت د هغـو اشخاصـو او ډلـو لـه خـوا وي، چـې پـه تېـر کـړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبـت غبرګونونـه اکثـره د ولـس دمشـرانو، روښـنفکرانو او نـورو مخورو له خوا وي، خو استاد یون په دغسې سختو اغزنو او تنګو شـرایطو کـې بیـا هـم خپـل فرهنګي، سیاسي او ټولنیز کـار تـه دوام ورکوي.

دا اوسنی فرهنګي کار، چې تاسو یې اوس پـه مسلسـل ډول ګـورئ، دا د تېرو شلو کلونو کارونه دي، چې له تېر یو نیم کال راهیسې پرې په منظم ډول کار شوی، اوډل شوي او دادی ستاسو مخې ته ایښـودل کېږي، په داسې یو دولتي دفتر کې چې بوختیاوې په کې ډېرې وي، د منظم او ستر فرهنګي کار سرته رسول اسانه کـار نـه دی.استاد یون پر خپلو فرهنګي کارونو سربېره د ګڼو فرهنګي ټولنو د غړي، همکـار

(c) ketabton.com: The Digital Library

او موسس غړي په توګه هم خپل فرهنګي رول ادا کړی، په پېښور کې يې د دوو المان مېشتو فرهنګي ټولنو (دافغانستان د کلتوري ودې ټولنې) او (د پښتني فرهنګ د ودې پراختيا ټولنې) د همکار په توګه د بېلابېلو ليکوالو په لسګونو اثار، ايډيټ او چاپ کړي دي. دغه راز يې په سلګونو کورنيو مشاعرو، ادبي غونډو او سيمينارونو کې ونډه اخيستې ده، خپله يې هم په لسګونو مشاعرې، سيمينارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

سربېره پر دې، په يو زيات شمېر، ملي او نړيوالو کنفرانسونو کې يې په ښه ډول د خپل هېواد استازي کړې ده. دلته به يې د اثارو يادونه وکړو:

اثار

الف- پنځونې:

کتاب نوم	څرنګوالی	چاپکال
• مټکور	لومړی شعري ټولګه	دويم ۱۳۸۷
• په اورونو کې سندرې	دويمه شعري ټولګه	دويم ۱۳۸۷

ب- راټولونې:

• هيلې	ګډه شعري ټولګه	دويم ۱۳۸۷
• نيمګړي ارمانونه	د حيران شعري ټولګه	دويم ۱۳۸۷
• د لوونو فصل	ګډه شعري ټولګه	دويم ۱۳۸۷
• د نازو انا ياد	د سيمينار د ليکنو ټولګه	دويم ۱۳۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د استاد الفت نثري کليات   د استاد الفت نثرونه   دربیم ۱۳۸۷
- سیندونه هم مري   د اسحق ننګیال شعري منتخبات   دویم ۱۳۸۷

ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه
  دپوهنوال روستارتره کي اثر   دویم ۱۳۸۷
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه
  د نینسي دوپرې اثر   دویم ۱۳۸۷
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه
  د پوهنوال روستار تره کی اثر   دویم ۱۳۸۷

د- یونلیکنې:

- د اماراتو سفر   د اماراتو یونلیک   دویم ۱۳۸۷
- که یون دی یون دی   د اروپا یونلیک   لومړی ۱۳۸۷
- دپښتاګون ترڅنډو   د امریکا یونلیک   لومړی ۱۳۸۷

هـ- څېړنې او شننې:

- د محمدګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه   دویم ۱۳۸۷
- استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری   دویم ۱۳۸۷
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود   دویم ۱۳۸۷
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه   دویم ۱۳۸۷
- د پښتو شعر هندسي جوړښت   شپږم ۱۳۸۷
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل   دویم ۱۳۸۷
- ساینسي پرمختیاوې   دویم ۱۳۸۷
- بېړنۍ لویه جرګه ولسواکي او زورواکي   دویم ۱۳۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

- اندیال خوشال لومړی ۱۳۸۷
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې لومړی ۱۳۸۷
- کلتوري یون لومړی ۱۳۸۷
- فرهنګي فقر لومړی ۱۳۸۷
- مرکه او مرکې لومړی ۱۳۸۷
- خوشال په خپل ایډیال لومړی ۱۳۸۷
- د کتابونو په وړمو کې لومړی ۱۳۸۷
- افغانستان په سیاسي کړلیچ کې لومړی ۱۳۸۷
- پښتو لیکنی سمون لومړی ۱۳۸۷
- او سنۍ رسنۍ لومړی ۱۳۸۷
- که نړیوال ماته وخوري؟ لومړی ۱۳۸۷

خدای (ج) دې استاد یون ته ډېر عمر ورکړي او جرئت دې ورته هم تاند لري، الله(ج) دې دی له هر ډول بدو بلاوو وژغوري، په فرهنګي کارو زیار کې ورته د نور زغم او وسېلې هیله لرم.

په درناوي

وفاالرحمن وفا

کابل - افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

xošāl pə xpəl idyāl

(Khushal is his own Ideal)

By:
M. Ismael yoon

ISBN 978-9936-500-25-9
9 789936 500259 >

د خپرونو لړ: (۲٦)

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library